اسلامي امارت او روان جهادي بهير

پوښتنې او ځوابونه

ذبیح الله مجاهد

د اسلامي امارت وياند

اسلامي امارت او روان جهــادي بهــير

پوښتنې او ځوابونه

مولوي ذبيح الله مجاهد

(د اسلامي امارت وياند)

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب پېژندنه:

نــوم: اسلامي امارت او روان جهادي بهير، پوښتنې او ځوابونه

ليکـــوال: ذبيح الله مجاهد داسلامي امارت ويندوی

ډيزاين : حافظ محمد طيب

چاپ وار: لومړی

د چاپ تاريخ: ۱۳۹۸هـ ش/۱۴۴۱هـ ق

تيراژ: ۱۰۰۰

د خپرونو لړ: ۲۳

خپرونکی: ا.ا.ا. فرهنگي کمېسيون دتألیف او ترجمې اداره

إهداء

د اسلامي امارت مؤسس امير المؤمنين

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله

او شهيد امير المؤمنين

ملا اختر محمد منصور تقبله الله ته!

فهرست

پوښتنې او ځوابونه ۱
د لیکوال څو کرښې.. ۲
۱ـ د اسلامي امارت د تشکیلاتو اړوند ۶
۲ـ د اسلامي امارت د سیاسي فعالیت او مو قف په اړه ۱۸
۳ـ د راتلونکي نظام اړوند ۲۲
۴ـ د سولې او امن په اړه.. ۳۸
۵ـ د تعلیم او تربیې او مکاتبو په باره کې ٤۸
۶ـ د اسلامي امارت مطبوعاتي فعالیتونه او له رسنیو سره تعامل.. ۵۶
۷ـ د امریکایي اشغال د اهدافو په اړه.. ۷۲
۸ـ د مخالفینو د دعوت او تسلیمۍ اړوند ۷۸
۹ـ د کابل ادارې د عسکرو او نورو کارکونکو سره دچلند په اړه ۸۲
۱۰ـ د نظامي عملیاتو او بریدونو په اړه..۹۰
۱۱ـ د روان جهاد د تمویل په اړه:.. ۱۰۸
۱۲ـ د عام ولس سره د چلند په تړاو ۱۱۰
۱۳ـ د عامه تأسیساتو په باره کې د اسلامي امارت موقف: ۱۲۰
۱۴ـ د ښځو دحقونو په اړه د اسلامي امارت مؤقف.. ۱۲٤
۱۵ـ د ملکي تلفاتو په تړاو.. ۱۲۹

١٦ـ د بهرنيو مؤسساتو په تړاو ١٤٦
١٧ـ له انټرنټ څخه د استفادې په اړه ١٥٠
١٨ـ د انتخاباتو او رايو په اړه ١٥٣
١٩ـ د حزب اسلامي اړوند ١٥٦
٢٠ـ د پاکستان سره د اړيکو په تړاو ١٦٢
٢١ـ د ځو مختلفو موضوعاتو په اړه ١٧٤

پوښتنې او ځوابونه

د تألیف او ترجمې اداره وياړي چې د اسلامي امارت او روان جهادي بهير په اړه د خلکو د پوښتنو او داسلامي امارت دویاند، لیکوال، دیني عالم او سیاسي شخصیت محترم ذبیح الله مجاهد صاحب دځوابونو ټولګه چاپوي.

په دې کتاب کې داسلامي امارت دپالیسۍ، جهادي عملیاتو،خپلواکۍ، اسلامي نظام، تعلیمي او مطبوعاتي فعالیتونو، ارضي تمامیت او ټولنیزو چارو په اړه پوښتنې ځواب شوې.

د کتاب ژبه خوږه او روانه ده، له تکراري ځوابونو تر ممکنه حده ډډه شوې،ځوابونو کې ضروري تشریح او توضیح شوې او اضافي تفصیلات پکې نشته ،پوښتنې او ځوابونه په دري/فارسي او پښتو دواړو ژبو وړاندې شوي، کومې پوښتنې چې په پښتو ژبه شوې، ځواب يې په پښتو لیکل شوی او کومې پوښتنې چې په دري ژبه رالیږل شوې، په دري \فارسي ځواب شوې دي.

د تألیف او ژباړې ادارې څه موده وړاندې «اسلامي امارت موږ ته څه راکړي» او« پیشتازان کاروان جهاد» کتابونه چاپ او خپاره کړل او اوس ددوو کتابونو دترتیب او ډیزاین چارې روانې دي،ان شا ءالله په لنډه موده کې به بشپړ او چاپ ته وسپارل شي.

د افغانستان اسلامي امارت
فرهنګي کمېسیون
د ژباړې او تألیف اداره
جمادی الثاني/۱۴۴۱هـ ق/ دلو/۱۳۹۸هـ ش
فبروري/ ۲۰۲۰م

د لیکوال څوکرښې

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی امابعد:

د ۲۰۱۱م کال اخیرې میاشتې وې، د اسلامي امارت فرهنګي کمیسیون تصمیم ونیو چې د اسلامي امارت په ضد د پروپاګند په مقابل کې باید موږ د خلکو د سوالونو او هغوی ته د ځواب ورکولو لپاره په الاماره ویبپاڼه کې یوه داسې کړکۍ پرانیزو چې خلک په اسانۍ سره خپل سوالونه، اعتراضونه او شکایتونه ورته را ولیږي او بیا هغوی ته د قناعت وړ ځواب وویل شي.

د کمیسیون مشرتابه د الامارة سایټ تخنیکي مسئول (ډاکټرصاحب عبدالواحد ریان / میرویس) ته دنده وسپارله چې د اسلامي امارت په ویبپاڼه کې دپوښتنو او ځوابونو یوه کړکۍ پرانیزي. لږ موده وروسته په الاماره کې د سوالونو او ځوابونو کړکۍ پرانستل شوه، ما (ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویاند) ته وظیفه را کړل شوه چې د دغې کړکۍ له لارې د هیوادوالو سوالونو ته د اسلامي امارت د پالیسۍ په رڼا کې ځواب ووایم او دا لړۍ وچلوم.

د ۲۰۱۲م کال په پیل کې دا کار پیل شو، خلکو به د اسلامي امارت ویبپاڼې ته د ځانګړي ایمیل آدرس له لارې خپل سوالونه را لیږل چې بیا به مې د کاري طرزالعمل له مخې او د مصروفیاتو په نظر کې نیولو سره په اونۍ کې یوځل ځوابونه ورته ویلای شوای.

د پوښتنو او ځوابونو لړۍ روانه شوه، یو یو سوال ته به مې په لیکلې بڼه ځواب وایه، البته ځینې مکرر سوالونه، یا داسې سوالونه چې قومي یا مذهبي کرکې اوتعصبات

يې پارول هغه مو نه ځوابول، نور هغه سوالونه چې د اسلامي امارت د جهـادي جريـان، سياسي تګلارې، له خلکو سره د تعامل، ملکي تلفاتو او نوروتشويشونو اړونـد وو، هغـه ټول مو ځوابول.

دې لړۍ د ۲۰۱۲ م کال له پيل څخه د ۲۰۱۴ م کال تر ۹ مې مياشـتې پـورې دوام وکړ، وروسته بيا د اسـلامي امـارت ويبپاڼـه د دښـمن لخـوا تـر سـختو انټرنټـي بريـدونو لاندې راغله چې څو ځله خرابه شوه، د پاڼې سيستم به سره ګډوډ شو او هغه سلسـله بـه يې قطعه کړه، له بلې خوا د اسلامي امارت د ویاند په توګه زما مصروفيتونه هم ډېر شول نو مو دا سلسله متوقفـه کـړه او نيـږدې تـر دوه سـوه پـورې پوښـتې ځـواب شـوې چـې وروسته له غورچاڼ څخه مو دلته تاسو ته د يو کتاب په بڼه وړاندې کړې.

دا سوالونه د اسلامي امارت د سياسي تګلارې او رسمي پاليسۍ پـه چوکـاټ کـې ځواب شوي، هر يو ځـواب بـه وروسـته تـر ليکـل کيـدو د اسـلامي امـارت د فرهنګـي کميسيون د هغه وخت د رئيس محترم مولوي اميرخان متقـي صـاحب او بيـا وروسـته د فرهنګـي کميسـيون د هغـه وخـت مرسـتيال مـدبر شخصيت مرحـوم مولـوي صـاحب سيدمحمد حقاني رحمه الله تر نظره هم تيريدل او اړينه اصلاح به په کې کيدلـه، ترڅـو ځوابونه په ښه معيار، واقعبينانه شکل او د هيواد د عليا ګټو په نظر کې نيولو سره ځـواب شي، چې الحمدلله دا لړۍ تر پايه په همدې شکل وپالل شوه.

اوس مو د دې مجموعې د راټوليدو او چاپ تکل ځکه وکړ چې يوخـو پـه دې سلسله کې د اسلامي امارت د پاليسـۍ تـرجماني شـوې، ممکـن ډيـرو هغـو ځوانـانو او خلکوته د امريکايي اشغال په وړاندې د اسلامي امـارت او افغانـانو د جهـاد پـه اړه ښـه معلومات وړاندې کړي چې هغه مهال کشران وو او يا په هيواد کې نه وو، ځکه زمـوږ د جهادي جريان دښـمنان سـخته ډيـر وو، اکـثرو رسـنيو او مختلفـو جهتونـو د جهـاد پـه جريان باندې جرحې او سوالونه کـول، پـه وړو وړو خـبرو يـا پـه کـاذب ډول بـه يـې د اسلامي امارت د صف د بدنامولو هڅه کوله، پروپاګند به يې خپراوه او غير واقعي شيان

به يې په مجاهدينو پسې تړل، نو د دې لپاره چې ځوانان، يا راتلونکي نسلونه د جهادي جريان په اصلي حالت تر يوه بريده پـه واقعـي شـکل خـبر کـړل شي نـو دا سـوالونه او ځوابونه د يو کتاب په بڼه ترتيب شول.

پر دې سربيره دا کتاب کـولای شي د راتلونکـو مسـلمانو نسـلونو لپـاره د مبـارزې درس هم شي، ځکه مبارزه ډېر اړخونه احتوا کوي، تنها د دښمن پـه وړانـدې د ټوپـک چلولو موضوع نه ده، بلکې په ځـانګړي ډول زمـوږ پـه زمانـه کـې اسـلامي مبـارزه او د هيـواد د ازادۍ جهـاد ډېـره پراخـه سـاحه پـه بـر کـې نيسي- سياسي حالـت، ټـولنيزې غوښتنې، له خلکو سره د تعامل څرنګوالی، د جګړې د فعلي شکل او نوعيت لـه املـه د ملکي خلکو متضرر کيدل او د هغو مخنيوی، له مشکلاتو ډک جهادي جريـان کـې لـه نيرډې او ليرې هيوادونو سره د اړيکو څرنګوالی، د خپل ځان په مقابل کـې د دښـمنانو د کمولو پاليسي چې هدف ته لاره آسانه شي، د خپل صف وحدت سـاتل، مجاهـدينو ته انګيزه ورکول او د هغو د اعمالو او چلند څارنه، د مبـارزو ځوانـانو معلوماتوتـه ارتقـا ورکول دا ټول هغـه شـيان دي چې بايـد يـو اسـلامي غورځنـګ او جهـادي بهيـر يـې مراعات کړي.

که څوک دا کتاب په دقت سره ولولي وبه ګوري چې اسـلامي امـارت پـه خـورا سـختو شرائطـو کـې هـم د پورتـه ټولـو مـواردو پـه اړه مناسبې او معقـولې حـل لارې درلودلې، د خلکو اندېښنوته رسيدګي کيده او ترممکنه بريده له ټولو ظروفو څخه ګټه اخيستل کيده چې روان جهاد جاري وساتل شي، منفي ابعاد يې له منځه يوړل شي او د يو مسئول، پوه، بادرکه او بادرده اړخ په توګه خپل ملت ته جوابګو و اوسي.

له دې کتاب څخه د اسلامي امـارت د يرغـل ضـد جهـادي دور د يـوې کـوچنې هنداره او ريښتوني تصوير په توګه استفاده کيدلای شي.

په اسلامي نړۍ کـې لـه مـودو راهيسـې د دينـي علـماوو رهـبري د ډېـرو مغرضـو اړخونو لخوا تر سوال لاندې راتله، ګڼ اعتراضونه به دا کيدل چې ديني طبقه خصوصـا

ملایان نشي کولای سیاسي جریانات پـرمخ بـوځي، خـو دلتـه ښـکاري چـې الحمدللـه ديني علماوو هم سنګر کماحقه پاللی او هم يې د سياسـت پـه ميـدان کـې ښـه امتحـان ورکړی، له ګڼو استخباراتي هلو ځلو او مصارفو سره سره چې د دښمن لخـوا د اسـلامي امارت د صف په ضد او د دې صف د پاشل کيدو لپاره ترسره کيدل بيـا يـې هـم خپـل صف واحد وساته، خپل مسير يې بدل نه کړ، د ټولنې د هرې برخې لپاره يـې ځـانګړې توجه وکړه او د امکاناتو په تناسب يې د استکباري قوت امريکا، ناټو او ورسره اشغالګر ائتلاف چې شمير يې ۴۹ هيوادونو ته رسيده د هغو ټولو په مقابل کې يې په يـوه وخـت جهادي مبارزه وکړه او بريالي راووتل. الحمدلله والمنة

په کتاب کې د اکثرو ځوابونو په پای کې د ځواب ورکولـو تـاريخ ليکلـی شـوی، ترڅو روښانه شي چې ځواب د هغه وخت د شرائطـو اوحـالاتو پـه نظـر کـې نيولـو سره ورکړل شوی، اګرکه بيا به وروسته په ځينو شـيانو او معلومـاتو کـې تغيـرات راغـلي وي، مثلا تشکيلات به پراخ شوي وي، بيلابيـل نـور پرمختګونـه بـه شـوي وي، خـو دلتـه تـر ۲۰۱۴ پورې حالات په نظر کې نيول شوي دي.

له لوستونکو څخه هيله کيږي چې دا کتاب د اسلامي امارت په تګلارو باندې پـه ربښتوني ډول د ځان پوه کيدو په دود او هدف ولولي، تر څـو د اسـلامي امـارت پـه اړه سالم، منصفانه او په ربښتينو معلوماتو ولاړ قضاوت ته لاره هواره شي.

مور او د کتاب په چاپ او ترتيب کې راسره ټول ستړي شوي ورونـه، خصوصـا د فرهنګي کميسيون د تأليف او ترجمې څانګې مسئول ملګـري پـه خپلـو نيکـو دعاګـانو کې مه هيروئ. والسلام

مولوي ذبيح الله مجاهد د اسلامي امارت ويندوی

۱۴۴۱/۶/۱۴هـ ق

۱۳۹۸/۱۱/۱۹هـ ش ـ ۲۰۲۰/۲/۸م

۱ـ د اسلامي امارت د تشکیلاتو اړوند

پوښتنه: ښاغلی مجاهد صاحب السلام علیکم!

الله تعالي مو په دغه بیساري او تاریخي خدمت کي لا موفق ولره.

تاسو چې د هیوادوالو د سوالونو د ځوابولو کومه لړۍ پیل کړې، دا یو داسې کا میابه او تسلي بخشه سلسله ده چې د ډیرو افغانانو ذهنونه یې د اسلامي امارت او د طالبانواسلامي تحریک د اهدافو په اړه روښانه کړي، هیله ده چې دغه لړۍ همداسي جاري وساتئ، زه یو څو سوالونه لرم امید دی چې په ښه تفصیل یې را ته ځواب کړئ:

۱ - پوښتنه: ستاسو په سایټ کې موږ هره میاشت د ارشاد او دعوت او جلب او جذب کمیسیون راپورونه گورو چې په هغه کې د کرزي د اداري د ملکي او نظامي برخو څخه سلگونه افغانان را جلا شوي، یا په کور کېنستلي او یا هم د امارت د مجاهدینو سره د ریدلي، ځینو اسلحې را وړې او ځیني نور بیا بې اسلحو د امارت مجاهدینو ته تسلیم شوي، زه غواړم چې په دې پوه شم چې د دغه کسانو د پاره چې د مخالفته لاس اخلي څه ډول اصول دي څو نور لوستو نکي هم په دې اړه معلومات تر لاسه کړي؟

ځواب: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

له تاسو نه هم مننه کوم چې زموږ دا لړۍ تعقیبوئ او زه مو لا هم تشویق کړم، ستاسو د پوښتنې په اړه باید یادونه وکړم چې د اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله وپتیله چې د خپل هغه ولس لپاره چې د دښمن لخوا د پیسو، وعدو او نورو شیانو په بدل کې غولول شوي، د خپل دین، ولس، ارزښتونو، ملي گټو او هیواد په ضد یې د دښمن طرف نیولی، له یرغلگرو نه یې حمایت کړی او د

مجاهدینو په ضد جنګول کیږي، د اتمام حجت په توګه او د خپل اسلامي مکلفیت له مخې هغو ته مخکې له دې چې په وړاندې یې مسلحانه اقدام کیږي، باید لومړی دعوت کړل شي، ګوندې وي چې الله تعالي یې هدایت په نصیب کړي، له مرګه وژغول شي، د دښمن د ګټو لپاره له هلاکته بچ کړل شي او په اخر کې د الهي اخروي عذابه وساتل شي نو یې د دعوت لپاره یو ځانګړی باصلاحیته کمیسیون د ارشاد او دعوت، جلب او جذب د کمیسیون په نامه تأسیس کړ چې لله الحمد نوموړي کمیسیون په ډیره لږه موده کې وکړای شول ډیر مزل وکړي، له ګڼو هغو هیوادوالو سره یې چې په مخالف جهت کې ولاړ وو تماسونه ونیول، تشویق یې کړل چې له خپلو دندو لاس په سر شي او د دښمن صف پریږدي، خپل ژوند، خپل راتلونکی او خپل اهل او عیال له مصیبتونو او بدنامۍ څخه وژغوري، چې همداسې وشول، د دغه کمیسیون په کمه کاري موده کې د توقع خلاف په زرګونو کسان د هیواد په بیلابیلو برخو کې د حقایقو په درک سره د دښمن له صفه ووتل، یا یي عادي ژوند غوره کړ او یا هم عملا د جهاد صف کې ودریدل، ډیرې وسلې له همدې درکه مجاهدینو ته مهیا شوې اوهمدا راز د دښمن صف ورسره کمزوری شو، په منځ کې یي بې اعتمادي خپره شوه او د نورو هغوکسانو اراده هم ورسره ماته شوه چې لاهم د دښمن په صف کې ولاړ دي، د ارشاد او دعوت، جلب او جذب کمیسیون ډیرمنظم کاري پرسونل لري، د خپلو کړونو لپاره یې خورا ارزښتمنه لائحه او طرز العمل جوړ کړی، دزکار اصول یي له شریعت محمدي صلي الله علیه وسلم سره مطابق دزعطوفت، نرمۍ، بیا بیا ټینګار او نه ستړیکیدونکو هلو ځلو نه ډک دي، د ټول هیواد د ولایاتو او ولسوالیو په سطحه یې علماء کرام، پوهان، قومي مخور او با وجاهته اشخاص په کار ګمارلي، له خلکو سره یې د لیدوکتو طریقه خورا اسانه ده، هرځای ته چې امید د دې وي چې یو چاته به دعوت ورکړل شي ځان رسوي، په دې لاره کې سختي، خطرونه او تکالیف ګالي او دالړی د ټولو د طمعې خلاف په ډیره چټکۍ سره روانه ده، چې صرف د روان کال د جون په میاشت کې یې د هلو ځلو په نتیجه کې (۴۷۹) کسان د دښمن له صفه را

ایستلي، په حقیقت یي پوه کړي او نجات یي ورکړی، نور هم ډیر امید شته چې په راتلونکي کې به ډیری هغه افغان ورونه چې الله تعالي یي هدایت په نصیب کړی وي او د خیر اینده یې ورته به برخه کړې وي، د همدې کمیسیون د کار او دعوت په نتیجه کې به د دښمن صف پریږدي او له خپلو مجاهدینو ورونو سره به یوځای کیږي، د هغو کسانو لپاره چې غواړي د دښمن صف پریږي، د مجاهدینو لخوا د ژوند کولو اطمنان ترلاسه کړي او یا د خپل دیني مکلفیت له مخې په جهادي بهیرکې ونډه واخلي، د هغو لپاره ډیر اسانه ده چې زموږ د دعوت کمیسیون سره تماس ونیسي- په ولایاتو او ولسوالیو حتی په اکثروکلیو کې چې د هر مجاهد سره تماس ونیول شي هغوی د دعوت او ارشاد کمیسیون غړي ورته پیداکولای شي او په ازاده او له مهربانۍ نه ډکه فضاکې کولای شي خپله اندیښنه رفع کړي، خپل شک وباسي او د خپل ژوند، مال او کورنۍ د امن او امان لپاره وعده ترلاسه کړي، حتی په دې برخه کې ټولو ډلګۍ مشرانو ته د دعو ت او ارشاد کمیسیون اصول بیان شوي او ور ښودل شوي، نو د هرې ډلګۍ له مجاهدینو سره چې تماس و نیسي هدف ته رسیږي، وروسته به بیا په خپل اختیار عادي او بې خطره ژوند غوره کړي او یابه هم د لزوم دید سره سم د مجاهدینو سره د همکار په توګه خپل مکلفیت ادا کړي، کوم اجبار او اکراه به وربانديې نه وي، بلکې صرف د ښو اخلاقو، نرمې لهجې او عطوفت د لارې به ورسره برخورد کیږي، الله تعالی دې د دې کمیسیون د مشرتابه او ټولو غړو په هلوځلو، عمرونو او کارونو کې لاهم برکت واچوي. مننه

۲- پوښتنه: موږ لوستو نکي دامارت په سایټ کي د امارت په تشکیل کې د بیلابیلو کمیسیونو، نومونه ګورو چې الاماره سایټ یې د مسؤلینو سره مرکې کړې وي، یا یې اړوند خبرونه نشر شوي وي، که د اسلامي امارت د تشکیلاتو په اړه را ته معلو مات راکړئ او همدا را ته رو ښانه کړئ چې دغه کمیسیونونه لا ئحې اوطرز العملونه لري که څنګه؟

ځواب: بیا هم مننه خورا ښه پوښتنه مو مطرح کړه، هو د اسلامي امارت تشکلات د یوه جوړ او با کفایته نظام نمایندګي کوي، په دې اړه لږ څه تفصیل ته اړتیا ده چې په لاندې توګه تاسو ته وړاندې کیږي:

د اسلامي امارت زعامت خو ټولوته معلوم دی، عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد چې د هیواد د ۱۵۰۰ یونیم زرو جیدو علماء کرامو او ګڼو جهادي قوماندانانو او قومي مشرانو لخوا د افغانستان لپاره زعیم او امیر ټاکل شوی، د نظام (امارت) په رأس کې قرار لري، جناب امیر المؤمنین په موجوده سختو امنیتي شرائطوکې په پوره میړانه، تدبیر او درایت سره مجاهدین په یوه صف کې ساتلي، په امارت کې یې د یو ښه نظام او چوکاټ په برکت د هرډول خپل سریو، ځان ځانیو او تفرقو مخه نیولې او په دې اړه یې د دښمن ټولې شومې هڅې له ناکامۍ سره مخ کړې دي، په ټول هیواد کې یې د جهاد پراخ صف په یوه نظم اونسق کې ساتلی او دا دومره لوی صف یې لکه په یوه کورکې د ژوندکونکو په څیر یوله بله سره همکار کړی او ټول مجاهد افغانان یې په ځان او امارت را ټول کړي دي چې واقعا دا یو کرامت دی او خورا یوه مدبره او مثالي رهبري ده.

د امنیتي ملحوظاتو په وجه د اسلامي امارت د زعیم نه رالاندې د هغه د نائب مقام دی چې په روزمره شکل د مجاهدینو ټول کمیسیونونه اداره کوي، جهادي بهیر څاري او د پریکړو اوتصامیمو لپاره له امیرالمؤمنین نه احکام اخلي او د اجراتو له کولو وروسته د خپل کار ټول جریان امیرالمؤمنین ته په تفصیلي شکل رسوي، د نائب د مقام نه را کښته لاندې کمیسیونونه په خپلو خپلو برخوکې جهادي امور په مخ وړي او خپل کاري ګزارشات د نائب مقام ته رسوي د هغه په واسطه له امیرالمؤمنین نه احکام اخلي او تصامیم نیسي.

همدا رنگه د اسلامي امارت رهبري شورا ده چې په مستقل ډول فعالیت کوي او خپل ورځني کارونه پرمخ وړي او د اسلامي امارت د اوسنيو تشکيلاتو تفصيل په لاندې ډول دی:

١ـ رهبري شورا

٢ـ محکمه

٣ـ نظامي کميسيون

۴ـ اقتصادي کميسيون

۵ـ سياسي کميسيون

٦ـ فرهنگي کميسيون

٧ـ د دعوت، ارشاد، جلب او جذب کميسيون

٨ـ د تعليم او تربيې کميسيون

٩ـ د مؤسساتو کميسيون

١٠ـ د صحت کميسيون

١١ـ د بنديانو کميسيون

تفصيل:

ـ رهبري شورى:

رهبري شورا د اسلامي امارت لوړ مشورتي ارگان دی چې د اړتيا په صورت کې د امارت مقام ته مشورې ورکوي، او لوی هيوادني مسائل، سياسي وضعيت، نظامي وضعيت، اقتصادي وضيعت او په ټوله کې د هيواد او اسلام په اړه لوړمسائل تر بحث لاندې نيسي او دامارت مقام ته لازمې مشورې ورکوي.

ــ محکمه:

د محکمې مقام خورا باصلاحيته مقام دی چې کاملا آزاد او خپلواک دی، له اميره رانيولې تر کوچني مجاهده او بيا له عامو هيوادوالو را نيولې تر هغو افغانانو چې د دښمن په صف کې هم ولاړدي د ټولو په وړاندې په بې پرې شکل قضاوت کوي او د ټولو ولاياتو او ولسواليو په سطحه د درې گونو محاکمو لپاره خپل تشکيلات لري او په ډيره کمه موده کې د شريعت مطابق پريکړې کوي، د خلکو ترمنځ منازعات بې له کوم تکليف او وخت نيولونه حل اوفصل کوي، محاکم درې پړاوه لري ابتدأيه محکمه، مرافعه او تميز چې ټول يې په ښه ډول فعاليت کوي او د هيواد جيد علماء کرام يې په رأس کې قرار لري.

ــ نظامي کميسيون:

نظامي کميسيون په هيوادکې د ټولو ولاياتو د واليانواومجاهدينو د فعاليتونوکاري جريان تعقيبوي، د هغو اکمالاتو او ضرورتونو ته رسيدگي کوي، واليان د ولسوالانو د کار جريان څاري، ولسوالان بيا د ټولو هغو جهادي گروپونو او ډلگيو په رأس کې قرار لري چې د هيواد په بيلابيلو سيمو او ولسواليو کې جهاد کوي، د هغو اکمالات، عمليات، تاکتيکونه او ټول کاري- جهادي جريان څاري بيا واليانوته راپور ورکوي، واليان راپور بيرته نظامي کميسيون ته محول کوي او نظامي کميسيون يې نائب او هغه يې اميرالمؤمنين ته وړاندې کوي او په مراتبو يو بل ته مسئوليت هم لري.

د نظامي کميسيون په چوکاټ کې د ملکي تلفاتو د مخنيوي اداره هم فعاليت لري چې په ټول هيوادکې مجاهدينوته د ملکي خلکو د سر او مال د ساتنې په اړه لارښوونې او معلومات ورکوي، د ملکي تلفاتو د پيښيدو په صورت کې قضيه څاري او په اړه يې لازم تصميم نيسي، که څوک د مجازات او محاکمې وړ و، هغه محکمې ته معرفي کوي او د ملکي تلفاتو له مواردو سره له نيږدې تماس نيسي- د هغو سره غم شريکي کوي، تسلي ورکوي او د لزوم په صورت کې ورسره مرسته کوي. (دا هغه مهال

وو چې د ملکي تلفاتو کميسيون د نظامي کميسيون په چوکاټ کې يوه اداره وه، وروسته بيا جلا او مستقل کميسيون شو.)

په ټوليزه توګه نظامي کميسيون ځانګړې لائحه او کاري طرزالعمل لري چې د هغې په دننه کې خپل اجرأت کوي او د ولاياتو لپاره يې په ولايتي سطحه او بيا د ولسواليو لپاره يې د ولسوالۍ په سطحه ځانګړي نور کميسيونونه توظيف کړي، د ولاياتو د کميسيونونو او د ولسواليو د کميسيونو لپاره يې هم غړي او اعضا ټاکلي او ځانګړی کاري طرزالعمل لري، نظامي کميسيون په خپل چوکاټ کې دننه د فدايي مجاهدينو ځانګړي محاذونه لري چې د هغو کنټرول او څارنه اود هغو لپاره د اهدافو ټاکل هم د نظامي کميسيون دنده ده.

ـ اقتصادي کميسيون:

اقتصادي کميسيون د اسلامي امارت يواځنۍ مالي سرچينه ده، اقتصادي کميسيون د خپل کار لپاره ځانګړې لائحه لري او خپل فوق العاده فعال کاري پرسونل لري چې د هيواد او له هيواده بهر د مسلمانانو مرستې او کومکونه را جلبوي او د امارت د مشرتابه له حکم سره سم يې مصرفوي، د مصرف جريان يې څاري او په اړه يې راپور تهيه کوي او د نائب مقام ته يې وړاندې کوي، د اقتصادي کميسيون د نظم او نسق له برکته داسلامي امارت په ټول مالي سيستم کې هيڅ ډول درغلي کول امکان نه لري او د يوې افغانۍ په مصرف هم د امارت مشرتابه ته احوال ورکول کيږي او د يوې افغانۍ په ترلاسه کولو هم مشرتابه خبريږي. (وروسته بيا د کاري ازدحام له امله اقتصادي کميسيون جلا او مالي اداره جلا شوه، مالي ادارې د معاشاتو او مصارفو د ورکړې او بيرته حساب اخيستلو دنده لرله، اقتصادي کميسيون د امارت عوائد را ټول)

ـ سياسي کميسيون:

سياسي کميسيون د سياسي مسائلو په اړه مسئوليت لري او د مشرتابه له احکامو سره سم خپل سياسي فعاليت پرمخ وړي، سياسي کميسيون د اسلامي امارت د فعال

سياسي جهت په توګه پېژندل کيږي، هرډول سياسي تصاميم نيسي، د سياسي فعاليت په اړه مشرتابه ته راپور ورکوي، د سياسي پرمختګ او هلوځلو په اړه لازم احکام اخلي او د تطبيق لپاره يي ټولې سياسي او لازمې لارې چارې سنجوي، د امارت له مشرتابه نه د احکامو د اخيستلو وروسته خپل اجرأت کوي او خپل کاري رپوټ د امارت مشرتابه ته وړاندې کوي. (چې وروسته د اسلامي امارت په ساسي دفتر هم مسمی شو او اکثره غړي يې په قطر هيواد کې په رسمي ډول اوسيږي.)

ــ فرهنګي کميسيون:

فرهنګي کميسيون په فرهنګي، مطبوعاتي او خبري برخه کې د اسلامي امارت نماينده ګي کوي، دغه کميسيون په خپل کاري چوکاټ کې انلاين، چاپي، ژوندۍ، تصويري، او صوتي خپروني لري، د انټرنيټ په مټ د اسلامي امارت ٦ويب پاڼې چلوي، د اسلامي امارت شپږ مجلې (ځرک، شهامت، مورچل، حقيقت، الصمود او شريعت) چاپوي، د دريو سټوډيوګانو: (الاماره، منبع الجهاد او الهجرة) له لارې جهادي او اسلامي فلمونه په پنځو ژبوکې خپروي، د هيوادوالولپاره جهادي او حماسي تراني او نعتونه وړاندي کوي، د شعر او ادب، تأليف او ترجمې په برخو کې هم فعاليتونه لري چې خورا مؤثراو مثمر دي، همداراز داسلامي امارت دويندويانو تمويل او پالنه هم د همدې کميسيون د کار مهمه برخه ده.

له دې نه علاوه داسلامي امارت رسمي اعلاميې، تبصرې، څرګندوني او بيانونه خپروي، لازم توکي، کتابونه، لائحې او جنترۍ چاپ او توزيع کوي، په ټوله کې په مطبوعاتي ډګرکې د اسلامي امارت خورا مؤثر او با جرئته استازيتوب کوي.

ــــ د دعوت اوارشاد، جلب او جذب کميسيون:

دارشاد او دعوت، جلب او جذب کميسيون لکه چې مخکې يي يادونه وشوه په هيوادکې د روان جهادي بهيرترڅنګ دعوتي پروسه پرمخ وړي، د عام ولس د اذهانود

تنویر، د مجاهدینو د دیني او اخلاقي روزنې او د مقابل جانب د هغو اشخاصو د نجات اودعوت لپاره جوړه شوی چې غواړي له خپلو کړنو لاس په سر شي، د اسلام او هیواد ګټوته ژمن شي او د اشغالګرو له ملاتړ او همکارۍ نه لاس واخلي، دغه کمیسیون ځانګړې دعوتي لائحه لري اوتراوسه پورې یې خورا لوی پرمختګونه درلودلي دي چې د هیواد په لر او برکې د ډیرو افغانانو د نجات او ښیرازۍ سبب شوي او مسؤلین یې لاهم خپلو فعالیتونو ته په پوره اخلاص متوجه دی، الله تعالی دې لوي اجرونه او عوضونه ورته نصیب کړي او الله تعالی دې لا هم په کارونو کې برکت او خیر واچوي.

ــ د تعلیم او تربې کمیسیون:

د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې د تعلیم او تربیې (معارف) کمیسیون هغه ارګان دی چې خورا لویه طمعه ترې کیدای شي، دغه کمیسیون ته د اسلامي امارت د مشرتابه خاصه توجه شته، د تعلیم او تربیې کمیسیون د خپلو فعالیتونو لپاره خورا جامع او هر اړخیزه لائحه او طرزالعمل لري، د دغه کمیسیون مشرتابه او جوړښت له پوه، مدبرو او باعلمه اشخاصو څخه ترکیب شوی، د تعلیم د نظارت او مراقبت لپاره ډیره ښه تګ لاره لري، په لرې پرتو سیموکې د دیني او عصري تعلیم د عاملو لپاره د امنیتي مشکلاتو سره سره ډیر متوجه دي، د اسلامي امارت ترکنټرول لاندې په ټولوښوونځیو اومدارسو کې تدریسي پروسه ټوله د همدې کمیسیون د مخامخ څار اومراقبت لاندې ده، د خپل وس مطابق یې له ښوونځیو اومدارسو سره د لا ښه والي او بهبود لپاره مرستې او همکارۍ هم کړي او هم یې د نصاب، تعلیمي پروسیجر، د خلکو د تشویق او ترغیب لپاره ډیرې ښې برنامې ترلاس لاندې نیولې او وخت په وخت عملي کړې دي.

ــ د مؤسساتو کمیسیون:

د مؤسساتو کمیسیون د اسلامي امارت په تشکیلاتوکې په ټول هیوادکې د مؤسساتو او خیریه ټولنو د څار اومراقبت دنده په غاړه لري، دغه کمیسیون هغو ټولو

مؤسساتوته چې د کابل ادارې اړوند نه وي او له استخباراتي شايبو نه پاکې وي د هيواد په گوټ گوټ کې د کار زمينه مساعده وي، مرسته ورسره کوي او د مؤسساتو د کارمندانو د امنيت په برخه کې لازم تصاميم نيسي.- د مؤسساتوکميسيون په ټول هيوادکې د تليفوني شبکو د څار او کنټرول وظيفه هم لري، په هيوادکې د هغو قراردادونو او پريکړو دقيقه څېړنه کوي چې په مختلفوبرخو کې د ځينو هيوادونو لخوا له افغانستان سره شوي، د مؤسساتوکميسيون په ټول هيوادکې د هرولايت لپاره ځانگړي نماينده گان لري او فعاليت يي د هيواد هرگوټ ته رسيدلی دی، يادکميسيون د هغو مؤسساتو کارونه او د کارونو کيفيت په خورا جديت سره بررسي کوي چې غواړي په گران هيواد کې عمراني کارونه وکړي او د خلکو لپاره د ښوونځيو، مدرسو، کوهيانو، سړکونو، ويالو، استنادي ديوالونو، بندونواو زراعتي برخو کې خدمات وړاندې کړي، په يادو ټولو برخو کې د مؤسساتو کارونه ستايل کيږي او د کار کيفيت او او کميت په نظر کې نيول کيږي، او لازمه مرسته ورسره کيږي، دغه کميسيون هم د خپل کار د ښهبود لپاره ځانگړی طرزالعمل او لائحه لري چې په مټ يې کارونه په منظم شکل پرمخ ځي.

ـــ د صحت کميسيون:

د صحت کميسيون د اسلامي امارت په تشکيلاتو کې يومهم کميسيون دی چې د اسلامي امارت د ټپيانو درملنه کوي، د ټپيانو د انتقال لپاره کاري ټيم لري، د جهاد سنگرونوته د دوا او درملو په رسولوکې هڅې او هلې ځلې کوي، د مجاهدينو معالجه په داسې سختوشرائطو کې پرمخ وړي چې په هره لويه لار کې د ټپي د انتقال لپاره خورا ستونزې موجودې دي، دغه کميسيون د پوهو او لائقو ډاکټرانو په مټ توانيدلی چې د روان جهاد ټول ټپيان چې د هر ولايت پورې اړه ولري معالجه کړي، چې لله الحمد په سلو کې ۹۶فيصده زخميان يې معالجه کړي او بيرته د جهاد گرمو سنگرونوته تللي دي، او همدا راز په هيواد کې ټول صحي کلينيکونه او شفاخانې چې

د اسلامي امارت تر کنترول لاندې سیمو کې موقعیت لري، د هغو سره همکاري کوي، کارونه یې څاري او د لا قوت لپاره یې سعې کوي، یاد کمیسیون هم خپل کاري طرز العمل او لائحه لري، او له خورا قوي کاري پرسونل نه هم برخمن دی. جزاهم الله خیرا

ـ د بندیانو کمیسیون:

د اسلامي امارت د بندیانو کمیسیون د هغومجاهدو بندیانو لپاره جوړ شوی چې د هیواد دننه او یاله هیواده بهر په زندانونو کې پراته دي، د بندیانو کمیسیون د خپل کار اوفعالیت لپاره طرزالعمل او لائحه لري چې په مټ یې ټول کمیسیون اداره کیږي او د هیواد دننه په ټولو زندانونوکې چې د کابل ادارې او خارجیانو پورې اړوند دي له مظلومو بندیانوسره ارتباطات لري، دغه کمیسیون د خپلو ولایتي نماینده ګانو په مټ د هر ولایت له هغو زندانیانو نه حال احوال اخلي چې د مجاهد په نامه نیول شوي او څورول کیږي، د هغو له کورنیو سره د بندي اړیکې ټینګوي، د بندي د خلاصون لپاره لارې چارې سنجوي، د بندیانو سره د ظلم او تیري په صورت کې د هغو غږ تر نړیوالو رسوي، د بندیانو د حقوقو دتأمین لپاره له ځینو خیریه او نړیوالو ټولنو سره مخامخ تماس لري چې په دې ډول یادکمیسیون توانیدلی چې د هیواد دننه او بهر د خپلو ټولو بندیانو شمیر معلوم کړي، د ژوند د څرنګوالي په اړه یې معلومات وکړي، د خلاصون په اړه یې له مناسبو لارو او وسائلو نه استفاده وکړي او د بندیانو له کورنیو سره لازمه مرسته وکړي. الله تعالی دې په کارونو کې برکت واچوي او خدای تعالي دې زموږ ټول بندیان د دښمن له ظلم نه خلاص کړي. آمین یاربَّ العلمین

۳ـ پوښتنه: په الاماره سایټ کې د اقتصادي کمیسون اعلامیه او ادرسونه شته چې په کې راغلي (که څوک کومک کوي په د غو ادرسو نو دي ورسره تماس کې شي)، که د اقتصادي کمیسون په اړه هم معلومات را کړئ، ځکه ډیر خلک غواړي چې د اسلامي امارت د مجاهدینو سره په مالي جهاد کې ونډه واخلي خو په اړه یې پوره معلو مات نه لري؟ والسلام حاجي محمد

ځواب: څرنګه چې موږ په مخکني ځواب کې هم اشاره وکړه چې د اسلامي امارت اقتصادي کميسيون د ټول امارت په سطحه يواځنۍ مالي منبع ده چې د ټول امارت لپاره مالي ستونزه حل کوي اوهمدا کميسيون دی چې د هيواد دننه او بهر د عامو مخلصو مسلمانانو، تجارانو، ټولنو او جهتونو نه اعانې او کومکونه را ټولوي او بيا يي په خورا احتياط، ديانت داري او امانتداري سره په جهادي امورو کې په مصرف رسوي، د دې کميسيون ټول مصارف د مشرتابه لخوا منظوريږي او د يوې يوې افغانۍ حساب هم ورکول کيږي، دا کميسيون خورا ښه کاري ټيم لري او ټولو مسلمانانوته ډاډ ورکوو چې د دغه کميسيون د لارې ټولې راغلې پيسې به دالله تعالي په لاره کې په جهاد کې په مصرف رسيږي او د کومک کونکو لپاره د مالي جهاد خورا ښه لاره ده. په هيواد کې دننه او بهر له ټولو مسلمانانو نه هيله کوو چې د اقتصادي کميسيون د ادرسونو او لارښونو سره سم خپل مالي کومک جاري وساتي. مننه

* * *

۲ـ د اسلامي امارت د سیاسي فعالیت او مو قف په اړه

السلام علیکم! زما پوښتنه داده چې د قطر دفتر د پرانستو سره به د اسلامي امارت اړیکې نورو هیوادوته هم غزیږي او که نه؟ رحمتي

ځواب: وعلیکم السلام! روښانه ده چې اسلامي امارت غواړي د نړۍ له ټولو هیوادونو سره ښې اړیکې تأمین کړي، د دې هدف لپاره د نورو هیوادو خصوصا اسلامي نړۍ سره ټینګې اړیکې جوړول، هم زموږ په ګټه ده او هم د نورو هیوادونو، اسلامي امارت د نړۍ له ولسونو سره د ښو اړیکو د لرلولپاره هره ممکنه لاره کاروي، او د خپلو اړیکو، دفترونو او استازو په وسیله به وشي کولای چې نړیوال د اسلامي امارت په هدف، هیلو او تعامل آګاه کړي. مننه ۱۱/۷/۲۰۱۳م

مجاهدصاحب سلامونه! کیدای شي چې د قطر د دفتر په باره کې معلومات را کړئ چې په دې دفتر کې د طالبانو کوم غړي شتون لري

ډیره مننه. کریمی د هرات ولایت څخه

ځوابـ په قطر هیواد کې د اسلامي امارت په دفتر کې د اسلامي امارت د سیا سي کمیسیون لوړ رتبه اعضاء موجود دي چې په خپل مسلک کې کامل بلدیت لري او په خپلو اړونده چارو کې د اسلامي امارت د مشرـتا به څخه تر هدایت اخستلو ورسته اجرا آت کوي. ۲۷/۶/۲۰۱۳م

اول مې سلامونه ومنئ، سوال دادی چې دفتر خو پرانستل شو، د جهاد په میدان کې خوبه کومه وقفه یا اوربند له دښمن سره نه کیږي؟ ځکه امکان لري امریکایان یې غوښتنه وکړي. محمدیوسف

ځواب: وعلیکم السلام! په قطرهیواد کې د اسلامي امارت دفتر له ټولو نړیوالو سره د اړیکو لپاره خلاص شوی، خو که امریکایان د افغانستان اشغال ته د پای ټکی کیږدي او خپل یرغلګر ځواکونه له افغانستانه وباسي، جګړه کمیږي او حتی دریږی، ځکه کله چې امریکایان له افغانستانه لاړشي، داخلي مخالفین باید داسې تګ لاره غوره کړي چې نور د اسلامي حاکمیت سره مخالفت ونشي، په هیواد کې د نویو جګړو لپاره لاره هواره نشي او نور د افغانستان د دوو لویو جهادونو د شهیدانو ارمانونه پوره او په هیواد کې د اسلام تر بیرغ لاندي آرام، سوکاله او آزاد ژوند ته زمینه برابره شي. د اور بند په اړه به دومره کافي وي چې ووایو که د اشغالګرو او کابل رژیم یرغل او وحشت جاري وي، د اسلامي امارت د مجاهدینو بریدونه به هم روان وي او که د اسلامي امارت او یرغلګرو ترمنځ د اشغال د خاتمې کوم تړون لاسلیک شي، شرایطو او ظروفو ته په پام سره به داوربند او نورو موضوعاتو په اړه پریکړه کیږي.

ډیر محترم او د قدر وړ ور ور ذبیح الله مجاهد صیب

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! وروره د الله تعالی څخه غواړم چې روغ واوسې او الله مو په هر ډګر کې کامیاب لره!

زما یوه پوښتنه وه هیله لرم چې ځواب یې له تاسو واورم، هغه داده چې طالبانو ولې د قطر غوندې یو ملك کې چې په حقیقت کې د یوې امریکایي اډې مثال لري د مذاکراتو لپاره دفتر خلاص کړ او بله دا چې څه ضرورت پیښ شو چې له صلیبیانو سره دې په اوسنیو حالاتو کې مذاکرات وشي، دا هغه پوښتنه ده چې هر چاته چې موږ دعوت ورکوو، نو له دې پوښتنې سره مخامخ کیږو او موږ ورته هیڅ ځواب نلرو، بله داچې کله امریکایان وځي، امارت خو به امن نه ورکوي چې په مصئونه توګه ووځي؟ نور مو په الله تعالی سپارم محمدمهاجر

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! یوه خبره باید تاسو په نظر کې ونیسئ، هغه داچې په قطرکې د دفتر پرانستل د اسلامي امارت او قطر تر منځ خبره ده،

البته کیدای شي د قطر هیواد له امریکایانو سره خبره ور بانـدې کـړي وي، بـل داچـې د اسلامي امارت لخوا دافیصله وروسته له دې شوې چې دښـمن د قطـر لـه هیـواد سره دا وعده کړې چې د دې دفتر مخالفت به نه کوي چې داپخپله په دې معنـی ده چـې مـوږ ماتې نه ده خوړلې، بلکې هغه متکبر دښمن مو چې یووخت یې موږ په نـړۍ کـې د یـو موجود په صفت نه منلو اوس موپه لویه کچه په نړیواله سیاسي فضاکې منلوتـه اړشـوی او دا زموږ په بري او د دښمن په ضعف دلالت کـوي. بلـه خـبره داده چـې اوس خـو د قطر حکومت دې ته حا ضر شوی چې موږ هلته دفتر ولـرو، کـه نـور اسـلامي او یاهغـه هیوادونه چې په اشغالگرو پوځونو کې یې افغانستان ته ځواکونه نوي را لیـږلي او زمـوږ د دفتر پرا نستلو ته اماده شي، موږ به نور دفترونه هم خلاص کړو، ځکه دا زموږ حـق او صلاحیت دی، باید اعظمي استفاده ترې وکړو. اسلامي امارت د دفتر لپاره د قطر هیواد ځکه انتخاب کړ چې موږ پخواهم د قطر هیواد سره ښـې اړیکـې درلـودې، بـل داچـې قطر یو داسې هیواد دی چې هلته د دښمن هغه سوء تبلیغات هـم نشي-راپسـې کیـدای چې موږ د چا تر تأثیر لاندې یو، د قطر هیواد له ډېره وخته د اسلامي نړۍ د قضایاوو په اړه مناسب دریځ لرلی، داهم هغه لامل و چـې زمـوږ اعـتماد پـه اوس وخـت کـې پـرې کیدای شوای، مثلاً دقطر هیواد په فلسطین کې د حماس گوند رهبرۍ تـه هـم پـه خپـل هیواد کې دفتر او پنا ورکړې او همداراز یې د مصر هغه مظلوم دیني عالمان هم سـاتلي او ځای یې ورکړی چې د مصر د پخواني رژیـم لخـوا لـه هیـواده وتلوتـه اړ شـوي وو، داچې کله که امریکایان له افغانستانه وځي، نو اسلامي امـارت بـه یـې دامنیـت تضـمین کوي که څه هم دا د راتلونکې خبره ده، خو که یرغلگر زمـوږ د هیـواد اشـغال پـای تـه رسوي او دوتلو لار وغواړي، نو دې کې به څه ستونزه وي چـې یرغلگـرو تـه لـه گـران هیواده د وتلو لار ورکول شي، د اسلامي امارت دریځ ډېر روښانه دی، هغه داچې: موږ به هیڅ کله هم د دښمن سره داسې معامله ونکړو چې پـه نتیجه کـې یـې خـدای مکـړه زموږ د شهیدانو ارمانونه او شرعي اهداف له خطـرسره مـخ شي، بلکـې هرڅـه بـه مـو د

اسلامي لاربښونو او ملي ګټو په نظرکې نیولو سره ترسره کیږي. ان شاءالله، مننه ۲۰۱۲\۲\۲۲م

مجاهد صاحب سلام! زما پوښتنه داده چې تاسې هر وخت د جهاد نارې وهئ، خو له امریکایانو څخه د دفتر لپاره د ملیونونو ډالرو اخیستو په وخت کې مو بیا جهاد هیر شي؟

ځوابـــ وعلیکم السلام! داسې ښکاري چې د دښمن پروپاګند متاثر او احساساتي کړی یې، د امریکې د اشغال پر ضد زموږ جګړه او قرباني او په دې جنګ کې د زرګونو امریکایي عسکرو مرګ ژوبله له چاه پټه نه ده، نو وروره هیله کوم په دوو ګوتو دلمر پټولو هڅه ونکړې، موږ له امریکانه ډالر مالر نه دي اخیستي او نه هم زموږ مبارزه د ډالرو لپاره ده، په قطرکې د دفتر خلاصیدل زموږ د ملت او مجاهد ولس یوه اړتیا ده چې که وشي له هغې لارې نه هم د هیواد دازادۍ لپاره کارواخیستل شي او له دښمن سره مخامخ په هغو موضوعاتو خبرې وشي چې له افغانستانه یې د وتلو باعث جوړیږي، د قطر دفتر زموږ د برلاسي او کا میابۍ یوه بېلګه ده، ځکه هغه مغرور دښمن چې موږ ته یې د ژوند کولو حق نه را کاوه، نن الله تعالی دې حال ته را ووست چې زموږ د دفتر له خلاصولو سره مخالفت ونه کړي او زموږ سره د یو سیاسي او نظامي قوت په حیث تعامل وکړي، پر دې سربیره موږ د همدې دفتر له لارې له نړیوالو په ځانګړې توګه اسلامي هیوادونو سره اړیکې جوړولای شو، نه پوهیږم چې ستا تشویش په څه کې دی، ځکه موږ خو د دفتر له شتون سره سره نه جهاد هیرکړی او نه مو کوم تنزل کړی، بې غمه اوسه د افغان ولس جهادبه د هدف د ترلاسه کولو پوري روان وي چې هغه زموږ د هیواد بشپړه ازادي او یو سوچه اسلامي حاکمیت جوړول دي او دازموږ د ملیونونو شهیدانو ارمان دی او ترڅو چې دغه هدف ته نه یو رسیدلي جهادبه روان وي. ان شاء الله! ۲۰۱۲\۲\۱۶م

* * *

۳ـ د راتلونكي نظام اړوند

السلام عليكم!

كه چيرې طالبان په دې وتوانيږي چې افغانستان كې واک ته ورسيږي اوياهم په يوه نوعه حكومت ته ورگډ شي، نو د امارت دريځ د افغانستان د مسلحو ځواكونو او نورو لس كلنو لاس ته راوړنو په اړه څه دى، ايا اردو به ړنگوي او كه به يې ساتي؟ اوسنى اردو كه هرچا جوړه كړې خو بياهم لښكر يې افغاني دى.
مننه دلاور

ځواب ــ كله چې هيواد آزاد شي او واقعا يو سوچه اسلامي حاكميت منځته راځي، نوپه هيواد كې ټول هغه مجاز پرمختگونه چې زموږ د دين او هيواد ملي گټې يې ايجابوي بايد وساتل شي او د همدې ډول پرمختگونو او لاسته راوړنو ساتنه او لا تقويه موږ خپله د نده گڼو، هر افغان هيله لري چې هيواد يې آباد او سوكاله وي، هر افغان هيله لري چې د هيوادوالو ژوند مرفه او له اسانتياوو ډک وي او په دې كې شک نشته چې موږ له بل هر افغان څخه زيات د خپل هيواد او خلكو پرمختگ ته ژمن يو، په هيواد كې چې د اقتصاد په برخه كې كوم پرمختگ شوى، نه تنها هغه به ساتل كيږي؛ بلكې د پياوړتيا لپاره به يې هڅې هم كيږي، خو يو اصل مهم دى چې كه په اقتصادي برخه كې موږ شرعي موانع ولرو، لكه د سود معامله، د غيرمجاز تجارتونو مسئله، د هيواد د كانونو د استخراج په برخه كې او يا داسي اقتصادي تړونونه چې زموږ ملي سرمايې ته زيان اړوي د هغو ټولو لپاره به لازم مكانيزم او داسې شرائط برابريږي چې نه په هيواد كې پانگه اچونكي زيان وويني او نه زموږ ديني اصول او ملي گټې له نظره وغورځول شي، په يادو برخو كې به لازم اصلاحات راوستل كيږي.

پاته شوه د اردو او د هیواد امنیتي ځواک مسئله: دابایـد تاسـو ومنئ چې د کابـل رژیـم اوسنی امنیتي ځواک په ډیره بیړه، په غیر معیاري شکل او د یوخاص هدف لپـاره جوړ شوی چې هغه په هیوادکې د یرغلگرو سره همکاري او مرسته ده، نو طبعا بـه دغـه امنیتي ځواک ژورې اصلاح ته ضرورت لري، اوسنی اردو ټوله په انفعالي شـکل جـوړه شوې او پکې گمارل شوي کسان اکثره هغه ځوانان دي چې یا په نشه یې توکـو روږدي دي او یا په کلیو او کورونو کې د ټولنې هغه بدخلک پکې اسـتخدام شـوي چې لویـه هیله او هدف یې د څو پیسو پیداکول دی او بس، نه کومه مشروع انگیزه او موخه لري، نه د هیواد او اسلام په وړاندې له کوم تعهد نه خبردي او نه هم زړور تیا او افغاني غـرور لري، چې داټولې تشې د یوې اردو او امنیتي ځواک لپاره غټ عیب بلل کیـږي، د دغـو مشکلاتو په وجه به اسلامي امارت د وخت شرایطـو او امکانـاتو تـه پـه پـام سره داسـې امنیتي ځواک جوړوي چې هغه د افغانانو په لاس د افغانستان اودلته د اسلامي ارزښتونو د تحفظ لپاره جوړ شوی ځواک وي، داسې یو ځواک چې له خپل دیـن او هیـواد سره یې تعهد او مینه دومره قوي وي چې بل هیڅ شی یې هـم پـه وړانـدې ارزښـت ونلـري، لکه نن چې زموږ مجاهـدین او پـه خـاص ډول فـدایان د خپـل دیـن سـاتلو او د خپلـو سرحداتو او آزادۍ لپاره هر ساعت سرښندنې ته تیار دي، نو موږ غواړو چې پـه امنیتـي جوړښـت او اردو کـې ښـه بدلونونـه او لازم اصـلاحات راولـو او د نـورو هغـو ادارو او بنسټونو چې د هیواد او ولس په خیر وي د لا قوي کیدو هلې ځلې بـه هـم کیـږي. ان شاءالله تعالی

راتلونکی حکومت

سلامونه او نیکې هیلې!

۱ ـ زما پوښتنه داده چې کله امریکایان ووځي، نو هغـو خلکـو چـې اسـلامي امارت سره شرعي مشکل نه لري، خو سیاسي (پولیټیکل) مخالفت لري نو ایا تاسـو به داسې یو پولیټکل پروسز جوړ کړئ چې هغه نا راضه ورونه هـم ستاسـو سره پـه

يو صف کې ودريږي او د وطن په بيا رغونه کې ونډه واخلي، ځکه هغوی هم افغانان دي صرف جنګ د حل لاره نه ده او د دې مشکل نه هميشه زموږ دښمن شومه ګټه پورته کړې ده؟

ځواب ـ وعليکم السلام! ورور اسلامي امارت له هرهغه چاسره ګډ کار ته ژمن دی چې له شريعت سره ستونزه ونه لري، زموږ لپاره اصل شريعت دی که هرڅوک له موږ سره په شريعت توافق ولري، نو په چوکيو او واک کې موږ له هيڅ افغان سره ستونزه نه لرو، زموږ د ټولو زحمتونو هيله او ارمان يو واقعي اسلامي نظام دی، کله چې اسلامي نظام قايم وي نور خو مشکل نه پاتي کيږي او د مملکت هرڅه به د شريعت له احکامو سره برابر پرمخ ځي، نو ولې به اسلامي امارت له چا سره بيا جګړه او اختلاف کوي، په داسې حال کې چې بيا د جګړې علت له منځه ځي او زموږ هغه دنده پوره کيږي چې الله تعالی راته سپارلې ده چې هغه اسلامي حاکميت دی، نو هغه کسان چې د شرعي نظام ترسيورې لاندې هر راز فعاليت غواړي چې هغه د اسلامي احکامو سره په تضاد کې نه وي دا د هغو حق دی او بايدزمينه ورته برابره شي او مرسته يې وشي، ترڅومو وران هيواد بيرته په شريکه سره اباد او ښيرازه کړو. ان شاء الله.

۲ــ بعضې سياسي مبصرين دا وايي چې افغانستان کې دې د ناټو او امريکايانو پرځای يوناټيډ نشنل پوځونه امنيت ټينګ کړي، ترڅو پورې چې افغانستان کې سياسي مخالفين خپل مخالفت په سياسي لاره حل کړي هغې نه پس د جانبينو په خواست همدا پوځونه له افغانستان نه لاړ شي، خو جامعه جهاني ته به جانبين داتضمين ورکوي چې افغانستان به لکه ۱۱/۹ په څير د هغو په خلاف نه استعماليږي...

ستاسو قيمتي وخت مې واخيست ښښنه غواړم. مننه عمران

ځواب ـ دا نظر معقول نه دی، د امريکايي عسکرو او يو ان د عسکرو هيڅ تفاوت نشته، تاسو پوهيږئ چې يو ان هم اوس په نړۍ کې د امريکا او غرب د ګټو د

ساتولو په قرارگاه بدل شوی، بل داچې که په افغانستان کې اسلامي حاکمیت ومنل شي بیا په افغانستان کې موږ د امنیت د ټینګولو ضمانت کوو، بل هیڅ ځواک او قدرت ته اړتیا نشته او که د اسلامي نظام سره مخالفت موجود وي داچې د هرجهت لخوا وي موږ ته د منلو وړ نه دي او موږ به مبارزه کوو، خو ښه لاره داده چې زموږ هغه هیواد وال چې غواړي په افغانستان کې بیگانه افکار پیاده کړي، پر دي کلتور ته لاره هواره کړي، زموږ د اسلامي اصولو سره مخالف سیستمونه پرموږ وتپي او خلک ورته دعوت کړي او یا غواړي چې افغانستان نه غرب جوړ کړي، دوی باید په خپل گریوان کې سرټیټ کړي، کمونستانو په همدې ارمان کې ساه ورکړه، کرزی دادی له خپل ټول بهرني ملاتړ سره سره نشي کولای په ستونزو برلاسی شي، بهرني عسکر له ډالرو سره سره په هره برخه کې ناکام پاتې دي، د دې ټولو علت دادی چې دلته هڅه روانه ده چې د افغان ولس د معتقداتو، هیلو او ارمانونو خلاف نظام ټینگ کړل شي، دا کوښښ کیږي چې اسلامي ارزښتونه وځپل شي او ترڅو چې دغه دریځ وجود ولري او دغه د فتنې هڅه جریان ولري، دلته به ټولې بدبختۍ وي، موږ به هم اړ یو چې کلکه او مسلحانه مبارزه وکړو، په پای کې له لوی الله جل جلاله نه امید لروچې زموږ په هیواد کې هغسې نظام راته په نصیب کړي چې غربیان نه، بلکې الله تعالی او زموږ قهرمان او مسلمان ولس پري خوشحاله کیږي (وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَـٰفِرُونَ) یعنی اوالله خپل نور (قران، ایمان او اسلامي نظام) بشپړ (اوپوره) کوي اگرکه کافران دا نه خوښوي). ۱۷/۴/۲۰۱۲م

السلام علیکم! زما سوال دادی چې د ټولو یرغلگرو له وتلو وروسته به تاسو داسې یو اسلامي حکومت چې د قرآن او سنت سره برابروي جوړوئ، اوتاسو پوهیږئ چې بل داسې هیواد نشته چې اسلامي حکومت ولري؟

منیر

ځواب ـ وعلیکم السلام، هو! ان شاءالله چې یرغلګر لـه هیـواده وشړل شي نـو اسلامي حاکمیت جوړول زموږ د ملت د اوږدې مودې یوه لویه هیله او یو پـاک ارمـان دی او موږ د دې ارمان لپاره په څه باندې دریو لسیزو کـې تقریبـا دوه ملیونـه شـهیدان ورکړي، اسلامي حاکمیت زموږ هدف دی او ان شاءالله دې هدف تـه بـه د اللـه تعـالی جل جلاله په نصرت او مرسته رسیږو. مننه ۵/۴/۲۰۱۲م

السلام علیکم ذبیح الله مجاهد صیب! زما پوښتنه داده که په افغانستان کـې یو ځل بیا اسلامي حکومت راغلی بیا به امربالمعروف او نهی عن المنکـر فعـال وي که نه او که وي نو هماغسي زور به کوي که نه؟

والسلام تل دې وي کامیاب د اسلامي امارت مجاهدین. احمد الله احمدي

ځواب ـــ وعلیکم السلام! که په هیواد کې اسلامي حاکمیت منځ ته راځـي نـو لـه خپلو ټولو لازمو شعبو سره به منځ تـه راځـي، امربـالمعروف او نهـی عـن المنکـر د هـر اسلامي حاکمیت او په عموم کې د ټول مسلمه امـت دنـده ده، خـو د امربـالمعروف او نهی عن المنکر په طرز او رویش باندې به کاملا غور کیږي او کوښښ به داکیږي چـې معروف په ډیره ښه طریقه سره په خلکو عمـلي شي اوهمـدا راز لـه منکراتـو نـه هـم پـه خورا حکمت سره خلک وژغورل شي اوپه دې لاره کې به له هیچا سره هم د بې ځایـه زور زیاتي نه کار نه اخیستل کیږي. ۴/۴/۲۰۱۲م

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته! زه پښتون ځلاند غواړم ستاسو څخـه چـې د امارت ویاند یاست او حتما د نظام په پالیسیو او تګلارو بانـدې بـا خـبره یاسـت، څو پوښتنې وکړم، هیله ده چې دغـه لانـدې پښـتنو تـه پـه وضـاحت سره ځـواب راکړئ، داهغه پوښتنې دي، چې تقریبا د ټولوځوانانوپه دماغوکې راګرځي.

۱ـــ کـه چیـرې اسـلامي امـارت بیـا پـه افغانسـتان کـې واک تـه رسـیږي، نـو لومړیتوبونه به یې څه وي، کومو پلانونو ته به لومړیتوب ورکړي؟

ځواب ــ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! تاسو پوهیږئ چې هیواد مو ویجاړ دی، د ګران هیواد له ازادۍ اواسلامي نظام نه وروسته به د اسلامي امارت لومړیتوب د خپل هیواد بیارغونه، پرمختګ او د اقتصادي منابعورا ژوندي کول او د دیني اوعصري علومو د تعلیم پراختیا اومعیاري کول وي.

۲ــ تاسي د افغانستان په پښو درولو لپاره او معاصرې ټکنالوژۍ ته د لاس رسي کوم ډول پلانونه لرئ، تر څو افغانستان په خپلو پښو ودریږي؟

ځواب ــ بلې اسلامي امارت به تر ممکنه بریده د نوې ټکنالوژۍ په مټ د خپل هیواد او هیوادوالو پوره خدمت وکړي او دایې یوه وجیبه هم ده، البته په دې کارکې زموږ د ځوانانو او تعلیم یافته هیوادوالو ونډه او برخه اخیستنه اړینه ده چې پوره زمینه سازي به ورته وشي.

۳ــ د ګاونډیانو په مقابل کې به ستاسئ پا لیسي څه وي؟ زموږ ګاونډیان لکه پاکستان او ایران تل دا هڅه کوي ترڅو هغوی په هر ډول چې کیږي د افغانستان په ادارو کې بشپړ نفوذ ولري او حتی تر دې چې هغوی د افغانستان په جنوب ختیځو پولو کې د افغانستان خاورې ته فوځ را دننه کړی دی او دا یو منل شوی حقیقت دی چې ترې سترګې نه شي پټیدلای، ځکه هغوی د ډیورنډ کرغیړنه کرښه جلاکول غواړي او بل دا چې ایراني دولت هم په لویدیځو پولو کې و دغه ډول کړونو ته دوام ورکړی دی. ستاسو اداره به د هیواد د ارضي تمامیت په وړاندې څه وکولای شي، په داسې حال کې چې د پاکستان نفوذ په امارت له وړاندې زیات و او حتی بودیجه او لوجستیک یې دوی کوي.

ځواب ــ زموږ تګ لاره او پالیسي-له ګاونډیو اوغیرګاونډیو هیوادونو سره په اسلامي اصولو، هیوادنیو ګټو اومتقابل احترام ولاړه ده، زموږ د اکثرو همسایه هیوادونو خلک مسلمانان دي او زموږ ورونه دي، موږ د هغوی په کورنیو چاروکې هیڅ ډول مداخله نه ده کړې، نو له هغوی نه هم د همداسې سالمې تګلارې هیله لرو چې

افغانستان کې مداخله ونه کړي د افغانانو سره ښې او د ورور ولۍ پر اصل ولاړې اړیکې ولري او ویې پالي، هغه ستونزې چې د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو ترمنځ وجود ولري باید د دواړو هیوادونو حکومتونه او ملتونه د هغو د حل او فصل په اړه په مناسب فرصت کې تصمیم ونیسي، حکومتونه باید په دې برخه کې ملتونو او ولسونو ته زمینه مساعده کړي، بل داچې که چیرې موږ او زموږ ګاونډي هیوادونه په اسلامي اصولو ولاړ د ورورولۍ اړیکې تنظیم کړو نو بیا یو بل ته د مداخلو اوضرر رسولو مسئله پخپله حل کیږي. تاسې ویلي چې د پاکستان نفوذ په امارت باندې له ورایه ښکاري، یا ستاسو په ګمان هغوی موږ تمویلوي او بودیجه راکوي!! دا نظر مو سل سلنه ناسم دی، په کلکه یې ردوم، تاسې ممکن زموږ په اړه د اشغالګرو او د هغوی د تحت الحمایه رسنیو له پروپاګند نه متاثر شوي یاست، اسلامي امارت د هیچا د لاس اله نه ده او نه هم د کوم دولتي ارګان لخوا تمویلیږي، زه ډاډ درکوم چې زموږ اوسنی جهاد او مقاومت سوچه افغاني مقاومت دی چې د هیڅ بل هیواد او جهت د مرستې مرهون نه دی، زموږ مستقل دریځ او مستقله رهبري اوس د نړۍ په سطحه مثال نه لري، هیله ده په دې اړه مو خپل نظر ترمیم کړئ! او د افغان ولس د اشغال ضد برحقه مبارزه پردیو ته منسوب نه کړئ، مننه.

۴ـــ په اوسنۍ رقابتي اسیا کې هیوادونه بالخصوص زموږ ګاونډیان دا هڅه کوي چې د هیواد اوردو یې په پر مختللو وسلو او ټکنالوژۍ سمبال وي، ترڅو د کورنیو او بهرنیو امنیتي ننګونو ځواب ورکړای شي. ایا تاسې کوم دا سې پلان لرئ؟ که ځواب مو هو وي، نو تاسې به نوې ټکنالوژۍ او عصري وسلو ته لاس رسی له کومې خوا حاصل کړئ؟ په داسې حال کې چې بین الملل ستاسې د هر ډول پا لیسیو او خوځښت سره مخالفت لري.

ځواب ـ افغانان د خپل هیواد په ساتلو کې تر ټولو ګاونډیو او اسیایي هیوادونو مخکې دي، که زموږ ملت ارام ته پریښودل شي نو موږ په خپل هیوادکې داسې اردو او

دفاعی ځواک جوړولی شو چې زموږ د هیواد د ارضي تمامیت، ملي ګټو او اسلامي عقایدو کلکه دفاع وکړي، په دې لار کې زموږ ملت هم د نورو ملتونو سره پوره توپیرلري، خوخبره صرف د افغانستان د ازادۍ او دلته د یو سوچه اسلامي حاکمیت د جوړیدو ده چې که الله تعالی یو سوچه اسلامي حاکمیت راته په نصیب کړ، بیا ستاسو تشویشونه ټول مرفوع دي او هیڅوک به هم زموږ په وړاندې د مزاحمت او ضرر ځواک اوتوان ونه لري، زموږ عسکر به هم په اسلامي روحیه روزل کیږي او هم په ملي، چې د یرغلګرو سره د مرستې پر ځای به د خپل هیواد ملي ګټې او اسلامي غرور ورته ارزښت ولري، موږ به ان شاءالله همداسې یوه اردو جوړوو او په دې لاره کې به ټول هغه څه کوو چې له وسه مو پوره وي او بیا ډاډ درکوو چې څوک راسره رقابت نشی پاللی. ان شاءالله تعالی

۵ــ ایا امارت به بیا هم د تیر په څیر توندلاری وي او د ځوانانو د فعالیتونو مخنیوی به کوي، لکه د سر او ږیرو په خریلو بندیز لګول، د تلویزون او موسیقۍ په نشرولو ممانعت او دا سي نور...

ځواب ــ افغان ځوانان مسلمانان دي، د اسلامي احکامو اولارښوونو منلو ته تیار او اماده دي، موږ د مسلمانانو په توګه د اسلامي حکومونو په منلو مکلف یو، ځوانان، سپین ږیري، نارینه اومیرمنې ټول به اسلامي اصول او احکام په ځان منو، ځکه موږ هغه ملت یوچې د همدې اسلام لپاره مو په ځانګړې توګه په څه باندې درې لسیزو کې تر دوو ملیونو شهیدان ورکړي، هیله ده په دې لاره کې ټول ځوانان یو له بله سره لاسونه ورکړي او خپله ټولنه له خرافاتو، غربي لوڅ فرهنګ او اسلام ضد حرکاتونه را وساتي او د اسلامي احکامو په عملي کولو او خپرولو کې هیڅ ډول فرصت له لاسه ور نه کړي. اسلامي امارت کوښښ کوي چې ضروري احکام په احسنه طریقه دیوه ښه پلان په رڼا کې عملي شي، ضروري او غیرضروري کارونه سره جلا شي او که کوم نا ښایسته کارونه شوي وي هغه بیا تکرار نشي..

٦ــ د افغانستان اوسنی اردو، ایا تاسې به دغه اوردو منحله وئ او که به يې د خپلو موخو د لاسته را وړلو لپاره استعمالوئ او ایا امارت به کوم ډول دفاعي اوردو ولرلای شي؟

ځواب ــ په افغانستان کې د اردو جوړونې لپاره دوه شیان ډیر اړین دي، اسلامي روحیه او ملي جذبه، که زموږ اردو دغه دوې ځانګړتیاوې په ریښتونې معنی ولري، بیا به نو د خپلو معتقداتو، ارضي تمامیت او د افغانستان د عزت ساتلو لپاره کامله انګیزه ولري او له همدې ډول اردو سره بیا مخالفت او ستونزه نه پاتیږي، مګر هغه اردو چې د خپلو خلکو، هیواد او اسلامي شعایرو پرخلاف روزل شوې وي، لکه د کابل رژیم همدا او سنی اردو چې لومړیتوب يې د امریکایي ګټو ساتل دي، نو د دغه ډول اردو منلوته خو افغانان تیار نه دي، خو په عموم کې به په دې اړه په راتلونکي کې تصمیم نیول کیږي او زموږ هره پریکړه به د اسلامي اصولو او ملي ګټو پر بنسټ ترسره کیږي. ۵/۴/۲۰۱۲م

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

زه دیو عادي افغان به حیث ستاسونه پوښتنه کوم ایا تاسو اوس هم هماغه فکر کوئ چې ټول خلک باید ستاسو امارت ومني او اطاعت یې وکړي او که نه تاسو هم د افغانانو رایې ته احترام کوئ، څه چې افغانان غواړي هماغه کوئ، یعنی په انتخاباتو عقیده لرئ او که نه، ځکه انتخابات د حل یوازینی لار ده که تاسو د خلکو اکثریت د ځان سره درلود نو تاسو د حکومت کولو وړ یې او که بل څوک اکثریت وو هغوی د حکومت کولو وړ دي، نو که تاسو سره دا ذهنیت وي چې په خلکو به خپل امارت په زور تحمیلوئ، نو هغه وختونه ولاړل، ځکه بیا جګړه پای ته نه رسیږي. ــ مدبر

ځواب ــ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

تاسو ته دومره ویلای شم چې زموږ هدف اسلامي حاکمیت دی او اسلامي حاکمیت کوم مبهم شی نه دی چې څوک یې نه پیژني، په اسلام کې حکومت یو الهي امانت دی، بندگان مکلف دي چې د خپلې اجتماع اوټولنې لپاره به د شریعت له احکامو اولارښونو سره سم نظام جوړوي، د دې نظام د جوړښت او اقامې لپاره هم کافي لارښونې وجود لري، موږ نوي نه یو مسلمان شوي، څوارلس سوه کاله وړاندې د حکومت جوړونې او چلونې لارښوونې او طریقې راته ښودل شوې دي، داچې د افغانستان ۹۹ سلنه خلک مسلمانان دي دا ټول خلک مکلف دي چې د اسلام احکام به مني، د دې لپاره زموږ ملت درنې قرباني ورکړې دي او دا هسې کومه غربي او شرقي غولونکې فلسفه نه ده چې که کمونیزم نه وي نو کاپیټالیزم دي غوره کړل شي؛ بلکې خبره په دیني مکلفیت کې ده، هرڅوک که په اسلام پوهیږي موږ حاضر یو چې له هغوسره د حاکمیت د جوړولو په طرز او طریقو باندې بحث او خبرې وکړو اوکه څوک په اسلام نه پوهیږي، هغوی باید د هغه چاخبره ومني او اتباع یې وکړي چې په اسلام اگاه اوپوه دي داد دوي مکلفیت دی، پاتې شوه د عامه انتخاباتو مسئله په اسلام کې داهل خبره او پوه خلکو رایه د احترام او درناوي وړ ده، ځکه حاکمیت جوړول او د مشر د انتخاب مسئله یوه خورا مهمه او پیچلې مسئله ده او ډیرفکر او سوچ غواړي چې نا اهله خلک د ښو او بدو ترمنځ توپیر نشي-کولای، په حاکمیت جوړولو او انتخاب کې د هغه چا رایه د احترام وړده چې د حاکمیت په نفع او زیان پوهیږي، د مادیاتو او معنویاتو ترمنځ فرق کولای شي، زموږ لپاره اسماني او الهي لارښونې لومړیتوب لري او زموږ ملت ته هم دغه د عزت او نجات لاره ده.

تاسو ویلي چې جگړه به پای ته ونه رسیږي؟ نو تاسو باید پوه شئ چې که احیاناخدای مکړه زموږ په ملت کې څوک پیداشي چې یوزاي د دنیوي گټو لپاره د الهي قانون مقابله کوي اوجگړې ته اماده کیږي، نو موږ بیا ولې د الهي لارښونو او قوانیو نه د دفاع په لاره کې له جگړې ویره ولرو، تاسې باید په دې پوه شئ چې اسلام کوم موقتي شی نه دی چې تاریخ یې تیرشي او یا لکه کمونیزم له کاره ولویږي، بلکې

چې دادنیا باقي وي اسلام به هم د منلو اوحاکمیت وړ وي، موږ د الله تعالی په نصرت باور لرو، هغه الله جله جلاله که پرون د کمونیزم په له منځه وړلو کې راسره ملګری و اونن مود صلیبي یرغل په وړاندې مبارزه کې هره ورځ مرسته او نصرت کوي، نو یقین اوکلک باورلرو چې سبابه د څو پردي پالو شریرو په لمنځه وړلو کې هم راسره مل وي.
ا ن شاءالله! ۲۰۱۲\۳\۱۷

قدرمن مجاهد صاحب السلام علیکم! قدرمنه، د اسلامي امارت حقانیت او د مجاهدینو او ایمان پلورونکو د تمیز لپاره صلیبي یرغل یو الهی امتحان و او په دغه امتحان کې هر څه هم دوست او هم دښمن ته معلوم شول، د تفصیلاتو ورکول ستاسو او درنو لوستونکو لپاره اړین نه بولم، مګر له یوه اړخه د صلیب د مادي ځواک او له بلې خوا ستاسو یو لړ سیاسي او عملیاتي نیمګړتیاوو د افغانانو ترمنځ د اسلامي امارت او مجاهدینو په اړه سوالونه راولاړ کړي وو، مګر څنګه چې د الله پاک وعده ریښتونې ده او د مومنانو غلبه یې تضمین کړې، دغه دی د اسلامي امارت سیاسي او نظامي وجود په نړیواله سطحه یو حقیقت وګرځیدی.

لکه څنګه مې چې وویل د یو لړ ملاحظاتو پر بنا د ولس ترمنځ د اسلامي امارت په اړه لیوالتیا مخ په کمیدو وه مګر د بګرام او پنجوایې له پیښو سره داسې اټکل کوم چې افغانانو ته د خپل اسلامي، ملي او سوکاله راتلونکي تضمینونکی او هیله ورکوونکی یوازي اسلامي امارت کیدای شی، په دغه لار کې تاسو او سپیڅلو مجاهدینو ته د بریاوو او استقامت دعا کوم.

زه چې د ډیر ضعیف ایمان خاوند یم، نور مې حوصله تنګه شوې او نور خپل وجدان نشم غولولای. په الله قسم د صلیبیانو په وړاندې مې نور د صبر حوصله ماته ده او شهادت ته مې زړه کیږي او دا زیری درکوم چې هغه خلک چې تاسو یې ممکن په وژلو هم صرفه ونه کړئ نن ستاسو د راتلو دعا کوي. مګر

له تاسو يو هيله لرم هغه داچې تاسو کوښښ وکړئ او په خپلو عملياتو کې د ملکي وګړو ژوند ته ډير پام وکړئ او د خاين پاکستان له اثره ځان لرې وساتئ!

زه اګر چې د اسلامي امارت رسمي غړيتوب نه لرم او نه ورسره اړيکه لرم، مګر په مختلفو سايټونو کې په مختلفو نومونو د حقيقت پر بنا تبصرې ليکم، زموږ يو لږ داخلې بې لارې شوي راته په ځواب کې واى چې که د امريکايانو داسې اعمال چې ملکي وګړي پکې وژل کيږي تقبيح کوې، نو بيا ولې د طالبانو لخوا چې کله ملکي وګړي وژل کيږي نه تقبيح کوې او داچې طالبان د پاکستان په اشاره کار کوي (لا يلدغ المومن من جحر واحد مرتين) چې په دغه ځاى کې موږ هم قانع کونکى ځواب نلرو. هيله ده زموږ دغه هيله تر مجاهدينو ورسوئ.
په احترام شهاب

ځوابـ وعليکم السلام ورحمت الله وبرکاته! د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړه تربل هرچا موږ ډير ځوريږو او د اميرالمؤمنين لخوا دې مسئلې ته جدي توجه شته او په دې باره کې يې ټولو مجاهدينو ته خاص امرکړى چې د ملکي خلکو ژوند ته په کامل جديت سره پام وکړي، پاتې شوه د پاکستان موضوع، مجاهدين پاکستان پورې تړل کاملا يو پروپاګند دى، چې د داخلي او خارجي دښمن له خوا په پرله پسې ډول ترسره کيږي، متاسفانه ځيني مخلص ورونه هم د دښمن له همدې پروپاګند څخه څه ناڅه متاثره شوي او له امله يې څه تشويش ورسره پيدا شوى وي، زموږ جهاد لله الحمد د هيچا د احسان پوره وړى نه دى، بلکې خاص د مظلوم افغان ولس په همکاري او د خداي تعالى په نصرت سره پر مخ روان دى، الحمد لله په خپل استقلال وياړو او له تاسو او ټولو هيواد والونه هيله کوو چې په دې برخه کې په خپلو ورونو باندې کله هم بدګمانه نشي او کله چې د ملکي خلکود تلفاتوپيښه رامنځ ته کيږي موږپه هغه برخه کې ډيرژرد معلوماتواوحقيقت موندلوهڅه کوواودغه معلومات ترمسؤلومراجعوپوري

رسول کیږي چې هغوی یې په اړه جدي اقدامات ترسره کوي او عاملینو ته یې شرعي سزا ورکول کیږي. ۲۰۱۲\۳\۱۲م

پوښتنه ـ د افغانستان په راتلونکي اسلامي حکومت کې به هغه مسلمانوته چې په غرب کې اوسیږي، حیصه ورکول شي؟ مثال موږ اوس محصلین یو او مختلف سبقونه وایو، موږ به څنګه د خپل وطن خدمت وکړو؟ په افغانستان کې به راتلونکی حکومت څنګه وي، بغیر له دې چې اسلامي او شرعي وي؟

ځواب ـ وروسته له دې چې زموږ په هیواد کې سپیڅلی شریعت حکم فرما شي او ټول افغانان د اسلام د مقدس نظام ترسیوري لاندې خپل ژوند په ارام سره پیل کړي، موږ خپلو ټولو هغو هیوادوالوته چې د نړۍ په هرګوټ کې په بیلابیلو زدوکړو او د مهارتونو په ترلاسه کولو لګیادي شدید ضرورت لرو، هغوی باید د خپل ملي او اسلامي احساس له مخې د خپل وطن خدمت ته په واقعي توګه راودانګي او د خپلو ترلاسه کړو مهارتونو او تعلیماتو په چوکاټ کې خپلو خلکو او هیواد ته د خدمت مصدر وګرځي، موږ نه تنها دغو خلکو او شخصیتونو ته په نظام کې د ګډون په حق قائل یو، بلکې خپل هیواد ته راتګ یې د کاملې ستاینې او قدرونې وړ بولو او تل ښه راغلاست ورته وایو، خو یو څه باید ټول افغانان په نظرکې ولرو چې د نظام د جوړښت او ځرنګوالي په اړه باید موږ ټول افغانان اسلامي اصول او شریعت په کلکه په پام کې ونیسو او د پردو مفکورو په واردولو بوخت نشو، بلکې د زړه له تله د خپل مسلک په چوکاټ کې خلکو ته کار وکړو. ۲۰۱۲\۳\۱۳م

شــرعي نظام

السلام عليكم! ذبيح الله مجاهد صيب اميد مې دی چې ښه او روغ بـه يـې! ماته يوسوچ اوفكر وړاندې كيږي، هغه داچې د طالبانو جهـادخو د نفـاذ شريعـت لپاره دی، خو طالبان وايي چې كفار او يرغلگر ووځي، بيابه جنگ نه كوي، نو بيـا څه فايده چې كفار له وطنه ووځي او تاسو لـه گـوډاگي حكومـت سره مـذاكرات وكړئ، بيانو شرعي نظام څرنگ راتلای شـی؟ داسـوچ ډيـر فكرمنـد كـړی يـم كـه داسې وي، نو بيا خو د شهيدانو قرباني بيكاره لاړې. مننه عبدالرفيق

ځواب ـ وعليكم السلام! وروره، تاسـو بايـد ډاډه واوسـئ، زمـوږ هـره پريكـړه او فيصله به د اسلام له حكم سره سمه ترسره كيږي او د اسلامي نظام حاكميت زموږ د فرد فرد مجاهد هغه كه مشر وي كه كشر، لوی ارمان او هيله ده، الله پاک موږ مكلف كـړي يو چې په هره ممكنه لار او طريقه چې وي اسلامي نظام حاكم كـړو، مـوږ كلـه هـم لـه دغې لويې داعې نه، نه تيريږو او نه هم كلـه لـه چـاسره پـه دغـه غوښـتنه او لـوی ارمـان باندې معاملې كوو، هيله ده ستاسو په گډون ټـول مسـلمان او بادركـه هيـوادوال پـه دې برخه كې هيڅ تشويش ونه لري او په خپلومشرانو باندې له درنـو ازميښـتونو نـه وروسـته پوره باور ولري، خدای جل جلاله د دين پـه لار كـې ستاسـو او هـيڅ افغـان قربـاني نـه ضايع كوي، هيله كوم مطمئن واوسئ. مننه ۲۰۱۲\۲\۲۸م

ښاغلی مجاهد صاحب السلام عليكم ورحمت الله وبركاته امابعـده: گرانـه وروره زه دومره خوشحاله شوم چې د شهامت ويب پاڼې له لارې مـې دانـوی ابتكـار چـې تاسو د هيوادوالوسوالونوته ځوابونه واياست وليد، چې د خپلـې خوشـحالۍ مقـدار نشم ښودلای، زه يو نوی ځوان يم پـه يـوه نړيوالـه مؤسسـه كـې كـار كـوم او ورسره دخپلو مجاهدينو وړونوسره خپله فريضه اداء كوم.

ښاغلی مجاهد صاحب زه غواړم يوه نظر درسره شريک كړم هغه داچـې مـوږ ټولو افغانانو ته معلومه ده چې نن سبا مجاهدين لله الحمـد وهررنگـه معلومـاتو تـه

چې وغواړي لاس رسی پیداکولای شي، خوزماپه نظر که یوه داسې لاره پیداشي (استخباراتي) چې هغه مسلمان اوبادیانته کسان چې د مجاهدینوسره مخامخ تړاو نلري اویاد امنیتي ملحوظاتو له امله په ښکاره د مجاهدینو سره اړیکه نشي-نیولای، خو که د اشغالگرو او د هغوی د گوډاگیانو له خوا د مجاهدینو او ولس پر ضدکوم پلان او یا عمل څخه خبریږي، نو تر تاسو پوري یې د هماغي لارې څخه در ورسوي، چې په دې کار سره به یې له یوې خوا خپله فریضه اداء کړې وي اوله بلې خوا به یې مجاهدینو ته معلومات رسولي وي.

ځواب: گرانه وروره ستا نظر دقدر وړدی، تاسو غوندې ځوانانو باندې ویاړو، الله تعالی دې له دین، هیواد او مجاهدینو سره د اخلاص اجرونه درکړي، هیله ده چې همداسي همکاري پیل شي، د استخباراتي ارگان په اړه مو زه نظر د مشرانو ملگرو رسوم، هیله لرم چې غور پرې وشي او همداسې یو چوکاټ را منځته شي. مننه ۲۰۱۲|۲|۱۹ م

ترټولو د مخه د افغانستان د اسلامي امارت ټولو مجاهدینو او مبارزینو ته سلامونه او نیکې هیلې وړاندې کوم وروسته له سلامه زه د افغانستان داخل کې اوسیږم او د پښتنو په اړه د امارت د راتلونکي پلان په باره کې ځیني اندیښنې راسره دي، امید دی چې راته ځواب یې کړئ.

پوښتنه: لکه څرنگه چې پوهیږئ تیرو لسو کلو کې امریکا او د هغوی متحدینو ټوله سرمایه گذاري په تاجکو او هزاره گانو وکړه، که بانکونه دي د دوی دي او که چوکی دي، د دوی په واک کې دي، تاسو په دې اړه څه پلان لرئ؟

ځواب: محترمه زه د اسلامي امارت د اسلامي او ملي پالیسی له مخې ستاسو پوښتنه ځوابوم، ستاسو پوښتنه کې د قومیت یادونه شوې او دا زموږ ملي یوالي او ارضي تمامیت ته جدي گواښ دی او اسلام هم له قوم پرستی نه منع کړي یو، د امریکایي یرغل په تېره لس کلنه موده کې افغانستان کې هر قوم ته په مختلفو ډولونو

ستونزې پیښې شوې دي، هغه که پښتون دی که تاجک، که ازبک اوکه کوم بل قوم، خو باید ټول یې په یوه اتحادسره مخه ونیسو په تاجکو ورونو کې هم داسې ډیر کسان شته چې په تېره لسیزه کې په مبارزه او جهاد بوخت وواو لاهم ستونزې ګالي او په پښتنو ورونوکې هم همداسي ده، خو په پښتنو، تاجکو، ازبکو او.... قومونوکې بیا داسې اشخاص هم شته چې له کرزي نیولې تر ګلاآغاشیرزي، حاجي دین محمد، فهیم، عطاء نور، عبدالله عبدالله، خلیلي، دوستم اوګڼو نورو پوري میلیونران شول او اوس هم په کابل او ولایاتوکې بانګونه او لوی لوی په سود او رشوت ولاړ تجارتونه لري او په بهرکې یي هم د ځان لپاره کورونه جوړ کړي چې دا ټول خیانت او ظلم دی، خوداخبره باید په جدي توګه په نظرکې ونیسوچې دلته ظلم او خیانت قومونو نه دی کړی، بلکې څو نامطلوبو اشخاصو کړی، چې تل باید د افرادو په سترګه ورته وکتل شي، نه د کوم قوم، ځکه قوم اوقبیله الله تعالی د پیژندنې یوه وسیله پیداکړې چې د اسلام له نظره له دې نه پورته کوم ارزښت نلري او د خلکو د غوره والي معیار تقوا او پرهیزګاري ده، نه قوم او قبیله، نوکه امریکایي ښکیلاکګرو په افغانستان کې په هرچا سرمایه ګذاري کړې وي، هغه افراد دي او موږ د تاریخ په اوږ دو کې بیګانه پرست افراد درلودلي او په لازمه مقطع کې مو مناسبه سزاهم ورکړې ده اوس هم زموږ ملت هغه ملت دی چې پخواوو او په راتلونکي کې به هم همداسې په حق او حقیقت ولاړ ملت پاتي وي. منبه ۲۰۱۲\۲\۱۹م

* * *

۴ـ د سولې او امن په اړه

محترم مجاهده وروره السلام علیکم!

ایا تاسي ویلای شئ چې په افغانستان کې دروانې نا امنۍ علتونه څه دي؟ او ولې په هیواد کې سوله نشي راتلای؟ نعیم خان

ځواب: وعلیکم السلام! وروره ډیره ښکاره مسئله ده، نننۍ بد امنۍ خو د امریکایي اشغال له امله ده، تاسو خبر یاست چې له نن نه دولس کاله وړاندې د افغانستان مسلمانو خلکو د خپلو ارښتونو او منافعو یو ممثل اسلامي حاکمیت درلود، اسلامي امارت د علماء کرامو په فیصله او د زرهاوو علماوو په قربانۍ او شهادت سره د دې ملت لپاره سوله راوسته، له ډیر سخت بد حالت نه یې ملت او هیواد ته نجات ورکړ، له ډیرو ظالمانو څخه یې د مظلوم حق واخیست او هغه نامطلوبه، شریر او ټوپکمار عناصر چې د مختلفو تنظیمونو په چوکاټ کې ځای په ځای شوي وو او بیا یې د خپلو خلکو مالونه، عزت او حیا هرڅه لوټل، پاټکونه یې اچولي وو، لارې یې بندې کړي وې، د هیواد ښارونه یې د جرمونو او جنایاتو په مراکز بدل کړي وو، کور په کور بدۍ، د پیسو په بدل کې انسان وژنه، غلا، چوراو..... جنایات یې هره ورځ ترسره کول، زموږ د جهاد او مجاهدینو رنګ یې بد کړ، زموږ د شهیدانو ارواوې یې ناراحته کړې، زموږ افتخارات یې په اوبو لاهو کړل، د هلکانو سره یې ودونه وکړل، له انسانانونه یې سپي جوړ کړل او بیا یې نور پرې وداړل، د خلکو ناموسونه یې په ښکاره او بربنډه بې عزته کړل، عفیفو ښځو یې د شر او اذیت له وجې ځانونه د مکررویانو له بلند منزل نه را وغورځول، د انسانانو په سر کې یې په ژوندونې میخونه ټک وهل، رقص مورده یې اجرا کړ او داسي نورجنایات......

د هیـواد بادرکـه علـماوو، طالبـانو، مخلصـو مسـلمانانو، ریښـتونو مجاهـدینو، د شهیدانو وارثانو او نیکو خلکو یې د امیرالمؤمنین ملا محمدعمر مجاهد رحمـه اللـه پـه رهبري په وړاندې قیام وکړ او په الله تعالی باند ې په محض توکل سره یې په ډیره لنـډه موده کې د ټولو شریرو عناصرو کمبله د هیواد له ډیرې برخې ټوله کړه او داسـې مثـالي امن او آرام یې راووست چې د افغانستان په تاریخ کې یې د هیڅ انارشۍ او اشغال ضـد جهاد وروسته ساری نه لیدل کیږي.

کله چې امریکا په افغانستان کې د اسلامي نظام ژوندۍ نمونه ولیده او په دې هـم پوه شوه چې د نړۍ مظلوم ولسونه او مسلمانان به ترې تقلیـد وکـړي او هرڅـوک بـه پـه خپل ملک کې د همداسې اسلامي نظام په هڅه کې شي او ورسره به د سیکولرانو ناوړه هیلې خصوصا د امریکا ناروا گټـې او د ملتونـو د زبیښـلو لـړۍ پـای ومـومي، نـو یـې د ځمکې پر مخ دغـه اسـلامي نظـام لـه خنـډونو سره مـخ کـړ او پـر افغانسـتان یـې نـاروا وحشیانه یرغل وکړ.

افغان مسلمان او میړني ولس هم چې د اسلامي نظام لپاره یې خورا ډیرې قربـانۍ ورکړې وې، همداراز یې د خپل شرعي مسئولیت د رفعـې لپـاره بیـا پـه سـپیڅلي جهـاد لاس پورې کړ، د هیواد په مختلفو سیمو کې په یرغلگرو بریدونه پیل شول، لـه غلامـانو او لاسپوڅو سره یې چې په پخوانیو ټولو ناخوالو کې مخامخ دخیل وو هـم جگـړه پیـل شوه او تر ننه پورې دوام لري، د اسلام له نظره جهاد ځانته سپیڅلی او لوړ مـرام لـري او ډیر مصالح پکې نغښتي دي، چې د همدې لویو منافعو او عالي اهدافو لپـاره د جهادپـه لار کې ټولې سترياوې، هجرتونه، زحمتونه او تکالیف برداشت کیږي، نـو زمـوږ جهـاد هم د خپل آرمان د تحقق لار څاري، ترهغو به دوام لـري چـې ټـول اشـغالگر هیوادونـه زموږ لـه هیـواده وشـړل شي، مجرمینـو او د کفـارو اجنټانوتـه سـزا ورکـړل شي او بیرتـه اسلامي حاکمیت چې نیږدې د دوو ملیونو شهیدانو او ټول ولس آرمـان دی، پـه هیـواد کې پلی او عملي کړل شي، هماغه مهال به ان شاءالله بیرته هیوادته امن راځي، سوکالي

به راځي او افغان مسلمان ملت به د سکون او آرام په فضا کې آبرومندانه ژوند ته مخه کوي، د اشغال له هر اړخيزې خاتمې مخکې په هيواد کې د امن طمع کول بې ځايه دي، له الله تعالی نه غواړو چې نور ډير ژر زموږ د کړيدلي ولس کړاونه ختم کړي، دښمنان مو مات او شرمنده کړي او د هغو ټولو شهيدانو د وينو او قربانيو په برکت زموږ هيواد ته اسلامي حاکميت راولي چې د الله په لاره کې يې خپل ټول شته، مور پلار، ښځه او اولادونه، ژوند او راحت پريښودل او په سرو اورونو ننوتل او د کفارو سره يې ډغرې ووهلي او بيا شهيدان شول، تقبلهم الله. منته

گران مجاهد ورور ښاغلی مجاهد صيب! له ښه مرغه ستاسو د قربانيو په پايله کې اوس بهرني ځواکونه دې ته اړشول چې هېواد لکه د روسي ښکلېلاگرو په څېر پرېږدي. نو پوښتنه داده چې د سولې خبرې کول کوم زيان لري، نشي-کېدای چې سوله وشي؟ حقمل

ځواب ـ وعليکم السلام! د هيواد له بشپړې ازادۍ وروسته به ممکن ټولې لازمې او اړينې چارې وسنجول شي چې د افغانانو ترمنځ درزونه او اختلافونه په سمه توگه حل او بدبينی له منځه يووړل شي، خو ترڅوچې يرغل باقي وي او يو امريکايي عسکر هم په هيواد کې وجود ولري، افغانان مستقل نه دي، بلکې له هرې خوا له گواښ، مرگ او زيان سره مخ دي، نو ترهغو پورې به له کوم چاسره سوله گټوره نه وي، ځکه زموږ په وړاندې يرغلگر قرار لري او له هغو سره د اشغال د شتون په صورت کې سوله معنی نه لري، بيا په خاص ډول هغه سوله چې دوی يې د خپلې خوښې مطابق په مطبوعاتو کې وخت په وخت اعلانوي، مثلا: چې په خارجيانو به کار نه لرئ، د دوی په اصطلاح اساسي قانون به منئ اسلحه به ايږدئ او داسې نور شرائط چې يوازې د خلکو په سترگو کې د خاورو اچول او د مجاهدينو څخه د تسليمۍ غوښتل دي، نو لومړی امريکايي اشغال ختمول په کار دي، بيا به داخلي مسائلو ته متوجه کيږو. ان شاءالله.
۱۸/۴/۲۰۱۲م

ګران مجاهدصاحب السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

الله جل جلاله مو له ټولو مجاهدينوسره په خپله حفظ محفوظ او مسلّم ولره، ښاغلی مجاهد دا يو مسلم حقيقت دی چې د افغانستان د اسلامي امارت ټول مجاهدين په خپل مشرتابه او ټولو مشرانو باندې په هر ډول شرايطو کې باور کړی دی او کوي يې، خو د قطر د سولې په اړه يو څه زموږ اذهان ناقراره غوندې وو چې دا خبرې به څنګه شي خصوصـازموږ سربـبري او سرګـري مجاهـدين (البتـه داپه دې معنی نه ده چې مجاهدين په مشرانو اعتماد نه لري، بلکې داخبرې اترې طبعا ورته بدې ښکاريدلې) دايـو نيـک تصادف ګڼي چې خـبرې کـم لـه کمـه وځنډيدې ستاسو نظر څه دی؟

بل مجاهد صاحب په اعلاميه کې کاش چې څه ډير وضاحت موجـود وای، لکه په اعلاميه کې د خبرو اترو د ځنډيدو دليل دا ويل شـوی چې مقابل لـوري داسې شرايط وړاندې کړل چې مخکې د جانبيونو لخـوا وربانـدې توافـق نـه وو شوی، کوم شرايط؟ سره لدې چې د خبراترو د ځنډيدو يو لامل هـم لـه دې بهيـر څخه د امريکايانواو دولت غلطـه اسـتفاده وه، ورپسـې داچې تاسـو د مجاهـدينو لپاره د ملګرو لفظ کـاروئ، کـه د ورور لفـظ وکـارول شي دابـه ښـه نـه وي، ځکـه مومنان وروڼه دي او مجاهدين خو پر دې سربيره نور هم ډير مشترکات لري، اللـه جله جلاله دې وکړي چې ماخپل مطلب سم افاده کړي وي.

ځواب ـ ستاسو د پوښتنې داولې برخې پـه اړه بايـد ووايـم چـې داخـبره کفايـت کوي چې د اسلامي امارت په رأس کې داسې څوک قرار لري چې ټولې نړۍ تـه يـې د خپلې عقيدې، تعهد، لوړ همت او تدبر امتحان ورکړی، زه فکرکوم چې زمـوږ او تاسـو لپاره هم دغه امتحان کفايت کوي، د اسلامي امارت د اهـدافو سره بـه کلـه هـم معاملـه ونشي زه ډاډ درکولای شم چې زموږ مشرانو د جهاد او ازادۍ په لاره کې له موږ تاسونه

ډيرې ستونزې ګاللې دي، نور به کارونه او خپل مشران الله تعالی ته سپارو او د خير دعاوې به ورته کوو، چې له انحراف او د دښمن له شرنه وساتل شي.

د قطر جريان ځنډيدل پخپله په دې دلالت کوي چې زموږ مشران د خپلو اهدافو د پاللو په لاره کې کلک مصمم دي او د دښمن په وړاندې په ډيرقوي موقف کې قرار لري، نو هيله ده چې هرڅه به د اسلامي امارت په ګټه پای ته رسيږي.

ستاسو دپوښتنې د دوهمې برخې په اړه وايم چې هو ځينې شرائط د دښمن لخوا وړاندې شوي وو، چې هغه ممکن د اسرارولـه جملې څخه وي او يا د سياسي ملحوظاتو په وجه د خپرولو وړ نه وي او يا کومه بله وجه وي چې په اعلاميه کې تش اشاره کولو ورته کفايت کاوه، نو ځکه تفصيل پکې نه و شوی اوموږ هم بايد خپل مشران او مسئولين دې ته اړ نکړو چې هرڅه په مطبوعاتو کې موږ ته ووايې، ځکه ډيرځله سړی له مشکلاتو سره مخ کيږي او يا د دښمن د ناوړه استفادې سره مخ کيږي او لااقل رازونه وي.

ستاسو دا غوښتنه چې موږ خپلو مسئولينو يا د امارت داخل اعضاوو او افرادوته ملګري وايو، ورونه نه وايو داخبره او مشوره به مو ترمسئولينو ورسوم او اميد شته چې پام ورته وشي، خو داچې ملګري هم ښه خوږه کليمه ده او موږ چې ملګري وايو دا دکمونستانو په تقليدنه، بلکې د اسلام په صدر پسې د اقتدا په توګه يې وايو، ځکه نبي عليه الصلوة والسلام هم خپل پيروان ملګري (اصحاب) بلل. مننه ۱۹/۳/۲۰۱۲م

پوښتنه مې داده چې تاسو ولې د صليبي ښکيلاک سره د سولې خبرې کوئ او د افغان دولت سره د سولې خبرې نه کوئ؟ راځئ چې په خپلو کې سوله وکړو او دا راغلي يرغلګر د هيواد نه وباسواو يوځپلواک او ودان هيواد جوړکړو، ترڅو به دا وينې توييږي؟ که موږ په خپلو کې سره جوړ شو، نوبهرنيو ته به څه اړتيا وي چې هيوادکې پاته شي او که موږ په خپلو کې سره اخته وو، نو دوی به

زموږ د دې خپلمنځي مخالفتونونه ګټه اخلي او خپل کار به مخته وړي. محمد صميم له جلال اباد نه

ځوابـــ بايد ووايم چې دلته د کرزي، د کابل ادارې، افغانانو او يا د امريکايانو او واشنګټن خبر مطرح نه ده، لکه بعضي خلک چې د اعتراض په شکل وايي چې طالبان د خپلو افغانانو سره خبرې نه کوي او د امريکايانو سره يې کوي، اصلا دلته خبر د واکدار او بېواکه مطرح ده او دا د افغانستان ملت او دنياوالو ته معلومه ده چې په افغانستان کې د مجاهدينوپه مقابل لوري کې اصل واکداره امريکا ده، د کرزي اود هغه له ادارې نه يې له پيله تراوسه د خپل واک او اشغال د تداوم لپاره د يوې وسيلې په توګه کار اخيستی، نو له داسې يوچا سره مخامخ خبرې کول چې هغه خپل واک نه لري، پردو کينولي وي او په سلهاوو ځله يې دا ورته ښودلې هم وي چې دلته په افغانستان کې د اوس لپاره هرڅه د امريکايانو ترپريکړو او مشوروپورې اړه لري، نو له داسې حکومت سره خبرې کول ګټه نه کوي او تش وخت ضايع کول به وي، هيله کوو چې تاسو به دغه ټکي په ښه توګه درک کولای شئ چې په افغانستان کې نن زموږ په وړاندې اصلي طرف امريکايي يرغلګر دي، نه د کابل اداره. مننه ۲۱/۳/۲۰۱۲م

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته!

لومړی تا او ستاسو ټولوملګرو ته د برياليتوب دعا کوم!

وروسته: ما څو ځلې ځيني وړانديزونه ستاسو ايميل ته در استولي، خو نه يم پوه شوی چې د رسيدلي او کنه؟، پوښتنه او تشويش مې دادی، دا اوس چې له امريکايانو سره کومې خبرې رواني دي، دا څه ډول دي، زه خو چې ډير خواشينی شم نو قران کريم وايم او دعا کوم، نور نه پوهيږم چې تاسو به دا خبرې څه ډول سرته رسوئ، حال دا چې زما ورور فدايي حمله وکړه او د يوه واقعي اسلامي نظام د راتګ لپاره يې ځان قرباني کړ او همدا شان په زرهاوو نورو ځوانانو خپل سرونه د اسلامي نظام د قيام لپاره نذرانه کړل. په درنښت

ځواب ــ وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته! محترمه ستاسو ټول ايميلونه پخواهم ماته رسيدلي، د غور لپاره مې مربوطه ارګانونوته ليږلي دي، ان شاءالله ستاسو په ټولو نيکو مشورو به ترممکنه حده عمل ترسره کيږي.

ستاسو د دوهم سوال په اړه دومره وايم چې تاسو هيڅ تشويش مه لرئ، ان شاءالله هرڅه به د غرا شريعت او سپيڅلي اسلام له حکومونو سره سم ترسره کيږي، تاسو به خپل مشران ازمويلي وي چې په ډيروسختو حالاتو کې هم په اسلام باندي معاملوته نه دي اماده شوي اونه به هم کله اماده شي، نو اوس هم هيله لرم چې په خپلو مشرانو باندې کاملا ډاډه او باوري واوسئ، ترهغوچې زموږ اوتاسو د شهداوو ارمانونه پوره شوي نه وي او ټول هغه شته موانع چې د سپيڅلي شرعي حاکميت په مخ کې موجود دي له منځه نه وي تللي هيڅ مجاهد به هم خپله وسله له اوږې نه کوزه نه کړي او مشران مو هم ان شاءالله په دين اواسلام پوه اوله حالاتو اګاه خلک دي، زه د خپلو مشرانو په نمايندګي تاسو او هغو ټولو مجاهدينو ته پوره ډاډ ورکوم چې له يادې ناحيې نه څه تشويش ولري. ۲۰۱۲\۲\۲۷م

زما سوال دادی: ايا تاسو نه غواړئ چې سوله وشي؟ زمريالی

ځواب ــ محترم وروره زموږ هدف سوله او ارامي ده، زموږ جهاد د سولې او ارامۍ لپاره دوام لري، خو سوله ځانته تعريف لري، يو په اشغال شوي هيواد کې د غلامۍ ژوند کول، تش خوړل، څښل او خپل شهواني غرايز پوره کول دي او بل په خپل هيواد کې د خپلو معتقداتو، ارزښتونو او لوړيتوبونو په رڼاکې د يو مستقل حاکميت په سيوري کې مرفه، باعزته او ابرومندانه ژوند کول دي، موږ هغه سوله غواړو چې هيواد مو خپلواک، حاکميت مو خپل، واک مو خپل او اراده مو خپله وي، زموږ د عقيدې او دين له لارښونو سره برابرحاکميت راباندې د امن او قرار سيوری غوړولی وي، له دښمن سره معامله او په نتيجه کې يې چې هر راز وي ځان چوکيوته رسول او د سولې د ټينګښت په نامه په زرهاوو پردي او کفري ځواکونه په هيوادکې منلو ته موږ

کله هم سوله نشو ويلای، بلکې له داسې تش په نامه سولې نه د جهاد په گردونو کې سرگردانه ژوندته سل ځله ترجيح ورکوو او دين مو هم رانه همداسې يوه تگلاره غواړي، نو که مو منظور له سولې نه واقعي سوله وي، نو موږ خو د هغې سولې لپاره شپه او ورځ په ځان يو کړې او ځانونه د شهادت ترپولي ورته ژمن بولو او که له سولې نه مو هدف داسې سوله وي چې تش نوم يې د سولې نوره غلامي وي، نو په زغرده وايم چې نه هيڅ کله داسې سوله نه غواړو، ځکه دين او افغانيت يې اجازه نه راکوي.
مننه ۲۰۱۲\۲\۲۴م

گران اومحترم ورور مجاهدصاحب، السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

زه يو سوال لرم هغه داچې په دغه حساسو شرايطو کې له دښمن سره سوله کول ترهر عنوان لاندې چې وي، د هرچاله خوا چې وي، د يوې معاملې په معنی نه ده او بل داچې دغه سوله د دغه لس کلن جهادي بهيرله ټولوشهيدانوسره اوهمدارنگه له هغوکسانوسره چې په دغه موده کې يې ځاني اويا مالي زيانونه گاللي د جفاپه معنی نه ده؟ دځواب په هيله احمد احسان

ځوابـ وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته، محترمه! موږ تراوسه له چاه سره د سولې خبرې نه دي پيل کړې او که د سولې خبرې ترسره کيږي، نو بنيادي شرط به يې له افغانستانه د ټولو يرغلگرو عسکرو وتل وي، البته په قطر کې د دفتر پرانستلو په اړه تصميم د معاملې او تيريدنې په معنی نه دی، بلکې دا د دښمن ضعف او کمزوري ده چې مجاهدين په نړيوال سياسي رول کې هم مني او که په دفتر توافق ترسره شي نو دابه د نړۍ په خاص ډول له مسلمانو ولسونو سره زموږ اړيکې پياوړې کړې او روابط به مو ورسره پراخ شي، دا د جهادي تحرکاتو ترڅنگ يو لوی اومهم کاردی، له بلې خوا د ملگرو لپاره نړيوال مصئونيت به مو بله لويه لاسته راوړنه وي چې د جهاد ترڅنگ وشوکړای ازاد تگ راتگ هم ولرو، طبعي ده چې دا جهاد او مجاهدينو ته گټه رسوي او زيان پکې نشته، بل زموږ لپاره له نړيوالو خصوصا اسلامي هيوادونو سره اړيکې تأمينول

کومه غیرشرعي اود عیب خبره نه ده، لکه د تجارت، صنعت او تعلیم په برخو کې ګډ کار او پرمختګ، د بندیانو د خلاصون لپاره لارې چارې سنجول او له مقابل جانب سره له افغانستانه د عسکرو ایستل، د تور لیست ختمول او نورو مسایلو باندې بحث کول، امید وار یو چې د همدې دفتر له لارې به دښمن زموږ او ستاسو په پاخه دریځ لاهم ښه خبرېږي اوپخې ارادې به مو له نیږدې وګوري چې له امله به یې له همدې لارې دې ته اړ کیږي چې زموږ له هیواده ښې سپکې کړي او زموږ ازادي په رسمي توګه ومني چې دا زموږ او تاسو د ټول جهادي جریان او بهیر لوی ارمان هم و او دی. داچې زموږ د جهاد هدف د اسلامي حاکمیت تحکیم دی، نو که موږ په سیاسي ډګرکې هم د خپل هدف په لور ګامونه واخلو، نو واضحه خبره ده چې دا د شهیدانو له ارمانونو اوهیلوسره مرسته ده نه کوم تضاد، لکه وړاندې چې مو وویل زموږ سیاسي تعامل هم د نظامي مقابلې په څېر د شریعت په چوکاټ کې دی او په راتلونکي کې به هم د اسلامي قوانینو له مخې ترسره کیږي، نو په ښکاره ویلای شو چې دا هیڅ نوعه معامله نه ده، بلکې د هدف د ترلاسه کولو لپاره د مختلفو وسیلو کارول دي. مننه ۲۰۱۲\۲\۲۰ م

السلام علیکم! زما پوښتنه داده چې ستاسو تګلاره د پخوانیو په اصطلاح مجاهدین په وړاندې څه ده، ایا تاسو به د هغوی سره سولې ته کېنئ او که څنګه؟ فیاد له هند څخه

ځوابــــ وعلیکم السلام! هرهغه څوک چې له اسلام او اسلامي نظام سره مخالفت نه لری او د یرغلګرو په پلوي کې نه وي ولاړ، هغه زموږ وروڼه دي او که پورته ستونزې ولري، نو شرعا موږ مکلف یو چې ترڅو الله تعالی ته تایب شوي نه وي پریکون ورسره وکړو، د لاښه وضاحت اواطمنان د پاره د عالیقدر امیر المؤمنین د لوی اختر د پیغام د ابرخه تاسو ولولئ: (افغانان باید د خپلې خاورې او هیواد د وحدت او د خپل دین د سرلوړي لپاره د مکار دښمن ټولو غولوونکو دسیسوته هوښیار واوسي.

موږ هر افغان ته، په ځانګړي ډول هغو ورونو ته، چې د روسانو په وړاندې په مقاومت کې يې هم ونډه لرله بلنه ورکوو، چې راشئ! نور يو موټی شو، لاسونه سره ورکړو، که په هر موقف کې ياستئ او هر څه موکړي وي، خو ډيرې ترخې تجربې مو وليدلې، نور راشئ! دا ځل په صداقت ودريږئ! چې نور د يو بل انارشيزم د مخنيوي لپاره يوه خپلواکه او سوچه اسلامي تګلاره وټاکو.

که موږ يو موټی شوو، نو موږ ډير مضبوط ملت يو، د دنيا يو طاقت هم زموږ مخ ته نشي دريدلای او هره فيصله پخپله کولی شو، ټول کارپوهان او د چارو څيړونکې په دې خبره يوه خوله دي چې که ځينو افغاني ډلو د صليبي اتحاد سره مرسته نه وای کړې، نو په افغانستان باندې به کفار نه وای مسلط شوي په هرحال نور دا بې چاره ولس درحم وړ دی، دخارجي ستمګرو پوځي، فرهنګي او اقتصادي هجوم نور د هيچا لپاره د زغم وړ نه دی، موږ هر مسلمان ورور ته، د همدې احساس په لرلو، په خپل زړه کې ځای ورکوو.) ۲۰۱۲|۲|۱۸ م

* * *

۵ـ د تعليم او تربيې او مكاتبو په اړه كې

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته!

وروسته له سلامونو او نيكو پيرزوينو ښاغلی مجاهد صاحب په ځای بولم چې تاسو او ستاسو له لارې ټولو مجاهدينو ته د وروستنيو عملياتو د کاميابۍ مبارکي ووايم، الله جله جلاله دې د حق د لارې مجاهدين تل بريالي اوسرلوړي لري.

زه محمد ق. اميري د کندهار پوهنتون د انجينري پوهنځي د دريم کال محصل او د ميدان وردګو ولايت اصلي اوسيدونکی يم، زما پوښتنه د امارت اسلامي له چارواکو څخه داده چې دوی د عصري زده کړو او تکنالوجۍ په اړه څه دريځ لري ايا دوی غواړي چې داسې کدرونه ولري او يا يې وروزي په تيره بيا د انجينرۍ په برخه کې چې زما خپله رشته هم ده، که چيرې مو دريځ مثبت وي نو بيا کله کله چې د انجنيرانو د وژل کيدو خبر اورو دا تر کومه رښتيا دي او که مو نظر منفي وي نو ايا امارت په خپلې واکمنۍ کې هم مسلکي کدرونو ته اړتيا نه لري، ايا بغير له ډاکټر، انجنير، معلم او داسي نورو چې په عصري زده کړو سمبال وي، اسلامي امارت کولی شي خپل ملت ته د نن ورځې پرمختيا او اسانتياوې د شريعت په چوکاټ کې برابرې کړي؟

مننه کوم ښاغلی مجاهد صاحب! هيله کوم ځواب زما د ايميل آدرس ته هم راواستوئ، ځکه ستاسي په سايټ باندې په دې مزدور دولت کې سخت بنديزونه لګول شوي او په ډيره سختۍ يې پرانيزم.

ځواب ـــ وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته!

محترم ورور اميري صيب له سوال نه مو مننه کوم! اسلامي امارت لېواله دی چې د عصری زده کړو په برخه کې علمي او مسلکي کدرونه ولري او ويې روزي، ځکه موږ د خپلو خلکو د خدمت او هيواد د بيا ابادۍ لپاره ديني عالم، معلم، ډاکټر او انجنير ته ضرورت لرو، که خدای مکړه دغه کدرونه نه وي نو واضح خبره ده چې هيواد به مو په هر لحاظ له ستونزو او شاتګ سره مخ وي او خلکو ته د خدماتو په وړاندې کولو کې هيڅ نظام هم بې له علمي او مسلکي کدرونو نه نشي چليدلی او موږ له هرچازيات د خپل هيواد او نظام د راتلونکي لپاره دې ته اړيو چې مسلکي کدرونه بايد وروزو، زيات يې کړو او چې روزل کيږي يا روزل شوي وي هغه تشويق کړو، تقدير يې کړو او ترممکنه حده ورته لازمي اسانتيا وې برابرې کړو، داچې تاسو په ځينو سيموکې د انجنيرانو د وژلو خبره کړې، اول خو داخبره دومره عامه نه ده چې ځومره ورته تبليغات شوي، بل داچې که په کوم ځای کې خدای مکړه زموږ انجنيران او يا د بل هرمسلک خاوندان له يرغلګرو سره په نظامي برخه کې کارکوي، يا له هغو بهرنيو اِن جي يو ګانو سره فعاليت کوي چې زموږ په هيواد کې د غربي موخو د تحقق لپاره په کار اخته دي لکه د شلتېرنو مؤسسه چې کاملا د عيسويت د دعوت دنده پرمخ وړي، نو دغه ډول انجنيرانو او ټولو هغو کسانو ته چې د اشغالګرو د ګټو لپاره خپلې ملي ګټې او ديني ارزښتونه تر پښو لاندې کوي، موږ اول خو خبرداری ورکوو چې د يرغلګرو سره له همکارۍ لاس واخلي او که بيا بيا د خبرداريو خيال نه ساتي نو له دې وجه څخه نه چې انجنير يا معلم يا ملا يا ډاکټر دی، بلکې په دې وجه چې له يرغلګرو سره مل دی او د هغولپاره د هيواد او اسلامي ارزښتونو په وړاندې ولاړ دی، ممکن مجاهدينو هدف ګرځولی وي، خو دې ټکي ته بايد متوجه اوسو چې دايوه اړتيا ده، نه کوم پرلپسې او هدفي پلان، موږ مخکې هم ويلي چې که خدای مکړه کوم ديني عالم هم د خپل اسلام او هيواد په وړاندې له يرغلګرو سره مرستندوی وي نو له بار بار خبردار يو وروسته مجاهدين مجبور دي چې له منځه يې يوسي او ځني داسې پيښې رامنځته شوې هم دي، نو اوس بايد دا فکر ونشي چې موږ د دين ياد دين د علماوو خلاف يو،

بلکې ستونزه په هغه معهود شخص کې ده نه د هغه د زدکړې په رشته یا مسلک کې، تاسو ته به معلومات وي یا تاسو پو ښتنه وکړئ چې د اسلامي امارت د حاکمیت په وخت کې پوهنتو نونو او په هغه کې ټولو پوهنځیو او رشتو ته خاصه پاملرنه وشوه د کابل، کندهار، ننګر هار، هرات او نورو ولایتونو په پوهنتونونو کې مختلف پوهنځي فعال وو او امارت ډېرلګښتو نه ور باندې کول، سره له دې چې خورا ډېر اقتصادي مشکلات مو په مخکې پراته وو، جګړه وه او یو طرفه سیاسي او اقتصادي بندیزونه وو. مننه ۱۷/۴/۲۰۱۲م

محترم مجاهد صیب السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

زه یوه پوښتنه لرم، هغه داچې د غزني ولایت په اکثرو ولسوالیو کې چې د امارت تر ولکې لاندې دي، تر اوسه پوري یعني د حمل تر ۲۰ مې نېټې پوري مکتبونه نه دي پیل شوي، ځکه سیمه ییزو طالبانو ورته ویلي وو، چې د حمل تر شلمې پوري به مکتبونه نه پیلوئ، تاسو ته به معلومه وي چې د یوه هېواد معارف یوه ورځ ځنډول د هماغه هیواد یوه ورځ وروسته پاتې کول دي، نو پوښتنه مې داده چې ایا په دې کار سره د امارت په ځواکمنیدو او د حکومتي اداري او غربي استعماري هېوادونو په کمزوري کیدو کې څه رول لوبولی شئ او که دا کار د امارت د لوړپوړو چارواکو په خوښه وي، په نورو ولایتونو کې ولې دې ته ورته کار نه دی شوی.

ځواب: وروره ستاسو غوښتنه او شکایت به زه تر هرڅه وړاندې اړ ونده مشرانو ته ورسوم او هیله لرم چې دغه ستونزه به ډېر ژر که موجوده وه، حل شي، تاسو ډاډه اوسئ، اسلامي امارت له معارف سره د خپلو شرائطو اواصولو په رڼاکي نه یوازي داچې هیڅ ستونزه نه لري؛ بلکې اسلامي امارت د تعلیم وده خپله دنده ګڼې او د پرمختګ لپاره یې هڅې کړې دي، خوداچې په غزنې کې که څه ستونزه منځ ته راغلې وي په دې اړه به پلټنه وشي او هرڅه ژر به لازم ګام پورته شي. مننه ۷/۴/۲۰۱۲م

بسمه تعالی، خوښ شوم چې هیواد والو ته مو د پوښتنو او ځوابونـو موقـع ورکـړه، په دې توګه به ډیر سوالونه ځواب شي.

لومړۍ پوښتنه:

تاسې په یوه ځواب کې ویلي چې د امارت وخت کې ځکه نجونـو ښـونځي نه درلودل چې بودیجه نه وه، پوښتنه داده چې کلـه بهرنیـو موسسـاتو د نجونـو د ښونځیو مصرف ورکولو تاسي ولې ورسره موافقه نه کوله؟

ځواب ـ وروره ماته ښکاري تاسو د خپل سوال په ارتباط سـم معلومـات نـه دي ترلاسه کړي، اسـلامي امـارت پـه خپـل وخـت کـې د ښـځو د تعلـیم د ظرفیتونـو او پـه اسلامي چوکاټ کي د هغه د شرائطو د برابرولو لپاره له ملګرو ملتونو او لـه هغـو بهرنیـو مؤسسو چې په تعلیمي برخه کې یې د مرستې دعـوه درلـوده پـه کراتـو د مـالي مرسـتې غوښتنه کړې وه، خو یادو شوو ادارو کې یوې هم د اسلامي امارت سره واقعي مرسته نه کوله او دا د ښځو د تعلیم مسئله یې د فشار د یوې وسـیلې پـه توګـه لاینحلـه پریښـودل غوښتل، هیله ده تاسو په دې اړه خپل معلومات له نورو خواوو نـه هـم کـره کـړئ او لـه موږ سره د هغو ټولو غوښتنو او پریکړه لیکونو متنونه د اسنادو په ډول شـته چـې بهرنیـو ادارو او د ملګروملتونو سازما ن د مرستې ژمنه پکې کړې، خو په عمل کې یي هیڅ هـم نه دې کړي.

دویمه پوښتنه:

په اوس وخت کې چې کوم ځای کـې د هـزاره وروڼـو ښـونځې وي، تاسـې هیڅ ډول مشکل نه ورته جوړوئ، خو که لږ اخوا د پښتنو سیمه وي، نو تاسـې بیـا هلته مشکلات جوړوئ، چې د غزني ولایت یې ژونـدی مثـال دی، ایـا دا خـو بـه ایران په تاسې نه وي منلې چې د هزاره وروڼو ښونځیو باندې به غرض نه کوئ؟

ځواب ــ موږ هيڅري هم ښونځيوته ستونزه نه ده جوړه کړې، هغه ښونځي چې د جګړې او نا امنۍ له وجې تړلي پاتي وي، د هغو علت هم جګړيز حالت دی او چيرته چې بيا لږ فرصتونه شته او جګړه ډيره نـه وي، هلتـه د اسـلامي امـارت مجاهـدينو ښونځيوته هيڅ ستونزه نه ده پيښه کړې، همدا اوس د غزني په ولايت کې زموږ ترولکې لاندې سيمو کې په سلهاوو ښونځي زموږ د اصولو په چوکاټ کې فعاليـت لـري او کـه موږ وغواړو ستونزه ورته پيښولی شو، ځکه دا ښونځي ټول په اندړو، ګيلان، قرباغ، مقـر او نورو ولسواليو کې دي چې مجاهدين پکي فعال حضـور لـري، خـو اسـلامي امـارت داسې هيڅ کوم پلان نه لري چې ښـونځيو اوتعليمـي اداروتـه څـه مشـکل پـيښ کـړي، بلکې د تعليم غوړيدا او پراختيا ته متعهد يو لايو او ترممکنـه حـده بـه يـې د پرمختـګ هڅې کوو، زموږ د تعليم او تربيې د کميسـيون د لائحې پـه لانـدينيومادو کـې داسـې راغلي:

(۲۶- په هره منطقه کې چې مکاتب موجود او شروع وي بايد اسـتاذان او کتابونـه يې کنترول او تر څارنې لاندې ونيول شي، د بنديدلو اقدام دې يـې نـه کيـږي، بلکـې د امکاناتو په صورت کې بايد اکمال شي.

۲۷- هغه ساحه چې د اسلامي امارت تر تسلط لاندې ده هر افغان وګـړی کـولای شي چې هلته د مکاتبو د تاسيس، ترميم او اکمال د پـاره قـدم واخـلي البتـه د ولايـت د تعليمي مسئول سره به په تماس کې وي اجازه به اخلي.

۳۸- د تعليم او تربيې عالي کميسيون ملکـف دی چـې د اوسـني عصرـ د ژونـد د ضرورتونو د پوره کيدو په منظور د افغان مجاهد اولس د بچيانو لپاره د عصري علومو د تعليمي ادارو يعني مکتبونو د جوړولو او پاللو په منظور د امکاناتو په تناسب جدي قدم واخلي.

۴۱- عالي کميسيون مکلف دی چې ټولو هغو مدرسـو، مکتبونـو، دارالحفـاظونو، پوهنتونونو، تخصصي ادارو او.... ته چې په شخصي شتمنيو تاسيس او ودان شوي وي،

د فعالیت اجازه ورکړي، په روزمره اجراتو کې یې مداخله ونه کړي او د مؤسس او پالونکي د زیار، جذباتو او احساساتو پالنه یې وکړي.

۴۴- عالي کمیسیون مکلف دی چې د اولس بچیان د تشویق – مهربانۍ او ښې بلنې له لارې تعلیمي ادارو ته راوبولي، ښه رویه ورسره وکړي، اولس د خارجي او داخلي د ښمنانو له خوا ځپل شوی دی، نوباید د مهربانۍ له لارې راجلب شي.

۵۲- د ولایت تعلیمي مسئول مکلف دی چې هغو ساحو ته چې هلته تعلیمي پروګرامونه اجرا کیږي، یو تبلیغاتي هیئت د علماوو او پوهانو ولیږل شي، تر څو اولس د مدرسې او مکتب او علم په اهمیت پوه کړي او دارنګه د اولس شتمن اشخاص د شخصي مکاتبو او مدارسو جوړولو ته راوبولي او د ولایت تعلیمي مسئول مکلف دی چې په خپلو اجراتو کې د عالي کمیسیون اطاعت وکړي.

۵۳ ــ د ولسوالۍ تعلیمي مسئول مکلف دی چې د منطقې د مدارسواو مکاتبو څخه په میاشت کې یوځل کتنه وکړي.)

البته بیا هم وایم چې د جګړیز حالت نه پرته چې خلک هلته ښونځي ته مراجعه نه شي کولای، لکه د هلمند ولایت بیلابیلې سیمې چې خلک یې د جګړو او بمبارونو له وجې له خپلو سیمو نه بې ځایه شوي دي او د هزاره میشتو سیمو علت هم همدا ده چې هلته د جګړې موارد کم رامنځته کیږي، ځکه هلته یرغلګر څواکونه ډیرنه ځي چې له برید سره مخ شي او په پایله کې یې د جګړې له امله ښونځي وتړل شي.

نو په اوسني سخت حالت کې چې اسلامي امارت د یولوی زبرځواک سره د هیواد د ازادۍ په جګړه کې ښکیل دی او هره ورځ د سر قربانۍ ورکوي، له دې نه نور ډیر څه نه شي کیدای، هیله ده تاسو او نور ټول هغه هیوادوال چې د خپل هیواد حالات تش په غربي مطبوعاتو کې ویني او د هغوی د ارزونو له مخې یې تحلیلوي، باید په خپل نظر کې بدلون راولي دلته راشي او هرڅه له نیږدې وګوري.

دریمه پوښتنه:

دا څو کاله چې د هلمند او کندهار ځیني ولسوالۍ ستاسو په لاس کې وې، هلته مو بې له قضایې مسایلو خلکو ته نور څه ورکړي؟ لکه معروف ولسوالي، هلته مو ولې خلکو ته ښونځې جوړ نه کړل؟ شهیر

ځواب ـ تاسو به اوریدلي وي چې وایې په جنګ کې حلوا نه ویشل کیږي، موږ چې د کندهار او هلمندپه هره ولسوالي کې یو، هلته له جګړې سره هم مخ یو، هلته چاپې دي، بمبارونه دي، هلته د دښمن تحرکات او زموږ لخوا پرې بریدونه دي، هلته زموږ حالت د تیارسی او جګړې ته په هره لحظه کې د انتظا رپه حالت کې دی او زموږ ټوله انرژي د دښمن په وړاندې په مقاومت او جهاد مصرفیږي، نو ځکه هلته د پرمختګ او ودانۍ کارونو ته زمینه برابره نه ده، موږ د شپې او ورځې د خپل هیواد او دین د ساتنې په جګړه بوخت یو او د جګړې په اوج کې ملکي خدماتو ته انرژي او وسایل په ګرانه برابریږي، تاسو ته بهتره معلومه ده چې د کوم کس کور او یا ولس هیواد اشغال شوی وي، نو لومړیتوب د اشغال ضد مقاومت دی او همدا تر ټولو مهم او لوی خدمت دی. ۲۸/۳/۲۰۱۲ م

مجاهدصیب سلامونه! زما پوښتنه داده چې ایا اسلامي امارت خپل تعلیمي نصاب لري او که نه؟ ستاسو د ځوا ب په هیله. زکریا ذاکر

ځواب ـ د افغانستان اسلامي امارت په خپلو تشکیلاتو کې د تعلیم او تر بیې عالي کمیسون لري چې په خپلو کارنو بوخت او ښه لاسته را وړنې لري، همدغه کمیسیون د خپلو کارونو د لاښه تنظیم په موخه لایحه لري چې په ۱۰۱ مادو مشتمله ده (البته د ځواب په وخت کې، وروسته یې بیا مواد زیات شول)، چې څلور مادې مو په پور ته ځواب کې ذکر کړې، خو داچې په نصاب لاهم کار روان دی داوس لپاره نهایې شوی نه دی، نوځکه به وروسته په دې اړه معلومات درکړو. والسلام ۲۰۱۲\۳\۱۷م

مجاهد صاحب السلام علیکم! ستاسو تر واک لاندې ځينو سيموکې لکه وردگ، خوست، پکتيا، غزني، کندهار او ځينو نورو کې ښوونځي او ليسې فعالې دي، مگر په نورو سيمو لکه زابل، هلمند، روزگان او نورو کې نه دي فعالې، د دې وجه څه ده او بله دا که په واضحه توگه راته ووایاست د هغو ښوونځيو چې استادان يې له دولته تنخوا اخلي، په اړه يې ستاسو تگلاره څه ده، ايا اجازه ورکوئ او کنه؟ مننه محمد کريم

ځواب ـ وعليکم السلام! د افغانستان اسلامي امارت د پاليسۍ له مخې د تعليمي بهير سره څه ستونزه نشته البته هيوادوال ټول بايد دايوه ټکي ته متوجه وي چې په تعليمي جريان کې اسلامي اصالتونه په کلکه په پام کې ونيول شي، په هغو ولايتونو کې چې جگړيز حالت خورا پراخ دی، تعليمي بهير هم لکه د ژوند نورې برخې د جگړې له وجه ستونزمن شوی او ډيرى مشکلات هم د امريکايي ړندو بمباريو له امله پېښ شوي دي، خو په لوی سرکې يرغل او زموږ د هيواد اشغال د ټولو مشکلاتو مور ده چې بايد ټول هيوادوال د ټولنې هرې برخې ته د ودې ورکولو مخکې د ازادۍ او خپلواکۍ فکر وکړي او که اشغال پای ته ورسيږي، زموږ د هيواد خلک د تعليم په شمول په هره برخه کې ښه پرمخ تگ کولای شي او د يرغلگرو ماتې ته هم ان شاءالله اوس ډير وخت نه دی پاتې، په همدې هيله. مننه ۲۰۱۲\۲\۱۹م

* * *

۶ـ د اسلامي امارت مطبوعاتي فعالیتونه او له رسنیو سره تعامل

السلام علیکم ورحمته الله وبرکاته!

لاندې ځینې سوالونه درسره شریکوم، غواړم داسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال د مطبوعاتوپه اړه راته معلومات راکړئ، په دې سره به مومل ته رېښتینې معلومات ورکړي وي.

۱: د طالبانوپه وخت کې چاپي رسنۍ څومره وې او په ځانګړې توګه څومره مجلې، ورځپاڼې اواونیزې فعالې وې اوکومې چې فعالې وې تنها په مرکزکې یې خپرونې لرلې اوکه په ولایاتو کې هم، محتوایې څه وه، مسؤل مدیریې څوک اودڅه په نوم و؟ نیکمل

ځواب: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

په لاندې کرښو کې ځینې هغه معلومات درته لیکم چې اوس زما سره دي.

د اسلامي امارت لخوا د یرغل نه مخکې چاپي خپرونې:

د افغانستان اسلامي امارت د هیواد په پلازمېنه کابل، ننګرهار، کندهار، بلخ او هرات کې رسمي حکومتي اخبارونه فعال وساتل اوپه نورو ولایتونوکې یې (۹) عنوانه نوي اخبارونه خپرول. همدارنګه د نورو متفرقه کتابونو او رسالو پرچاپ برسیره یې د مختلفو ادارو له لوري په منظم ډول (۱۱) یوولس عنوانه میاشتنۍ اودوه میاشتنۍ مجلې په عصري کمپیوټري سیستم خپرولې.

شریعت اونیزه، هیواد ورځپاڼه، انیس ورځپاڼه، په انگلیسي ژبه کابل ټایمز اونیزه، کتاب میاشتنۍ مجله، د کمکیانوانیس، روغتیا مجله، د باختر اژانس خبري بلوټن، بیدار ورځپاڼه، طلوع افغان اوونیزه، ننگرهاراونیزه، وړانگه مجله، مهالنی اخبار، پیام اسلام، خلافت مجله، کندهار مجله، الاماره عربي او انگریزي مجله، الطالب عربي مجله، خوست مجله، کنړ مجله او..... همدا چاپي خپروني د اسلامي امارت تر کنټرول لاندي ټول هیواد ته په منظم ډول استول کیدې، په هر ولایت کې یې د اطلاعاتو او کلتور په ریاستونو کې د توزیع ځانگي درلودې چې ټولو دولتي او غیر دولتي ادارو، پلورنځایونو، گډونوالو او مینه والوته رسیدې، له دې جملې نه (۸) مجلې او اوونیزې په مرکز کې خپریدې او (۱۲) مجلې او اونیزې په ولایاتو کې خپریدلې، محتوایې د هیواد علیا گټې، اسلامي ارزښتونه، ریښتوني او کره خبرونه، حماسي شعرونه او د هیواد د فرهنگ او ادب لپاره خدمت کول وو، مسئول مدیران یې په لاندي ډول وو.

۱ـ شریعت اوونیزه: مسئول مدیر (مولوي احمد جان، مولوي عبدالرحمان) اوبیا عبدالرحیم ثاقب

۲ـ هیواد اوونیزه: مسئول مدیر ملا عبدالحنان همت، بیا (اسدالله حنفي)

۳ـ انیس اونیزه: مسئول مدیر ملا خادم احمدحقیقي.

۴ـ کابل ټایمز: مسؤل مدیر لومړی صدیقمل، عنایت الله کاکازاده، سهیل شاهین اوبیا تسل

۵ـ طلوع افغان اونیزه، مسؤل مدیر مولوي عبدالرحما ن هوتکي، میرویس باوري او وروسته ملا احمدالله وثیق

۶ـ پیام اسلام اونیزه هرات: مسئول مدیر (اوس مې نوم هیر دی)

۷ـ ننگرهار اونیزه: مسئول مدیر (شفیق الله مملوال وروسته استاد فضل ولي ناگار)

۸ـ بیدار ورځپاڼه، بلخ مسول مدیر (اوس مې نوم هیر دی)

۹ــ کندهار، میاشتنۍ مجله، مسئول مدیر (سلیمان اغابهیر)

۱۰ــ کنړ، مجله مسول مدیر: مولوي عبدالاحد حقاني

۱۱ـــ خلافت مجله مسئول مدیر مولوي محمدوزیر حامد وروسته ملا سردارمحمدشکیب

۱۲ ــ الطالب عربي مجله، کندهار

۱۳ــ الاماره، عربي او انګریزي مجله، کندهار

۱۴ــ کتاب مجله، مسئول مدیر انجنیر نظرمحمد مطمین

۱۵ــ د کمکیانو انیس مهالنۍ مجله

۱۶ــ د روغتیا مجله

۱۷ــ باختر اژانس خبري بلوټن (ورځنۍ خبري رساله)

۱۸ــ خوست دوه میاشتنۍ مجله

۱۹ــ هلمند جریده

۲۰ــ وړانګه، په پکتیا کې مهالنۍ مجله

۲: رادیو څوساعته خپرونې لرلې کوم مطالب یې خپرول اومسئول مدیریې څوک و؟

ځواب: د اسلامي تحریک او اسلامي امارت د حکومت په مهال د راډیو ګانو تعداد (۱۴) شاوخوا ته رسیدی).

د کابل د شریعت غږ راډیو په مختلفو ژبو (پښتو، دري، ازبکي، پشيې، بلوچي، اردو او انګلیسي) پر خبرې سرویس سربیره سیاسي تبصرې، دیني، معلوماتي، روغتیایي، ادبي او نورې بوختوونکې خپرونې درلودې. همداراز په مختلفو ولایتونو

کې راډيوګانې فعالې وې چې ټول ټال (۱۲) ساعته خپروني يې لرلې، اسلامي، سياسي، ټولنيز، ادبي او فرهنګي مطالب يې خپرول، د هيواد او نړۍ وضعيت يې څيړه او د اسلامي امارت د پاليسۍ ښه ترجماني يې کوله.

باختراژانس لوی رياست: عمومي رئيس يې لومړی مولوي عبدالسلام مسلم، بيا مولوي محمد يعقوب قانع او وروسته ملا عبدالحنان همت د همدې اژانس رئيس و، په ټولو ولايتونو کې يې مديريتونه لرل اود ټول هيواد د خبرونو ټولول اوبيا ديوه خبري سرويس په بڼه ټولو داخلي اوخارجي رسنيوته د تلګراف، ټيليفون، مخابرې او په ورستيو کې د نيټ له لارې رسول کيدل.

په ولايتو کې فعالې راډيوګانې:

اسلامي امارت په مرکز او ولايتونوکې د کابل په مرکزي پنځه سوه کيلو واټه راډيو سربيره څوارلس پاېې غيرفعال راډيو سټيشنونه فعال کړل، حال داچې تر امارت مخکې يوازې څلور سټيشنونه فعال وو.

د کابل د شريعت غږ راډيو، کندهار راډيو، ننګرهار راډيو، کنړ راډيو، ګرديز راډيو، غزني راډيو، بلخ راډيو، هرات راډيو، زابل راډيو، هلمند راډيو او دکندز راډيو.

د کابل د شريعت غږ راډيو عمومي ريس ملا محمد اسحاق نظامي و

د کندهار د شريعت غږ راډيو مسئول (ملاعبدالحی مطمين، ملا عبد الاحد جهانګيروال او.... وو)

- د ننګرهار راډيو
- د هرات راډيو
- د ګرديز راډيو
- د زابل راډيو

- د کنړ راډيو
- د هلمند راډيو
- د خوست راډيو
- د غزني راډيو
- بلخ راډيو
- کندزراډيو

۳: د اطلاعاتو او فرهنگ رئيس څوک و او په کوم کال کې ورته دا دنده سپارل شوې وه، اياهم دايوکس ترپايه پورې رئيس واوکه بل کس هم دې رياست ته راغلی دی؟

ځواب: ستاسو سوال ممکن لږ ناسم وي، د هيواد په کچه خو د اطلاعاتو او کلتور لپاره وزارت فعال و او د اطلاعاتو او کلتور لومړی وزير محترم مولوي امير خان متقي و، چې وروسته له هغه محترم ملا قدرت الله جمال د اطلاعاتو اوکلتور وزير مقرر شو. او د ټولو ولاياتوپه کچه د اطلاعاتو اوکلتور رياستونه فعال او هريو يې ځانگړی رئيس درلود.

۴: خپلواکه رسنۍ موجودې وې اوکه د حکومت تر کنټرول لاندې يې نشرات کول؟

ځواب: نه! هماغه مهال خپلواکه رسنۍ نه وې، ټولو رسنيو د اطلاعاتو او کلتور وزارت ترچتر لاندي فعاليت کا وه، البته دا د افغانستان په تاريخ کې پخوانی ميراث و چې رسنۍ ټولې د حکومتونو تر چتر لاندې پاتې شوې وې او امارت هم په هغه حال وساتلې.

۵ــ که د انټرنټ په مخ، يا د کوم چاپ شوي کتاب په بڼه درته په دې اړه معلومات وي نومهرباني وکړئ راسره يې شريک کړئ؟

ځواب: زموږ د ټولو نشراتو، اطلاعاتي خدمتونو او پرمختګونو په اړه د اسلامي امارت د هغې زمانې آریشفونه که پیدا کولای شئ په هغو کې لا ډیرمعلومات په لاس درتللای شي، په هغه وخت کي ډیر کتابونه چاپ شول او ممکن په عامه کتابتون اوطلاعاتو او کلتور وزرات او ولایتي ریاستونو کې زموږ د نشراتو کلکسیونونه موجود وي.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! مجاهد صیب! زه غواړم د مهرباني له مخې زما لاندي څو پوښتنوته ځواب راکړئ. مننه صافی

پوښتني:

۱ـ طالبان رسنیوته په کومه سترګه ګوري؟ ستاسو له نظره د رسنیو دنده څه ده؟

ځواب: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

د ټولنې د اصلاح او اګاهۍ لپاره د سالمو رسنیو شتون اړین ده، رسنۍ څرنګه چې یې دنده بلل کیږي، هدف او مسؤلیت یې دی او د آزادۍ د اجازې مجوز یې ګڼل کیږي، باید واقعاهماغه ډول فعالیت وکړي، رسنۍ د هرې ټولنې په اجتماعي او انفرادي پرمختګ او هوسایې کې خورا ارزښتمن رول لوبولای شي؛ خو اوس موږ ګورو چې رسني هم لکه ډیر نور په نامه آزاد او خپلواک نهادونه د غربي یرغلګرو د ګټو شاوخوا فعالیت کوي، په تأسف سره چې درسنیو دازادۍ او عنوان څخه سوء استفاده دوام لري او اکثره رسنۍ له یرغلګرو قوتونو سره ګډ د هغو سوړ جنګ پر مخ وړي، موږ دا واقعیت دا دولس کاله له امریکا یي اشغال سره جوخت په افغانستان کې ولید او ډیر پرې متأسف یو.

۲ـ آیا طالبان درسنیو په ازادۍ باندې باور لري؟

ځواب: اسلامي امارت د ریښتونو رسنیو د آزادۍ په برخه کې هیڅ ستونزه نه ویني، البته شرط په کې دادی چې رسنۍ واقعا هم آزادې او بې پرې وي، کورني رسنۍ د ملي او اسلامي ګټو په چاپیریال کې د انساني کرامت او د ټولنې له منلو شوو اصولو سره سم نشرات وکړي او ټولنه د ارتقا، ارام، سوکالۍ او عزت لور ته دعوت کړي، ولې که له رسنیوڅخه لکه څرنګه چې اوس له ځینو رسنیونه جریان لري، د یرغلګرو قوتونو د موخو د ترلاسه کولو په لاره کې کار اخیستل کیږي، له هغونه سوء استفاده کیږي، د ملتونو دګمراه کولو او بې لارې هڅې ترې روانې وي، دا بیا د هیڅ یو اسلامي نظام او ملي حاکمیت لپاره هم د منلو نه ده.

۳ــ فکر کوئ چې رسنۍ د سولې په راوستلوکې مهم ارګان دی؟

ځواب: په اوس وخت کې خورا لږ رسنۍ داسي شته چې واقعا ازادې دي او د بې پرې توب اصل ته پاملرنه کوي، داسې رسنۍ په حقیقت کې زموږ د هیواد د آزادۍ، دلته د ارام، سولې او ښه ژوند د زمینې د مساعدیدو لپاره ډیر څه کولای شي، ولې یو شمیر هغه په نامه رسنۍ چې د استخباراتي ارګانونو له لوري تمویلیږي او پردیو موخوته خدمت کوي، د هغو فعالیت زموږ د هیواد په زیان دی، هغوی لا هم زموږ د هیواد حالات پیچلي کولای شي، دلته ژبني تعصبات، بدبینۍ، قومي، لساني، مذهبي او یو شمیر نورو اختلافاتوته لمن وهي، هغوي کله هم زموږ د هیواد او خلکو په ګټه نه دي او موږ امیدوار یو چې کله یرغلګر ماتیږي او ګران هیواد آزادیږي، دغه مزدورې رسنۍ به هم خپل ماموریت پای ته رسوي او ټولنه به یې له شر او ضرر څخه خلاصیږي. ان شاءالله

۴ــ ایا غواړئ چې په رسنیو باندې بندیز ولګوئ؟ که هو، نو ولې؟

ځواب: موږ مخکې وویل کومې رسنۍ چې واقعا رسنیزو اصولو، د اسلام دین او د هیواد علیا ګټو ته ژمنې دي، هغوی باید فعالیت وکړي، د هغو آزادي او خپرونې د هیواد د پرمختګ لپاره دیوې ښې وسیلې په توګه زموږ ټولنې ته یو له مهمو اړتیاوونه

شمیرل کیږي، چې د دغو رسنیو په همکارۍ، د فعالیت په پراخې او بې پرېتوب کې بـه موږ هم ورسره تر وسه خپله مرسته وکړو، ولي هغه په نامه رسنۍ چې د پردیـو گټـو تـه ژمنې دي، په هیواد کې د اختلافاتو اور تـه لمـن وهـي، د یرغلگـرو سره اوږه پـه اوږه د ساړه جنگ بار وړي، هغه رسنۍ نه؛ بلکې د اسـتخباراتي ادارو څـانگې دي چـې زمـوږ تولنه يي منلو ته په هیڅ صورت هم تیاره نه ده او زموږ دین هم د هغو د فعالیـت اجـازه نه ورکوي.

٥ـ تاسو ولې همیشه د تاوتریخوالي خبرونه خلکو ته رسوئ؟ ایا فکر کـوئ چې خلک به ستاسو د خشونت خبرونو ته توجه وکړي؟

ځواب: لومړی خو زموږ نشرات کله هم د خشونت او تـاوتریخوالي خبرونـه نـه دي، په دې اړه باید واقعتونـه پـه نظـر کـې ولـرو، مـوږ د افغـان میـړني ولـس د قربـانیو، سربښندنو او په دین او هیواد باندې د قربان کیدو خبرونه او دلته پیښې واقعـات خلکوتـه رسوو، کله چې موږ د کوم امریکایي عسکر وژلو او دکوم امریکایي ټانـک د لـه منځـه وړلو یا د امریکایي الوتکو اوچورلکو د نسکوریدو خبرونه خپـروو، دا زمـوږ د مبـارزې او جهاد د اصالت او د خپلو پلرونو او نیکونو پر نقش قدم د تللو یـو روښـانه مثـال دی، زموږ اسلافو که د شوروي او انگریزي اشغالگرو او د هغـوی د غلامـانو پـر ضـد جهـاد کاوه، موږ یې په پیروي د اوسني یرغلگرو او گوډاگیانو په وړانـدې ولاړ یـو، نـو داسـې خبرونه کله هم د خشونت خبرونه نه دي؛ بلکې د میړانې غږ دی، چې بایـد تـر ولسـونو او هیوادونو ورسیږي او یو وخت به زموږ د هیواد د زرین تاریخ مهمه برخه وي.

پاتې شوه دا موضوع چې زموږ خبرونوته به څوک توجه کوي او کـه نـه؟ پـه دې اړه خلـک او زمـوږ مخـاطبین پـه دوه ډولـه دي، یـو خـوا دښـمنان، د هغـو غلامـان او لاسپوڅې دي چې د شخصي گټو، شهوت پرستۍ، پیسو اخیسـتلو او ادارې او اخلاقـي فسـاد پـه دلـدل کـې تـر سـتوني غـرق دي، هغـوي تـه بـه زمـوږ خبرونـه واقعـاهم خوشحالونکي نه وي، ولي ښکاره پیغام ورته درلودلای شي. دوهم پلوتـه زمـوږ بیچـاره

او مظلوم ولس دی، زموږ په غم او درد شریک ورونه او هغه هیوادوال دي چې مستضعف شوي، د یرغلگرو لخوا هجرت ته اړشوي، په زندانونکې د شکنجو سره مخ شوي، کورنه یي وران شوي، خپل خپلوان یي د یرغلگرو لخوا او یا د هغو د مزدورانو لخوا په شهادت رسیدلي او زیانونه یي گالي، هغه اکثریت ملت دی او هغوي ته زموږ خبرونه او زموږ د میړانې او دښمن ځپنې راپورونه تسل ښونکي دي، هغوي ته زموږ په خبرونو او راپورونو کې د بري زیري او د ښه راتلونکي، آزادۍ او خپلواکۍ پیغام پروت دی، هغوي مسلمانان دي، افغانان دي، په اسلام، هیواد، خلکو او خپلو ارزښتونو یي زړه سوزي، د یرغلگرو د مرگ ژوبلې او د مجاهدینو د بریاوو خبرونو ته تږي دي او هغوي په موږحق لري چې د جهادي سنگرونو پیغامونه او د پرمختگ خبرونه ورسره شریک کړو.

٦ـ رسنۍ څنگه کولای شي چې د سولې سره کمک وکړي یا سوله په ټولنه که راولي؟

ځواب: ریښتونې او اصولوته ژمنې او متعهدې رسنۍ د هیواد د آزادۍ لپاره ډیر څه کولای شي، موږ باوري یو چې رسنۍ د هیوادوالو ترمنځ وحدت راوستلای شي، خلکوته پوهاوی ورکولای شي، د خلکو ناخوالې تر مسئولو کسانو پورې رسولای شي، د دیني او هیوادني مکلفیت په اساس د خلکو ریښتی خدمت کولای شي.

بل د سولې ننۍ اصطلاح ده، که سوله عبارت له دې وي چې امریکایي تاراک ته غاړه کیښودل شي، امریکایي نظامي قوتونه په هیواد مسلط ومنل شي، د اجیر په توگه په یو غلام رژیم کې صرف څوکۍ او څو پیسې تر لاسه کړای شي او په دې توگه د راتلونکي افغانستان لپاره له ذلت او رسوایۍ نه ډک تور تاریخ پریښودلای شي، نو هیله ده چې له موږ نه د داسې سولې په اړه څوک هغه طمع ونه کړي چې امریکایان یي لري، افغان بادرکه او با احساسه، مسلمان او ویښ ولس داسي رسوایي نشي ـ منلای او نه هم داسې له شرمه ډک حالت ته سوله ویلای شي، موږ هیله مند یو چې د هیواد

ریښتوني او بادرکه رسنۍ هم داسي جریان ته سوله ونه وایي او ورته تبلیغات ونه کړي. مننه.

په رسنیو باندې برید ولې نه کوئ؟

مجاهد صاحب سلامونه مې ومنئ! زما پوښتنه داده چې تاسي یوازي پر نظامي ځایونو باندې حملې کوئ، په داسې حال کې چې په کابل کې ۷۵ تلویزوني شبکې موجودې دي چې یوازي فحشا خپرول یې کار دی او له خلکو نه یې اسلامي او افغاني کلتور واخیست، په دې هکله ستاسو نظر څه دی؟ ح م ستانکزی

ځواب ــ وعلیکم السلام! وروره ځیني مغرضې کړۍ او تش په نوم رسنۍ چې د غربي لوڅ فرهنگ او بیگانه افکارو د تعمیم لپاره هڅه اوفعالیت کوي زموږ تر ګڼارنې لاندې دي، خو ستونزه په دې نه حل کیږي چې موږ په دغو ځایونو بریدونه وکړو، دا ټول د یرغل نتیجه ده، کله چې له هیواده د یرغل ټغر ټولیږي او اسلامي نظام حاکم شي دغه مبتذل نشرات به پخپله بندیږي او خلکو ته به سالم نشرات وړاندې کیږي، داسې نشرات چې د اسلام مبارک دین او افغاني درونده فرهنگ یي اجازه ورکوي، پاته شول هغه تلویزیونونه چې د امریکا د سفارت په پیسو چلیږي او د هغو لپاره کار کوي، لرې نه ده چې هغوی به هم خپلو خلکوته حساب ورکړي. ان شاءالله ۱۹/۴/۲۰۱۲م

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

محترم ورور ذبیح الله مجاهد صیب، الله دې تاسو ته ډیر اجرونه در په برخه کړي، وروره زه نه شم کولای په عملي جهاد کې برخه واخلم، ځکه چې زه یو شرعي عذر لرم او نشم کولای چې د ډیر وخت لپاره په بل ځای کې و اوسم، زما غوښتنه او ارزو داده چې زه که د خپل عذر په خاطر په عملي جهاد کي برخه نشم اخیستلای، نو غواړم په إعلامي او مطبوعاتي جبهه کې له تاسو سره مرسته وکوم، کیدای شي الله تعالی به دا ماته په جهاد کې وشمیري، زه په عربي ژبه

پوهیږم، ستاسو د عربي نړۍ خبرونه ډیر کم وي، زه کولای شم چې تاسو ته د عربي نړۍ خبرونه روزمره راجمعه کړم او تاسو یې نشر کړئ او یا یې زه نشر کړم، نو که تاسو زما په دې غوښتنه غور وکړئ او ځواب راکړئ!.

والسلام علیکم ستاسو مجاهد ورور محمد مهاجر

ځواب ـ محترم ورور محمد مهاجر صیب وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

داچې تاسو په اعلامي او مطبوعاتي جهاد کې زموږ سره د مرستې تکل لرئ، ډیره مننه کوم، زه به ستاسو ادرس د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسیون د اړیکومرکزته راجع کړم او هیله لرم چې هغوي به ستاسو سره د مرستې راجلبولو برخې او شرائط ټول شریک کړي او په هر ه برخه کې چې تاسو ته اسانه وه، په هماغه برخه کې به له تاسو نه مرسته غواړي او همیشنۍ رابطه به مو د مطبوعاتي ملګروسره وي. ډیره مننه الله تعالی مو ټول خدمتونه قبول کړه! ۲۰۱۲\۳\۲۵م

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

هغه ژورنالیستان او خبریالان چې په نړیوالو خپلواکو رسنیو لکه بي بي سي او یا هم په داخلي غیري دولتي (خصوصي) رسنیو کې دندې تر سره کوي، ستاسو رسمي پالیسي یې په اړه څه ده، هغوی ستاسو تر واک لاندې سیمو کې ځان مصئون نه احساسوي، همدا رنګه د سیمه ییزو طالبانو له خوا ورته ځینې پیغامونه هم رسیږي، هیله ده تاسې په دې اړه د امارت رسمي پالیسي ـ او تګلاره بیان کړئ. ارمان

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

اسلامي امارت د ټولو خبریالانو او ژورنالستانو په وړاندې چې ازادانه فعالیت لري او خپلو ژورنالیستیکي اصولو ته پام کوي خورا واضحه پالیسي ـ لري، هغه داچې دوی زموږ ترواک لاندې سیموکې خپل فعالیت په ازاد ډول ترسره کولای شي او دا

لس کاله يي فعاليت هم لرلی دی، زموږ لخوايې په وړاندې هيڅ مشکل هم په رسمې توګه نه دی ايجادشوی، البته که کله کله د سوء تفاهم له مخې د مجاهدينو د ځينو ټيټ پوړو افرادو لخوا ورته څه مشکل هم پيښ شوي وي، موږ يې په اړه ژر او لازم اقدام کړی او هغه ستونزه مو نه ده پرې ايښې چې له ۲۴ ساعتونو واوړي، خو داچې هيواد په جګړيز حالت کې ښکيل دی او مجاهدين د يو ډيرقوي او مکار دښمن سره مخ دي او په هره لحظه کې پوره احتياط او توجه ته اړتياوي، نو ځکه زموږ مجاهدين نشي کولای چې بې له کومې مخکنۍ پيژندنې په هرچا ښه ګمان وکړي، نو زموږ غوښتنه له ټولو ازادو خبريالانو نه هم داده چې چيرته فعاليت او کارکوي او يا د کوم رپوټ لپاره کومې سيمې ته تګ کوي، بايد موږ په جريان کې واچوي، ترڅو هلته مجاهدين ورته امنيتي او نورې اسانتياوي برابرې کړي، نو وروسته له هغه به څه ستونزه نه وي. مننه ۲۰۱۲\۲\۲۵م

زه خپله دوردګو ولايت ديوې وړې ډلې مجاهدينو خادم يم، خو زه غواړم د خپلو تکړه مجاهدينو کارنامې دالاماره ويب پاڼې په مخ دنياوالوته وښايم، زه ستاسو په صفحه کې دافلوډ يادخول الفاظ او ځای نه وينم که تاسو الاماره ته د داخليدو چل راته وښايئ. والسلام ستاسوخادم عمر وردګ

ځواب ــ له تاسو محترم نه هيله کوو چې خپل نظراوليکنه د الامارة په ادرس الامارة ويب پاڼې ته ولیږئ، او داچې الامارة ويب پاڼه د اسلامي امارت رسمي ويب پاڼه ده، نو مخامخ پکې د ليکلو اجازه نشته، بلکې هره ليکنه بايد د امارت له پاليسۍ سره سمون ولري او بياخپره شي، نو ځکه تاسو نشی کولای لکه ځيني شخصي-او غير رسمي ويب پاڼو غوندې مخامخ سايټ ته داخل شئ، د الاماره پاليسي-داده چې هره ليکنه بايد يو ځل د مسئولو کسانو لخوا چک او بيا نشر شي. مننه ۲۰۱۲\۲\۲۲م

محترم ورور مجاهد صاحب السلام عليکم ورحمة الله! الله جل جلاله موجوړ، روغ اود دين په خدمت کې همداسې قائم لره. محترمه غواړم

یونظرستاسوله لارې مسلمانانوته ورسوم اوپه اخرکې که تکلیف نه وي ستاسو نظر هم ورسره ولیکل شي ښه به وي. دوهم یو وړوکې پوښتنه هم لرم.

نظر: د زړه آه مې دادی چې کله د اشغالگروکفاروله خواټولې رسنۍ دشپې اوورځې د مظلومو مسلمانانو په خلاف په درواغولگیاوي اوهرهغه څه چې یې زړه غواړي هغه نشروي، خونه یومسلمان اونه د کفارو یوبشرپال وویل چې دلته ولې دا دومره دروغ وویل شول، یاداولې مسلمانانوته په داسې نظر وکتل شول، یاولې حقایق له دنیاوالوپټ شول، مگر کله چې د اسلام د سپيڅلوخادمانو یوه خبره د غربي رسنیو لخوا په دروغو تعبیر شي، نوبیاهم مسلمان اوهم کفارد دې خبرې نه ډنډوره جوړه کړي اود میډیاد سکرین هیډلاین یې گرزولې وي اوچې څه رقم یې زړه غواړي هغسې تبصرې ور باندې کوي، حال داچې هغه به په حقیقت کې دروغ هم نه وي، بلکې رسنیو د غرب په امرسره دروغ تعبیرکړي وي، دافسوس ځای دادی چې نن د غرب دروغ هرمسلمانوته رښتیاښکاري، خود سپيڅلومسلمانانو رښتیااوحق ویل بیا دروغ ورته ښکاري، نوله ټولومسلمانانونه هیله لرم چې لطفاړ په خپل گریوان کې وگوري! اوپوښتنه مې داده چې محترم مجاهدصاحب! زیاتره رسنۍ ولې همیشه ستاسوخبرې دغه ډول تعبیروي، ایاد دې په باره کې تاسو له رسنیوسره څه خبره کړې ده؟. نو دا که هرڅوک د رویټرز اژانس په شان له تاسونه بخښنه وغواړي تاسویې معافوئ؟ عبدالرؤف

ځواب ــ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! په دې اړه موږ مخکې هم وضاحت کړی دی، خو ستاسو د معلوماتو لپاره هم دومره وایم چې موږ له رسنیو سره په هغو ټولو برخو کې خبرې کړې دي چې دوی زموږ له ویناوونه غلط تعبیر کړی وي او په هماغو مواردو کې موږ خپل توند او جدي غبرگون هم ښودلی دی، دوي موږ ته معذرت وړاندې کړی او موږ ورنه منلی دی، له ټولو رسنیو نه زموږ غوښتنه داده چې

خپل مسؤلیت ته پاملرنه وکړي، بې طرفي وساتي او خپل حیثیت د یرغلګرو په چوپړ کې بې ارزښته نه کړي. مننه ۲۰۱۲\۲\۱۸

بسم الله الرحمن الرحیم

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته! آیا میتوانیم مضامین و نظریات خود را به ویب سایت امارت اسلامی افغانستان بفرستیم تا به نشر برسد؟ مدینه طاهر

پاسخ ـ بلی ما به نویسنده های متعهد ومسلمان نیاز داریم تا مقاله های علمی وسیاسي خویش را به ما بفرستند، دراین زمره شما هم هستید که ما به مضامین شما درهرقسمت که باشد نیازمند هستیم وبرای ما قابل قدراست که نشرخواهد شد، البته با درنظر داشت اساسات واصول اسلامی، وحدت ملی، استقلال وآزادي کشور، اګرخواستید به ما کدام مقاله یا تحلیل رابه همین رابطه به لسان دری بفرستید به همین آدرس این کار را کرده میتوانید. تشکر ۲۰۱۲\۲\۱۶م

قلمي همکاري:

پوښتنه ـ زه غواړم چې د اسلامي امارت سره د لیکوالۍ په برخه کې مرسته وکړم نو که ما غوښتل چې خپله کومه لیکنه او نظر ستاسو په ویب سایټ کې نشر کړم یا په دائمي شکل له تاسو سره همکار شم د دې کار لپاره زه باید څه وکړم او تاسو څه اصول لرئ. مننه عبدالرحیم له پروان ولایت څخه

ځواب ـــ محترم عبدالرحیم وروره ډېره مننه چې زموږ د سایټ او فرهنګي کمیسیون سره د مرستې او همکارۍ هوډ لرې، محترمه موږ هر مسلمان او متعهد لیکوال ته اشد ضرورت لرو چې مرسته راسره وکړي، زموږ سره تاسو په پښتو، فارسي، عربي، اردواوانګلیسي برخو کې مرسته کولای شئ، زموږ په همدې ایمیل ادرس باندې خپله لیکنه چې په پورته هره یوه ژبه وي رااستولی شئ، موږ به یې هم درته خپروو او که له

همدې لارې تاسو زموږ سره رسمي همکاران شئ او د اسلامي مکلفیت لـه لارې مـوږ ته د اسلامي ارزښتونو، ملي ګټو، یووالي اوجهادي غوښتونو سره برابرې لیکنـې را ولیږئ اویا دایمي کار را سره وکړئ دا بـه مـو لـه مـوږ او ټـول مسـلمان ملـت سره لویـه مرسته وي چې ستاسو له لیکنواو استعدادنه مستفیدکیږو، نو هیله ده د خپل وس مطابق لیکنې او تحلیلونه راولیږئ، خصوصا په دري برخه کې مو همکاریو ته سترګې پـه لاره یو. مننه ۲۰۱۲\۲\۱۶م

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

محترم ذبیح الله مجاهد صاحب هیله ده چې روغ و جوړ به یې.

محترمه زما بله پوښتنه داده چې ډیر افغانان تانه خـوا بـدې دي، ځکـه چـې کومه پیښه وشي ته یې فوراً ذمه په سر واخلې او هیوادوال وایې چې تـه حقیقـت هم نه وایې، بلکې ته دروغ نشرکوې او وایې چې دومره امریکایـان مـړه شـول او دومره زیان ور واووښت اوکه امریکایان مړه شـوي نـه وي هـم، تاسـو وایـئ چـې امریکایان مړه شول، دا خبرې ما د خلکو نه واوریدلې ایا دا حقیقت دی او که یا؟

دریم ـ دا چې موږ پاکستان کې اوسو ایا موږ باندې جهاد فرض عین دی او که فرض کفایه، ځکه چې دلته پاکستاني مدرسو عالمـان وایـې چـې فـرض کفایـه دی، خو د افغانستان عالمان وایې چې فرض عین دی لکه (شیخ استاد یـاسر فـک الله اسره) ایا موږ د چا خبره ومنو. هیله له ده چې ځـواب راکـړئ. والسـلام غـلام رسول ـ کراچي پاکستان

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاتـه! وروره ستاسـو د سـوال پـه اړه بایـد ووایم چې د افغانستان اسلامي امارت مجاهدین چې د هیواد په هره برخه کې په دښمن کوم برید ترسره کړي، لوم‌ړی هغوی د خپلـو مسـئولینو پـه وسـیله مـوږ تـه د بریـد خـبر راکوي، موږ د خپلې ټاکل شوې لایحې او اصولو له مخې هغه خبر ښه کره کوو، له څو خواوو نه یې تاید ترلاسه کوو او بیا یې رسنیو تـه پـه واک کـې ورکـوو، ستاسـو داخـبره

چې موږ هرڅه واورو ژر يې مسئوليت اخلو، يوه غلط فهمي ده او واقعيت نه لري، موږ تر وروستي بريده کوښښ کوو چې خبر له څو خواوو تصديق شي او د امريکايانو تلفات اکثره وخت په سيمه کې له نيږدې خلکو او يولړ نورو مؤثقو منابعونه هم تر لاسه کوو. مهمه خبره او واقعيت دادی چې امريکايان په افغانستان کې هره ورځ خورا درانه تلفاتويني، د امريکايانو تلفات له هغو زيات دي، څومره چې يې دوی نشر- کوي او په ورځ کې په ټول هيواد کې په ترتيب سره ايله د يو عسکروژنه مني بلکې د يرغلگرو تلفات څوچنده تر دې درانه او ډير دي، سږکال د ملگروملتو په يوه راپورکې داخبره منل شوي وه چې په هره مياشت کې په افغانستان کې د اسلامي امارت د مجاهدينو لخوا ۱۹۹۵بريدونه ترسره کيږي چې طبعاً د دغو بريدونو ډيره برخه په امريکايي عسکرو ترسره کيږي، هربريد خو پريږده که په لسو بريدونو کې هم يوبهرنی مړ يا زخمي شي، نو هم د مياشتې دوه سوه اشغالگرو ته مرگ ژوبله اوړي، خو ښکاره ده چې دښمن دا نه مني؛ بلکې د ټول کال تلفات ايله څو سوه ښيي، نو له تاسو نه هم هيله کوو چې د امريکايي ويندويانواو ترهغو پورې د ټرلو رسنيو په راپورونو تير نه وزئ.

ستاسو د پوښتنې د دريم جزء په اړه دومره وايم چې زه دلته کوم چاته د کومې مسئلې په اړه فتوا ورکول نه غواړم هيله ده چې د فقهي مسئلو په اړه کومې دارالافتاء يا مفتي صاحبانوته مراجعه وکړئ. مننه ۲۰۱۲\۲\۱۶م

* * *

۷ـ د امریکایي اشغال د اهدافو په اړه

د امریکایي تجاوز علت څه شی وو؟

ډېر قدرمن او محترم مجاهد صاحب! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

نېکې هیلې او احترامات مې ومنئ!. قدرمنه! د امریکایانو د یرغل او روان اشغال د اهدافو په هکله خلک ګڼ نظرونه وړاندې کوي، ځینې وایي چې د امریکایانو هدف د افغانستان زېرمې او کانونه دي، ځینې بیا وایي چې په افغانستان باندې د امریکایانو د یرغل هدف د اسیا نیول دي، دا دوه نظرونه اوس په مطبوعاتو کې ډېر پر مخ دي، خو ما یوه ورځ د اسلامي امارت له یوه ډېر محترم شخصیت څخه واورېدل چې د امریکا هدف په افغانستان کې د اسلامي نظام له منځه وړل وو.

دا خو د خلکو نظرونه دي، خو که تاسو محترم راته ووایاست چې:

اول - د اسلامي امارت او امریکایانو او ناټو شخړه ستاسو له نظره په څه شي وه او ده؟

ځواب: د امریکا او ملګرو هېوادو مشکل یې له اسلامي امارت سره دوه علته درلودل، لومړی ښکاره او دوهم پټ علت:

ــ په ظاهره خو له اسلامي امارت سره د امریکاستونزه په افغانستان کې د شهید شیخ اسامه بن لادن رحمه الله په شتون او په نه ورسپارلو وه او ظاهرا امریکا په همدغه بهانه پر افغانستان یرغل وکړ.

خو په واقعیت کې زموږ هغه نظام چې سوچه اسلامي و او په اسلام د آګاهو خلکو لخوا رهبري کیده، امریکا او نورو کفري هېوادونوته د زغم وړ نه شو، ځکه تاسو پوهېږئ چې امریکا او نوره کفري نړۍ نه غواړي چې د نړۍ په کوم ګوټ کې د اسلامي شریعت په اساس واقعا سوچه اسلامي نظام مینځته راشي، اسلامي حاکمیتونه بیرته کفاروته د مسلمانانو د عروج زمانه ورپه یادوي او د کفري هېوادونو هغه ناروا ګټې له تهدید سره مخ کوي چې دوي یې همدا اوس د اسلامي نړۍ نه په زور، جبر او تجاوز سره ترلاسه کوي او تقریبا ټوله اسلامي نړۍ یې خپله مستعمره ګرځولې ده، که د نړۍ په کوم کونج کې کومه اسلامي سیاسي اډانه مینځته راځي نو په معاصر دور کې غرب یې نشي زغملی او په بیلابیلو بهانو ستونزې ورته جوړوي او په اخره کې حتی تجاوز او پوځي یرغل پرې کوي، د دې خبرې لپاره لاندې څو روښانه دلائل لرو.

ـ کله چې د طالبانو اسلامي تحریک کابل د شر او فساد څخه فتحه کړ او په لومړي ځل یې د اسلامي حکومت اعلان وکړ، هماغه مهال د اسامه بن لادن موضوع نه وه مطرح، خو امریکااو ځینې نورو هېوادونو نه یوازي داچې اسلامي امارت یې په رسمیت ونه پیژانده؛ بلکې ملګري ملتونه یې هم له دې څخه منع کول چې زموږ حکومت په رسمیت وپیژني، د دې خبرې علت ډیر ښکاره دی، هغه دا چې امریکا او ملګرو هېوادونو یې نه غوښتل چې یو اسلامي نظام په رسمیت ومني او برداشت یې کړي.

ـ له امریکایي تجاوز نه مخکې یوځل اسلامي امارت اعلان وکړ چې شیخ اسامه بن لادن رحمه الله له افغانستان څخه کوم نامعلوم لورې ته وتلی دی، خو امریکا د دې اعلان په غبرګون کې وویل چې موږ له طالبانو سره ډیرې نورې ستونزې هم لرو، تنها د اسامه موضوع نه ده، چې ښکاره اشاره یې په اسلامي اصولو ولاړ اسلامي حاکمیت ته وه.

ــ هغه اسلامي قوانين چې اسلامي امارت عملي کړي وو، غربي رسنيو يې پر ضد له حده زيات تبليغات کول او همداشرعي قوانين يې العياذ بالله بشر ضد او بې رحمه قوانين معرفي کول، د اسلامي قوانينو په وړاندې د امريکا همداډول چلند ښيئ چې دوی له اسلامي حاکميت سره څومره کينه او دښمني لري.

دوهم - په افغانستان باندې د يرغل پر مهال د امريکايانو او ناټو اهداف څه و؟

ځواب: په مخکې ځواب کې موږ اشاره وکړه چې په لوی سر کې د امريکا د تجاوز هدف د اسلامي حاکميت له منځه وړل و، چې اسلامي نړۍ بيداره نشي-او په ديني اصولو د ولاړو حاکميتونو انگيزه قوي نه شي.

خو له دې سره په څنگ کې يې داهم هدف و چې د افغانستان له جيوپوليټيک او جيو ستراتيژيک موقعيت څخه په استفاده په مرکزي آسيا او سيمه ييزو هيوادونو باندي د امريکا غير قانوني استخباراتي نظارت هم زيات شي له هغې جملې نه لاندي تشويشونه يادولای شو.

ــ د روسيې د هغه نفوذ کمول او مخنوی چې د منځنۍ آسيا په هېوادونو باندې يې لري، په دې توگه دې ته زمينه سازي چې د منځنۍ اسيا نفتي مواد او زيرمې دروسانو له ولکې را وايستل شي او غرب ته سوق کړل شي.

ــ د چين هېواد چې اقتصاد يې په ډېرې چټکۍ سره پر مخ روان دی او په اقتصادي ډگر کې يې په نړيواله سطحه امريکا ننگولې، بايد د امريکا او غربي هېوادونو ترنظارت لاندي راشي چې دا کار د افغانستان له موقيعته د نورو ځايونو په نسبت آســانه و.

ــ د ايران نظارت کول چې په سيمه ييزه کچه د امريکا رقيب دی او د خپلو گټو په وړاندې خطر ترې احساسوي اوبل داچې د اسرائيلو غوښتنه هم داده چې ايران قوت ته پرې نه ښودل شي.

ــ د پاکستان نظارت چې اتومي وسلې لري او په ممکنه خطر بدليدلای شي.

په مجموع کې د امريکا لپاره د خپلو رقيبانو او سيالانو څارنه او په ځانګړې توګه د منځنۍ آسيا څخه نفع وړل، د دې تقاضا کوي چې امريکا د سيمې په يوداسې هېواد کې پوځي شتون ولري چې هلته په ازاد لاس استخباراتي فعاليت وکړي او څوک يې مخه ونشي نيولای، نو اشغال شوی افغانستان په سيمه کې د امريکايي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره غوره نظامي او سياسي سنګر جوړيدای شي.

پورته دلايلوته په کتو امريکا دوه هدفونه درلودل يو د بالقوه تهديد مخنيوی چې د اسلامي حاکميت نه يي احساساوه، دوهم په سيمه کې د کنترول تقاضا چې امريکا او غربي هېوادونه يې لري، البته دواړه علتونه په ترتيب سره د اولې او دوهمې درجې درلودونکي وو.

درېيم - يرغلګر خپل هدف ته په کومو لارو او څومره رسېدلي؟

والسلام ستاسو ورور راشد

ځواب: دا يو مسلم حقيقت دی چې کفار کله هم د واقعي مسلمانانو سره په مقابله کې نه نهايي برياليتوب ته رسيدلي او نه هم خپلو دايمي ګټو او لويو اهدافو ته، نو بناء د پورته تاريخي واقعيت په اساس امريکا هم په افغانستان کې د برياليتوب چانس نه لري.

ــ **لومړی:** امريکا فکر کاوه چې د اسلامي امارت په وړاندې به جګړه ډېر ژر وګټي او بيا به بيرته وضعيت عادي حالت ته راوګرځوي، خپل هدفونه به په غير نظامي لارو ترلاسه کوي، په همدې اساس د امريکا پخواني جمهور رئيس بوش چې د جګړې پيلونکی و اعلان وکړ چې د افغانستان جګړه او هلته پيښې تهديدونه به په دوه کاله کې ختم شي او د جګړې پای به اعلانوي، خو موږ وليدل چې هسې ونه شول او يرغل ضد جهاد تر ننه پورې روان دی، دا د امريکا لومړنۍ ناکامي وه چې د جګړې اختيار يې له لاسه ووت.

ــ **دوهم:** امریکا دلته د ډېرو وحشتنو او ظلمونو له تکرار او د زیاتې قوې د استعمال، پراخې استخباراتي توجه او د بیلابیلو استراتیژیو له عملي کولو سره سره بیا هم تر ننه جګړه ونشوه ګټلای او داده په غیر مستقیم ډول یې خپله ناکامی منلې او د امریکا ملت هم له دغې جګړې ستومانه شوی چې دایي بله ناکامې ده.

ــ **دریم:** دافغانستان جګړې د دښمن د اقتصاد بنیاد وکیښ، دښمن په ښکاره اعلان وکړ چې د افغانستان په جګړه کې یې تر ٦ سوه ملیارده ډالر مصرف شول، په زرهاووعسکرو ته یې مرګ ژوبله واوښته او له رواني ستونزو سره مخ شول، خو پر ضد یې جهاد جاري او افغانان ورسره په پیاوړې روحیه مقابله کوي چې دایي هم ناکامي ده.

ــ **څلورم:** له هغه تهدید نه چې دوي ویره لرله (اسلامي حاکمیت او سلامي سیاسي نظریه) ترپخوا لا ډېر قوي شو، د خلکو خصوصا ځوانانو په اذهانو کې یې پر اخ ځای وموند، تاسو ګورئ چې د اسلامي حاکیمت د راوستو په موخه د نړۍ په مختلفو اسلامي هېوادونو کې همدا اوس مبارزې رواني دي، چې اکثره په کې د امریکا او غرب د ګټو سیمې دي، نو په دې ډول ویلای شو چې امریکا د اسلامي سیاست د مفکورې په مخنیوي کې هم پاتې راغلې او هلو ځلو یې معکوسه نتیجه ورکړې، چې دا یې هم ښکاره ناکامې ده.

ــ **پنځم:** د امریکا نړیوال وجاهت او سیاسي پوتنسیال په جدي توګه تر سوال لاندي راغلی، هغه حیثیت یې اوس نشته چې پر افغانستان له یرغل څخه وړاندې یې درلود، ځکه پخوا د نړۍ اکثره هېوادونو حتی مقتدرو هېوادونو هم د امریکا له تېرېو او تجاوز څخه ویره لرله او له مختلفو لارو یې د امریکا سره له ټکر او تصادم څخه ځان ساته، خو اوس له امریکاڅخه هماغه ویره په افغانستان کې د دوی د زور ازمایې، شکست او رسوایې له امله له منځه تللې او اوس د امریکا هغه پخوانی برم نشته، چې همدا هم امریکاته ښکاره ماتې او ستر زیان دی.

ـ شپږم: اسلامي امارت تر پخواپه قوي مورال او منظم شکل فعالیت کوي، د خلکو همکاري ورسره ډیره شوې، خاموش اکثریت یې د خپلو آرمانونو یواځنی پوره کونکی ځواک بولي، په جګړه کې یې د استقامت او میړانې له امله نړیوال شهرت ډیر شوی، له ډیرو موانعو سره سره لاهم د نړۍ ولسونه ورسره مینه لري، همکاري ورسره کوي او په نړۍ کې یې حیثیت لا لوړ شوی چې دا هم د اسلامي امارت ګټه او د امریکا ناکامۍ ده.

ـ اووم: اوس له امریکا نه لاره ورکه ده او حیرانه ده چې څه وکړي؟ څه ډول د افغانستان له جګړې څخه ځان په آبرومندانه ډول وباسي؟ له جګړې سره د خپلو خلکو مخالفت چې ګراف یې ډیر لوړ شوی څرنګ کنټرول کړي؟ نړیوالو شریکانوته خپله ناکامې او ماتې څرنګ توجیه کړي؟ اوپه ورته نورو مواردو کې د امریکامتزلزل دریځ او د پیښو او ننګونو په اړه بې ځوابه پاتې کیدل، دامریکا بله ماتې او رسوایي ده.

موږ ډاډه یو چې زموږ دجهاد په برکت او د افغان ملت د میړانې له امله به امریکا له سقوط سره مخ کیږي، په پای کې به لکه پخوانی شوروي له کورنیو ستونزو، مخالفتونو او اقتصادي ناورین سره مخ کیږي او په آخره کې به د افغانستان جګړه د امریکا لپاره په مرض موت بدلیږي چې هغه یې بیا وروستۍ ناکامې او بیخ کښل دي. ان شاء الله و ما ذالک علی الله بعزیز. مننه ۱۳/۴/۲۰۱۴م

❊ ❊ ❊

۸ـ د مخالفینو د دعوت او تسلیمۍ اړوند

زموږ گران مجاهده وروره السلام عليکم- - - - څنگه چې ټولو ته معلومه ده د هیواد تر ۸۰ سلنه کلي او ولسوالۍ گانې د مجاهدینو تـر واک لانـدې دي چـې د مجاهدینو هر شرعي امر په کې اجرا کیدای شي، اما زما دا پوښـتنه ده چـې ولـې مجا هدین په خپلو ساحو کې د خلکو دیني زده کړو ته توجه نـه کـوي؟ پـه کـلي کې جومات شته، امام شته امام معاش اخلي، مگر په سلو کې که پـه یـوه جومـات کې دیني درس او دیني وعظ وي، په نورو کې نشته همـدا علـت دی چـې زمـوږ کوچنیان بې تعلیمه پاتې کیږي او په دیني مسائلو نه پوهیږي. تمیم مجاهد

ځواب ـ وعليکم السلام! تمیم وروره ستاسو غوښتنه خورا پرځای او له احسا سـه ډکه ده، واقعا چې زموږ مساجد او هلته میشت ملا امامان خورا لوی مسئولیت لـري او د دین په برخه کې ډیر څه کولای هم شي، خـو ستاسـو لـه غوښـتنې سره سـم د اسـلامي امارت د تعلیم او تربیې څانگې همداکار پیل کړی او له ډیرې مـودې راهیسـې پـه هغـه ځایونو کې چې د اسـلامي امـارت د مجاهـدینو واک ټینـگ دی او موانـع نشته عمـلا همداسې پروگرامونه ترلاس لاندې دي او د پیاوړتیا لپاره یې هـم لازیـات کارونـه روان دي، په دې اړه د تعلیم او تربیې د پروگرامونو یوه کوچنۍ برخه لاندې تاسوته نقل کـوم چې د تعلیم اوتربیې د مسئولینو لخوا ستاسو د پوښتنې په رابطه وضاحت راغلی:

دکلیوالي مدرسو په برخه کې:

څرنگه چې زموږ اکثریت ملت په اطرافواوکلیوالي سیموکې ژوند کـوي اود ډېـرو تعلیمي اسانتیاوو څخه بې برخې دی نود هغوی د کوچنیانو لپاره پـه خپلـو کلیـو کـې د ابتدائي او ضروري دیني تعلیماتو لپاره د کلیوالي مدرسو جوړول د کمیسیون له اهـدافو

څخه یو مهم هدف دی چې په لاندې ځانګړتیاوو سره په دې برخه کې قدم اخیستل شوی دی:

الف: د دوی د تعلیم لپاره د کلیو ملا امامان مؤظف شوي دي ترڅو په ورځ کې اقلاً له (۲) څخه تر (دوه نیم) ساعته پورې د خپل کلي کوچنیانوته په مسجد یا یو کورکې درس ووایي.

ب: ترڅو چې د دوی لپاره یو ټاکلی نصاب جوړېږي مروّج دیني مضامین لکه

قاعده، قرآنکریم، شروط الصلاة، قدوري، پنج ګنج او د پخوانیو مجاهدینو د وخت د مکاتبو د لومړنیو دریو صنفونو کتابونه ورته ویل کیږي.

ج: پورتني کتابونه او ورسره نورتعلیمي مواد لکه قلم، کتابچه وغیره د کمیسیون لخوا ورته برابرېږي.

د: د هجرت په دیارکې هم کوشش روان دی ترڅو په کمپونو کې هم زموږ د مهاجرو کوچنیانو لپاره د تعلیم زمینه برابره کړو.

هـ: د دغو کلیوالي مدارسو لپاره د وخت اوشرائطو سره سم د دریو کلونو یو نصاب جوړ شوی اوچاپ ته اماده دی.

خو داچې تر اوسه څه شوي دي هغه کفایت نه کوي او لا باید دا دایره پراخه او لاهم عملي شي، زه ستاسو پوښتنې د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې د اړوندې موضوع له مسئولینو سره شریکوم او هیله من یم چې لا ګړندي ګامونه پورته کړل شي.

کوم خلک چې له امریکایانو سره په کمپونو کې کار کوي

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

مجاهدصیب زماپوښتنه داده چې هغه خلک کوم چې موږ ته معلوم دي هغه د امریکایانو سره په کمپ کې کار کوي او یا داسې شرکتونو کې کار کوي کوم چې امریکایانو سره مرسته کوي نو ایا داسې کسانو باره کې موږ څرنګه موقف

اختيار کړو که مجاهدينوته ووايوبيا خبره خرابيږي، تاسو يو پلان لرئ چې بايد هغه خلکو ته په تليفون او يا نورو واسطو باندې خبر ورکړئ او دوی مجبورکړئ چې امريکايانوسره کار پريږدي؟ د ځواب په هيله. مننه

ځوابـ وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته! وروره هغه کسان چې د امريکانو سره هرچيرې کار کوي، موږ هغو ته په بار بار د بيلابيلو لاروخبرداري ورکړي او پيغامونه مو ورته استولي او هم يې ور استوو چې زموږ د دين او وطن له يرغلگرو دښمنانو سره په هيڅ برخه کې کار او همکاري ونه کړي، خو اکثره داسې خلک هغه کسان وي چې په سيمه کې په نا اهلۍ او د خپل مور او پلار په نافرمانۍ کې نوم لري، داسې خلک په خپل سر د امريکايانو سره کار کوي او ځوډالر تر لاسه کوي، د هغو خپل خپلوان، پلار او ورونه او د کلي مشران د دې کار اجازه نه ورکوي، خو دا نااهله کسان بيا هم له امريکايانو سره په کمپونو او نورو ځايونوکې چوپړ وهي، په داسې خلکو باندې موږ هم خپلې غاړې خلاصې کړې دي، البته که دغه ډول کسان تاسو ته په خپله سيمه کې معلوم وي مجاهدينو ته يې په اړه معلومات ورکړئ، هغوی به اول خبر ور کړي چې دا کار پريږدي که يې نه پريښود نو بيا به مجاهدين له خپلو جهادي اصولو سره سمه سزا ورکوي، خوتاسو کوښښ وکړئ چې ځان لرې ترې وساتئ، که داسې کسان مو خپلوان او اقارب هم وي خپلوي او قرابت ورسره مه پالئ او اړيکې ورسره پرې کړئ. ۲۸/۴/۲۰۱۲م

مجاهدصاحب او د اسلامي امارت دويب سايت کارکونکو ته سلامونه او نيکې هيلې!

پوښتنه: د افغانستان له استقلال اوستاسو د واکمنۍ له راتگ سره به ستاسو سلوك د افغانستان د حکومت له کارکونکو سره څنگه وي، معافي به ورته کوئ او که له جزاء سره به مخامخ کيږي؟!

ځوابـ وعليکم السلام

زموږ چلندبه هر وخت له هرچاسره د مقدس شریعت له احکامو او لارښونو سره برابر وي، موږ له هیچا سره هم کومه شخصي موضوع او دښمني نه لرو او نه یې هم پالو، زموږ دښمنې او دوستي به له هرچا سره د لوي الله جل جلاله لپاره وي، هیله کوو په دې برخه کې هیڅوک هم تشویش او اندیښنه ونه لري. ۱۵/۴/۲۰۱۲م

السلام علیکم ګران مجاهد صاحب! د افغانستان ملي ټلویزیون هر ورځ اعلان کوي، چې په لوګر، لغمان، پکتیا، زا بل او نیمروز کې په سلګونو طالبان دو لت ته تسلیم شوي، دا حقیقت لري کنه؟ ډیره مننه احد

ځواب ــ وروره! دښمن ته یوازي همدغه تبلیغاتي لاره پاتې ده، نور خویي په ټولو برخو کې ماتې په برخه ده، دوی په ځینو ولایاتو کې کله جعلي پروسې جوړې کړي اوبیا یې میډیاته وښیي چې دا دی دومره مجاهدین راته تسلیم شول، داسې کارونه به پخوانیو کمونستانو هم کول، مګر ګټه یي نه وه ورته کړې، نو اوسنیو یرغلګرو او ګوډاګي رژیم ته یې هم ګټه نشته، ټول ملت د دوی په دروغو اوغلطو معلوماتو پوهیږي، ملت د دښمن تبلیغاتي چینلونه ښه پیژني او اعتبار نه ورکوي، موږ تاسو اوټول ملت ته ډاډ ورکوو چې زموږ جهاد یو شعوري او عقیدوي جهاد دی، هرفرد مجاهد د الله تعالی د رضا لپاره جهاد کوي نو کله هم د دنیا په متاع نه غولیږي او نه هم خپله عقیده او اسلامي باور پریږدي، نو هیله ده چې تاسو په دې اړه هیڅ تشویش ونه لرئ. مننه ۸/۴/۲۰۱۲م

* * *

۹ـ د کابل اداري د عسکرو او نورو کارکونکو سره دچلند په اړه

په وردگو ولايت کې طالبان د دولت له ملکي کارکونکوسره بده رويه کوي اوهغوی ته دکافر نسبت کوي، ښاغلی مجاهد صاحب اياستاسو په نظر د طالبانو دغه کړنه دانساني اواسلامي اصولو خلاف نه ده؟

هيله منديم چې دپوښتنې ځواب راکړئ. همدرد وردگ

ځواب ـــ ښاغلی وروره! هغه کسان چې دا اوس د کابل اداري په هره برخه کې دنده اجرا کوي هغوی په واقعيت کې د خپل اسلام، هيواد، خلکو، ملي گټو او ارزښتونو په خلاف عمل کوي، ځکه د دوی د کار او فعاليت په وجه لاهم د اشغال عمر اوږديږي او خارجي يرغلگر يې د کار او فعاليت نه گټه وړي او په همدې وجه يې معاشونه هم بهرني يرغلگر له خپله جيبه ورکوي، نو حتمايې گټه ورته رسيږي، ځکه بهرني ليونيان نه دي چې هسې خلکو ته پيسې ورکړې، بلکې د خپلو شومو غرضونو لپاره يې دغه خلک له آمره ترماموره گمارلي دي، نو دغه کسان که د کابل اداري په هر ه برخه کې فعاليت لري د معافيت وړ نه دي او نه بايد تاسو د هغوی په اړه چې همدا ستر جرم کوي د مدافع وکيل رول اداکړئ، خو په عموم کې چون مجاهدين له نظامي دښمن سره په جگړه بوخت دي، نو اړينه نه بولي چې د کابل اداري د ملکي مامورينو په وړاندې خپل وخت ضائع کړي، البته دا کار کله هم په دې معنی نه دی چې دغه مامورين ښه کار کوي، د اسلام پيغمبر صلی الله تعالی عليه وسلم فرمايي: (من کثر سواد قوم فهو منهم) يعنې څوک چې دچاډله ورزياته کړي دی له هغونه شميرل کيږي.

دپورته حدیث په رڼاکې هرڅوک چې د کابل ادارې یا مخامخ لـه خارجیـانو سره کار اوفعالیت کوي دوی په واقعیت کې دخپل اسلام، هیواد او خلکو د دښـمنانو ډلـه او شمیر ورزیاتوي، نو ددوی حکم هم د هغو (دښمنانو) دی، هیله ده چې تاسو هڅه ونـه کړئ چې دغه راز اشخاصو ته برأت ورکړئ.

مجاهد صاحب سلام!

مرتضی احمدي یم، په یوه نړیواله اداره کې د سروې او نورو برخو کې کـار کوم، دلته راته ښه امتیازات راکوي او زه پکې تر اوسه کوم کفر نـه گـورم، خپلـه هم ښه مسلمان یم، ستاسو په اند زما وژنه واجب ده؟

ځواب ـ وعلیکم السلام! وروره زه مفتي نه یـم چې د چا د مـرگ او ژونـد فتـوا ورکړم، خو دومره پوهیږم چې له یرغلگرو سره که هرچا په یوه نوعه هم مرسته کوله، لـه خپل هیواد، مقدساتو، ننگ او ناموس سره لوی خیانت کوي او تاسو ته بـه معلومـه وي چې په نړۍ کې هرهیواد له خپل هیواد او معتقداتو سره خیانت ترټولو لوی جرم بولي او ورته درنې سزا گانې لري، نو هیله کوم چې تاسو هم د خپل هیواد او دین په وړاندې لـه یرغلگرو سره چیرته ملتیا ونکړئ، ځکه چې بیا به موهغه ملت ته چې لکه تاسو غونـدې امتیازاتوسره نه، بلکې بمبار او وحشت سره مخ دی، عزت، مال، حیا او ملي نـاموس یـې گواښل کیږي، مخ سپین وي او که مو د یرغلگرو سره د څو ډالرو په عوض کې د خپل هیواد او خلکو پر ضد چوپړ کاوه، نو د ملت له خوا به ښښنه درته ونشي، خو خدای جله جلاله دې وکړي چې تاسو یرغلگرو پورې تړلـې کومـه اداره کـې پـه کـار بوخـت ونـه اوسئ. ۲۸/۳/۲۰۱۲م

جناب مجاهد صاحب احترامات تقدیم است!

محترما سوال من این است که ایا امارت اسلامی افغانسـتان دربرابرکارمنـدان ملکـی نظـام کنـونی درکشورموضـع مشـخص دارنـد ویـاخیر؟ بـه ایـن مفهـوم کـه اگرشخصـی بـه عنـوان کارمنـد دریـک اداره افغانسـتان کارمیکندوبعـدا بـه دسـت

نیروهای امارت اسلامی دستیگرمیشود درمقابل وی چه کاری صورت خواهد گرفت. باعرض حرمت

پاسخ ـ برادرمحترم ما دراین مورد قبلا هم موقف خویش را ابراز داشته ایم، اینکه اداره کابل توسط بیگانه ها به زور بمباردمان برملت ما تحمیل گردیده و همه کارکردگی های این اداره به نفع اشغال کشور وضد مجاهدین ومبارزین راه آزادی صورت میگیرد، پس کار کردن درچنین نظام روی ملحوظات اسلامی جایز نیست، البته بازهم اگرکدام کارمند دولتی به اسارت مجاهدین درامد طبعا که روی فیصله محکمه اسلامی نسبت به ثقل وخفت جرم، کار، وفعالیت آنها در اداره کابل با وی معامله صورت خواهد گرفت، ما دراین راستا از تأمین عدالت شرعی مطمئن هستیم. تشکر ۲۵/۳/۲۰۱۲م

مجاهد وروره السلام عليکم! الله دې مجاهدين کامياب کړي او کفاروته دې ذلت ورپه برخه کړي، ګرانه وروره زما سوال دا دی چې که اسلامي امارت يوځل بيا په افغانستان کې کامياب شي نو تاسو به له هغو خلکو اوجهادي مشرانو سره څه معامله کوئ چاچې له جهادنه ډېره وکړه او له کفارو سره ودريدل؟ والسلام منير

ځواب ـ وعليکم السلام! وروره ستاسو دسوال د اولې برخې په اړه دومره ويلای شم چې موږ به له هرچاسره هغه څه کوو چې مقدس اسلام يي راته حکم کوي، موږ د خدای جل جلاله بندګان يو او څه چې الله تعالی او رسول صلی الله عليه وسلم راته وايي هغه به ترسره کوو، موږ پخپل ذوق او فکر هيڅ تصميم نشو نيولای، ټولې پريکړې او فيصلې به مو د هرچا په وړاندې چې وي، د مقدس شريعت په رڼاکې ترسره کيږي، هرمسلمان افغان ته ډاډ ورکوو چې په حق کې به يې ظلم نه کيږي، چې د الله تعالی حکمونه په ځان عملي کړو نور به په هيڅ ځای کې هم څه مشکل نه پيښيږي او که څوک خدای مکړه د خدای جله جلاله نظام ته غاړه نه ږدي نو واضحه خبره ده چې پرموږ يې هم مقابله واجب ده او د الهي حکم په تعميل کې موږ مجبوريو

چې ټوله سعي او کوښښ وکړو، محترمه د خدای جله جلاله قانون او امر تـه بـه پـه هـر صورت کې غاړه ږدو، که مو خوښه وي یانه، مننه ۲۰۱۲\۳\۱۲م

پوښتنه ـ اسلامي امارت د هغو خلکوپه اړه چې له حکومت سره کـار کـوی، مثلا پولیس او یا پوځي وي ایا هغوی مرتد دي که نه؟ ځکه چې بعضي علـماء خـو وایې چې کوم کسان له کفاروسره کومک کوي، هغوی مرتد دي؟ میوند افغاني

ځواب ـــــ د پورته کسـانو پـه اړه فتـوا ورکـول د علـماؤ او مفتیـانو دنـده ده، خـو زه هغو ټولو افغانانوته چې د کرزي په اداره کې په امنیتي دندو بوخـت دي بلنـه ورکـوم چې دوی باید د خپـل مـلي غـیرت او اسـلامي ملکفیـت لـه مخـې، د خپلـو ورونـو پـه وړاندې وسله استعمال نه کړي، بلکې هغه وسله چې په لاس کې یې لري په ټـول تـوان او مهارت سره په هغو یرغلګرو ور واړوي چې زموږ او دوی ګډ هیواد یې اشغال کـړی، مقدسات مو راته توهینوي، خلک مو راته وژني او ځو نااهلـه غلـه او مشـهور مجـرمین یې راباندې مسلط کړي دي، دوی باید ټول اخرت په نظرکې ولري، د دنیـا ژونـد هسـې هم ډیر ژر تیرېږي، خو هغې ورځې ته چې موږ او دوی ټول ور روان یـو، د ذرې ذرې حساب پکې کیږي، نو د داسې جنایاتو او ظلمونو ځـواب بـه څـوک ورکـړي، چـې لـه یوې خوا یې د کفارو ملاتړ کړی وي او له بلې خوا یې په خپل هیواد کـې خپـل ورونـه او مسلمان هیوادوال وژلي او ځورولي وي او په نتیجه کې یې د اسلامي حاکمیت مخـه نیولې وي او د کفر تسلط او اشغال ته یې قوت ورکړی وي، نو د الله تعالی په دربـارکې توبه هروخت قبلیږي، هیله ده چې دغه امنیتي کسان چې د پردو په خـدمت کـې دي د خپل اسلام، هیواد او خلکو په خدمت کې ودریږي او د پردیو لـه چـوپړه لاس واخـلي. ۲۰۱۲\۳\۳م

مجاهد صاحب خـدای جلـه جلالـه دې وکـړي چـې روغ او جـوړ واوسـئ! پوښتنه مې داده چې د مسلمان قتل فقط چې کلمه ووایې په کوم ایات او په کوم

حدیث جایز دی، لکه څنګه یې چې تاسې قتلوئ، ایا دا په اسلام کې شته؟ والسلام. حسین

ځوابــ ښه به داوای چې همداپوښتنه دې له کوم مفتي صاحب نه کړې وای اوځان دې ښه مطئن کړی وای، خو زه هم چې څومره پوهیږم ځواب درکوم، لومړی خو په شریعت کې بیلابیل داسې جرمونه شته چې له امله یې یو مسلمان سره له دې چې مسلمان هم وي مرګ یې جایز کیږي، لکه یو سړی واده ولري اوبیا هم زنا وکړي، مرګ یې جایز دی سره له دې چې مسلمان دی، یا یو سړی مسلمان دی بل مسلمان په قصد سره قتل کړي، نو مرګ یې جایز دی او وربانـدې قصاصیږي سره له دې چې مسلمان دی اوبل هغه مسلمان چې ځانته مسلمان وایې خو د ظالم سره ودریږي او له هغه سره کومک وکړي او دی پوهیږي چې د ظالم سره مرسته کوي نو دلته یې مرګ مباح دی، پیغبرعلیه السلام یې په اړه داسې فرمایي: (من مشی مع ظالم لیقویه ویعلم انه ظالم فقد خرج من الاسلام ــ رواه بهیقی ــ مشکوة باب الظلم صفحه۴۳۶)

ترجمه: څوک چې له ظالم سره ملګرتیا او همکاري د دې لپاره کوي چې قوي یې کړي او دی پوهیږي چې هغه ظالم دی، نو دغه کس له اسلامه ووت.

بل ځای د حنفی فقهې په معتبرکتاب فتاوا هندیه کې داسې لیکل شوي (وقطاع الطریق وجمیع الظلمة والاعوان والسعاة یباح قتل الکل ویثاب قاتلهم ــ کذافی النهرالفائق. فتاوای هندیه جلد۲ صفحه ۱۶۷) ترجمه: هغه کسان چې لارې شکوي او ټول ظالمان او مرستندویان یې چې د ظلم او فساد په خپرولو کې کوښښ کوي، د ټولو قتل مباح دی او قاتل ته به یې الله اجر ورکوي.

د مشهورې او معتبرې فتاوی (الفتاوی الکاملیة) په (۲۵۰) مخ کتاب الجنایات کې راغلي دي:

سئلت عن بلدة استول علیها الکفار وتمکن منها، فانضم الیهم بعض القبائل والعشائروصاروا یقاتلون معهم المسلمین، وینهبون مالهم، و ینصحون الکفار و یعینونهم

على اذى المسلمين فكانوا اشدّ ضررا على المسلمين من الكفار فما الحكم فيهم وهذا حالهم....... و الظاهر ان الحكم هولاء حكم اهل دارالحرب فى قتلهم، وأخذ مالهم.

ترجمه: صاحب د فتاوا کاملې فرمايي: له ماڅخه د هغه ښار په اړه پوښته وشوه چې کفار پرې غلبه وکړي او اشغال يې کړي، بيا د مسلمانانو ځينې قبائل او ډلې له کفارو سره د مسلمانانو په خلاف ودريږي و د مسلمانانو په خلاف جنګ وکړي، د مسلمانانو مال لوټ کړي، د کفارو خيرخواهي پيل کړي او له هغو سره په ضد د مسلمانانو کومک کوي او د مسلمانانو لپاره دوی په ضرر کې له کفارو نه هم باندې وي، نو په دې حال کې د دوی حکم څه شی دی؟

(صاحب د فتاوی کاملې وروسته له تشريح څخه وايي) ظاهر خبره ده چې د دغو له کفارو سره ولاړو مسلمانانو حکم د اهل حرب د کفارو حکم دی، په وژلو کې او په مال اخيستلو کې (يعنی دغه له کفارو سره ولاړ مسلمانان به لکه کافران وژل کيږي او مال به هم ورسره اخيستل کيږي).

پورته کسان چې اسلام يي د قتل حکم کوي او حتی قاتل ته به يې الله تعالی اجرونه هم ورکوي، داټول مسلمانان دي خو سره له اسلامه چون د خپل دين او خلکو په ضدله ظالمانو سره يو ځای شوي او د هغوی ملايې تړلې ده، مرګ يې جايز دی، نو د سوال کونکي لپاره به دغومره دلايل کافي وي چې يو څوک سره له دې چې مسلمان هم ځانته واي، خو د شريعت له نظره يې مرګ او قتل ثواب لري، دا ډول مسايل شريعت ښه تشريح کړي، که ته په دې اړه نور معلومات غواړې نو يو داسې عالم ته ورشه چې په دين کې معلومات او پوهه ولري قناعت به درکړي.

ممکن ستا د سوال مطلب د هغو کسانو پر وژنه اعتراض وي، چې دا اوس له امريکايې اشغالګرو سره ولاړ دي، د هغوی په امر د مسلمانانو کورونه ورانوي، ښځې، ماشومان او بوډاګان شهيدانوي او د امريکايي ګټو د ساتنې لپاره د خپلو خلکو، دين او هيواد پر ضد هر ناروا عمل ترسره کوي او ځان مسلمان هم بولي، نو د پورتنيو معلوماتو

له مطالعې نه وروسته ته کولای شې په اسانۍ سره هغه کسان د خپل دین په رڼا کې وپیژنې چې مجاهدین یې وژني، ایا هغوی په فسادکې سعي کونکي نه دي؟ ایا هغوی د نړۍ له لوی ظالم ځواک امریکا سره مرسته نه کوي، سره دې چې پوهیږي امریکا په نړۍ کې یو ظالم او غاصب قوت دی؟ ایا دغه ستا دوستان چې ممکن ته یې په وژلو خپه یې د کفارو سره معاونت اوکومک نه کوي؟ له امریکایي اشغالگرو سره په گډه په نیمه شپه کې د افغانانو پر کورونو څوک یرغل کوي؟ څوک دي چې د څو ډالرو په بدل کې خپل مسلمان ورونه نه پرېږدې چې ځان امریکایانو ته ورسوي او برید پرې وکړي؟ په زرهاوو مظلوم هیوادوال چې اکثره یې دیني عالمان او حافظان دي او زموږ د هیواد په شمول په ټوله اسلامی نړۍ کې د خاص احترام وړبلل کیږي، څوک یې په استخباراتي اداروکې ترسختو شکنجو او سزاگانولاندې نیسي؟ ایاهمدغه ستامسلمانان نه دي چې عملاً د امریکایي یرغل ملاتړکوي او دلته د امریکایي مجرمینو سره په هرجرم او ظلم کې شریک دي؟

هیله کوم زما پورتنی نسبتا اوږد ځواب دپوهې او عادلانه نظر له مخې وگورې.
مننه ۲۰۱۲/۳/۱م

جنگ ولې نه دروئ؟

مجاهد صیب تاسو جنگ ولې نه بس کوئ؟ ستاسو جگړه د امریکایي ځواکونو د موجودیت سبب دی، که تاسو جگړه ودروئ، امریکایان له افغانستانه وځي؟ فریدالله

ځواب: محترمه وروره موږ خو جنگ نه دی پیل کړی، بلکې امریکایانو پرموږ جنگ تحمیل کړی دی اوزموږ هیواد یې په زور اشغال کړی دی، که امریکایان ووځي د جنگ عوامل به له منځه لاړ شي، مگر که مجاهدین جنگ بس کړي څوک به دا تضمین ورکوي چې امریکایان وځي؟ افغانستان کې مثالي امنیت او عدالت تامین و، امریکا زموږ پرهیواد وحشیانه یرغل وکړ، هماغه مثالي امنیت یې په او سني جنگ

تبدیل کړ، اسلامي نظام یې له منځه یووړ او یو مفسد او ګوډاګی رژیم یې د زر او زور له لارې پر افغان ولس تحمیل کړ او له افغانستانه یې په سیمه ییزه کچه د خپلو ګټو د دفاع سنګر جوړ کړی، زموږ وینه، ارزښتونه او مال یې له منځه وړي او لا یې هم د ګران هیواد په لر اوبر کې د وحشت لړۍ جاري ده، په دغسې حالت کې موږ بیله مقاومت او جنګ نه بل څه کولای شو؟ محترمه زموږ جنګ جهاد دی، او دا یوه الهي فریضه ده، همدا جهاد نه موږ په خپل خواهش پیل کړی او نه یې هم په خپل خواهش پای ته رسولای شو، بلکې الله تعالی را باندې فرض کړی تر څو چې فرض وي کوو به یې او چې کفار ووځي، اسلامي نظام را شي نو د جهاد هدف حاصل شو، بیا به جنګ دریږي. مننه ۲۰۱۲|۲|۱۶م

* * *

۱۰ـ د نظامي عملیاتو او بریدونو په اړه

مجاهد صاحب سلامونه او نیکي هیلي مې ومنه! الله دې ستاسې دا بې نظیر او بې مثال خدمت په خپل دربار کې قبول کړي، مشوره مې داده چې د نوي کال عملیات چې ژر اعلان شوي وای، زما په فکر په دښمن به یې د کال له پیله بد تاثیر کړی او روحیه به یې ضعیفه شوې وای. خپلواک

ځواب ـ وعلیکم السلام وروره په دې اړه زموږ نظامي کمیسیون په کار بوخت دی او خپل ټول لوازمات برابروي او د هیواد د هوا د حالاتو سره سم به ان شاءالله په ټول هیواد کې په ډیر نیزدې راتلونکي کې عملیات پیل او اعلان شي، هیله ده په دې هکله مطمین اوسئ. ۲۱/۴/۲۰۱۲م

ستاسو دکامیابۍ په هیله!

زما پوښتنه داده چې تاسې د افغان حکومت سره د خبرو لپاره چمتویاست، که ځواب مو مثبت وي، نو ستاسو شرطونه څه دي. والسلام وردګ

ځواب ـ نه، موږ د کابل اداري سره خبروته چمتو نه یو، ځکه هغوي بي واکه دي، د تصامیمو او پریکړو صلاحیت او کفایت نه لري، نو موږ نه غواړو په تشو او بې ګټو خبرو خپل وخت ضایع کړو. مننه ۲۱/۴/۲۰۱۲م

السلام علیکم ورحمته الله وبرکاته! زه د مینې نه ډ ک ډ ک سلامونه ټولو مجاهدینو ته او طالبانو ته ډالۍ کوم، په بریاوو مو خوشحاله یم او الله تعالی مو کامیابه لره، دعاوې درته کوم.

پوښتنه مې داده تاسې چې په کابل کې کوم عمليات وکړل، موږ ته يې سم معلومات ونه رسيدل، نو که تاسي يې لږ راته واضح کړئ چې دښمن ته مو څومره تلفات واړول؟!. والسلام ستاسي ورور احسان الله نعيمي

ځوابـ وروره تاسو ملامت نه ياست په اصطلاح ازاده ميډيا زموږ غږ په داسې موضوعاتو کې نه خپروي او د کابل په دا وروسيتو عملياتو کې يې هم يوازي د دښمن هغه ادعاوې خپرولې چې ويل يې خير اوخيرت دی، کوم زيان نه دی ورته رسيدلی، د دې لپاره چې تاسو اگاه شئ زه د هغې ورځې خبرپاڼه چې ټولو رسنيو ته مو استولې وه تاسو ته هم دلته وړاندې کوم، اميد شته چې تسل مو پرې وشي. مننه

خبـــرپاڼـــه:

په هيواد کې د تيرو شلوساعتونو په لړ کې د ترسره شوو بريدونو او استشهادي عملياتو په اړه جزيات:

داچې پرون شاوخوا يوه بجه د هيواد مرکز کابل او د ريو نورو ولايتونو ننگر هار، لوگراو پکتيا کې گڼ فدايي بريدونه پيل او تراوسه (نن ۱۱ بجې) هم د لوگر په ولايت کې لا دوام لري تر دې گړی د ټولو پيښو جزيات په لاندې ډول دي:

په کابل کې په مهمو نقطوکې بريدونه وشول چې د پارلمان له ودانۍ سره نيژدې ۴ تنه فدايي مجاهدين، په شيرپورسيمه کې ٦ تنه، د پلچرخي سيمه کې ۳ تنه استشهادي مجاهدين ځای په ځای شوي وو چې د غربي يرغلگرو هيوادونو سفارتونه، دارگ ماڼۍ، دارالامان ماڼۍ، د پارلمان ودانۍ، د ايساف قومندانۍ او يوشمير نور لوي اواړه هدفونه تربريد لاندې ونيول شول او ټول درې موټر د ريموټ کنټرول په وسيله هم په دښمن منفجرکړل شول، د ابتدايي معلوماتو په بنسټ ۹۳ تنه بهرني او کورني عسکر او پوليس او يوشمير نور غربي مامورين قتل او ټپيا ن شول.

د ننگرهار په دوو ځايونو پي ار ټي او هواي ډگر د ۸ تنو مجاهدينو لخوا بريدونه ترسره شول چې پکې يو موټربم وو، بريدونو څلور ساعته دوام وکړ او په پي ار ټي کې

۳۵ تنه بهرني او داخلي استخباراتي عسکر قتل او یو شمیر نور ټپیان شول او هم په هوایي ډګر کې تر ۲۷ تنو پورې بهرني عسکر قتل او ټپیان شول.

د پکتیا په ولایت کې ۳ تنه فدایي بریدکونکو برید وکړ چې جګړه د شپې ترناوخته روانه وه او ټول پکې تر ۳۰ تنه داخلي پولیس او عسکر قتل او ټپیان دي دلته د ریموټ په وسیله یو موټر بم برید هم شوی.

د لوګرپه ولایت کې د ٦ تنو امریکایي عسکرو په ګډون ۲۹ تنه داخلي پولیس، عسکر او استخباراتي کسان قتل او زیات شمیر نورهم ټپیان شول، خو باید یادونه وکړو چې په یاده سیمه کې تراوسه (نن ۱۱ بجو پورې هم) د مجاهدینو لخوا کلک مقاومت روان او د ریموټ په وسیله یو موټر بم برید هم ترسره شوی دی.

په دغو ټولو بریدونو کې چې په ټولیزه توګه ۲۲ ساعته وغځیدل زموږ ۳۰ تنو فدایي مجاهدینو برخه درلوده چې مجموعا یې ۲۲۰ تنه بهرني یرغلګر عسکر او کورني تالی څټي په کابل، ننګرهار، پکتیا او لوګرکې تراوسه قتل او ټپیان کړل او لله الحمد ملکي خلکو ته ډیر کم زیانونه رسیدلي چې د داسې عملیاتو په ترسره کولو سره دایو لوی احتیاط وو. ۲۱/۴/۲۰۱۲م

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زما پوښتنې ډیرې دي که ټولوته تفصیلي ځواب راکړئ مهرباني به مو وي، پوښتنه: امریکایان او د کرزي حکومت فکر کوي چې تاسو په دوی باندې سر کال حملي او بریدونه ډیر کړي دي، که رښتیا ستاسو بریدونه سږکال د تیرو کلو په نسبت ډیر شوي وي، نو علت یې څه شی دی؟ خالد، ننګرهار پوهنتون

ځواب: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

خالد احمده وروره! تاسو پوهیږئ چې زموږ جهاد او مبارزه دیوه هدف لپاره ده، ترهغو چې بهرني ځواکونه په بشپړ ډول مات شوي نه وي او زموږ هیواد د اشغال له منګولوڅخه نجات نه وي موندلی، په هیواد کې د اسلامي نظام استحکام او پراخیدا ته

زمینه نه وي مساعده شوې، موږ باید مبارزه وکړو او د هرې ورځې په تیریدو سره دغلیم په وړاندې ګړندي او لا مؤثر ګامونه واخلو، سږ (۲۰۱۴م) کال د نورو کلونو په نسبت زموږ د مجاهدینو تعداد لا ډیر شوی، اولس مو لا ډیر د جهاد عملي میدان ته راوتلی، بلخوا بهرني ځواکونه د تیښتې او ځان ټولیدو په حال کې دي، موږ باید هغوی تعقیب کړو، تلفات ورته واړوو، ګوزارونه پرې وکړو، پسې وایې خلو او هرڅه ژر د اسلامي نظام استحکام ته لاره هواره کړو، دکابل اداري وسله وال هم چون هغه کوي چې د بهرنیو ځواکونو په ځای دوی زموږ مخته خنډونه ایجاد کړي، د بهرنیو لخوا په شاتپول کیږي او زموږ د ولس او د افغانستان د دوو سترو جهادونو د آرمانونو او ملي ګټو په لاره کې موانع ایجادوي، نو موږ اړیو چې د فساد د جرړو دله منځه وړلو په منظور، د هیوادوالو د ژغورلو لپاره، او دفساد دسعي کونکو د محوه کولو لپاره په هغوی بریدونه ډیر کړو، سیمې ترې پاکې کړو او ملت ته، د شریعت د سپیڅلي نظام لاندي د آرام ژوند کولو فرصت برابرکړو، د دغو ټولو اهدافو لپاره موږ په دښمن باندي بریدونه ډیر کړي، پراخ کړي او لابه یې هم پراخ کړو، ان شاءالله، تاسو پوهیږئ چې د دښمن له صف څخه هره ورځ ګڼ شمېر عسکر، پولیس او اربکیان را جلا کیږي، دیرغلګرو کفارو له ملاتړه لاس اخلي او داسلامي امارت مجاهدینو ته تسلیمیږي.

د دښمن په وړاندې زموږ روان جهاد په څو مختلفو بعدونو کې جریان لري:

ــ په نظامي برخه کې د بهرني او مزدور دښمن ځپل روان دي.

ــ په دعوتي برخه کې د دښمن په وړاندې مبارزه ګړندۍ شوې او د دښمن له صف څخه په زرهاوو کسانوته نجات ورکړل شوی او دجګړې له لیکو څخه را ایستل شوي دي.

ــ د پیغام رسولو په برخ کې د اسلامي امارت فرهنګي کمیسیون د خلکو د اذهانو په تنویر او جوړولو کې خپلې هڅې د آنلائن، چاپي، غږیزو، تصویري او صوتي لارو څخه ګړندۍ کړې دي.

زموږ مجاهدین د اسلامي امارت د مدبرانه رهبرۍ په سیورې کې هڅه کوي چې د دښمن په ټولو فعالیتونو باندې ګوزارونوته ادامه ورکړي، د دښمن دستګاه فلج کړي، بهرني اشغالګر ځواکونه د ماتې او منډو په وخت کې هم لا ښه ډیر وځپي، ترڅو زموږ د هیواد په اړه د دوي ناسم برداشت او غلط پوهاوی اصلاح شي او په آینده کې بیا دې ویاړلي او ننګیالي ملت ته په سپکه ونه ګوري.

دوهمه پوښتنه مې داده چې پخوا تاسو تعرضي بریدونه نه کول، خو سږکال ډیر لوی لوی بریدونه وشول، له تعرضي بریدونوڅخه مو هدف څه شي دی؟

ځواب: ما مخکې هم وویل چې د دښمن پراخه ځپنه او مظلوم ولس ته نجات ورکول زموږ فریضه ده او باید د دې هدف لپاره خپله جهادي مبارزه قوي او پراخه کړو، د تعرضي جګړې په اړه هم باید ووایم چې پخوا زمینه دې ته لږ مساعده وه چې موږ له شریرو عناصرو څخه د هیواد کلي او کورونه وژغورو او سیمې ترې پاکې کړو، ځکه زموږ ډیره توجه دبهرنیو اشغالګرو ځپلو ته وه چې په ټول هیواد کې ډیر شیندل شوي وو او هرځای یې مراکز او کمپاینونه جوړ کړي وو، خو اوس چې بهرني اشغالګر عسکر د تیښتې په حال کې دي او خپل مراکز یې ډیر تخلیه کړل، خپل عسکر یې خپلو نسبتا لویو مرکزونوته انتقال کړل، دلرې او کلیوالو ساحوڅخه د لویو ښارونو خواته را ټول شول او دتښتې نوبت ته انتظار باسي، نوځکه موږ د بهرنیو اشغالګرو د ځپلو له کار څخه په ډیرو سیمو کې فارغ شوي یو، بنا اوس نو زموږ دیني او ملي مکلفیت دی چې له مزدورو عناصرو او غلامانو څخه خپل اولس ته نجات ورکړو، تاسو ته معلومه ده چې داربکیو پروژه خورا ناوړه او شریره پدیده ده، د هغو له ظلم او زیاتي څخه د خلکو نجات زموږ بله دنده ده او باید ترسره یي کړو، په مجموع کې د کابل اداري د وسله والو د ځپلو لپاره موږ لوی تعرضي عملیات ترسره کړل، امید دی چې ان شاءالله د کال تر پایه به لاډیرې سیمې او ولسوالۍ د دښمن له هرډول وجود څخه پاکې شي او خلکوته به د آبرومندانه آرام ژوند کولو زمینه برابره شي. ان شاءالله تعالی

دريمه پوښتنه: د تعرضي جګړې لپاره ډېر کسان هم په کار دي، نو آيا ستاسو مجاهدين لا هم ډېر شوي دي؟

ځواب: هو الحمدلله زموږ د مجاهدينو تعداد په ټول هېواد کې ښه ډېر دی او د هرې ورځې په تيريدو سره لا هم ډيريږي، خلک جهادي صفوفو ته رادانګي، تاسو وليدل چې موږ په هلمند، کندز، فارياب، غور، بادغيس، کندهار، ننګرهار، لوګر، زابل، نورستان او نورو سيمو کې په دښمن خورا پراخ تعرضي او ډله ييز بريدونه ترسره کړل، چې دښمن سخت تلفات وليدل، پوستې يې پريښودې او ډيرې لوې سيمې ترې پاکې او تصفيه شوې. موږ د تعداد له پلوه په مجاهدينو کاملا ډاډه يو، حتی اکثر خلک جهاد ته تيار دي خو موږ ورته وسلې، اکمالات او لازم توکي نشو رسولای.

څلورمه بله پوښتنه داچې امريکا له افغانستان څخه وځي، نو که طالبان د پخوا په نسبت لا پسې قوي شوي وي، نو آيا امريکا ناکامه نه شوه، چې نه تنها داچې طالبان يې ختم نه کړل بلکي لاترې قوي شول او لا پسې ډير شول؟

ځواب: امريکاخو برالا او خورا ښکاره ناکامه او له ماتې سره مخ ده، اوس مجاهدين د امريکايي تجاوز د پيل له وخت څخه لا ډير پياوړي شوي، لا ډير منظم شوي، لا يې ډيرې تجربې زده کړي او ان شاءالله لا ډير څه کولای شي.

امريکايان ادعا لري چې په افغانستان کې يې جګړه په مسئوليت سره ختمه کړه او داسې وانمود کوي چې نور يې دلته کار خلاص کړ او خپلو اهدافو ته ورسيدل، خو که واقع بين واوسو، داهرڅه مطلق غولول او دروغ دي، امريکا افغانستان او بيا عراق باندي په خپل تجاوز سره په نړيواله سطحه مسلمان ځوانان بيدار کړل، مسلمان جهادي تنظيمونه يي سره منظم، سره نيږدې او همآهنګه کړل، دا اوس تاسو ګورئ چې د نړۍ په تقريبا ۱۲ اسلامي هېوادوکې مسلمان مبارزين، ځوانان او بادرکه خلک د امريکا په ضد په جهاد اخته دي.

په افغانستان کې امریکایانو د یومفسد رژیم په جوړولو او ساتلو سره زموږ ملت راوپښن کړ او دې ته یې متوجه کړ، چې که د زور او تورې د لارې امریکایان مات نه کړي، نو امریکایان به یې د خپلو ظالمو لاسپوڅو په وسیله، عزت، ناموس او مال ټول ولوټي، همداراز په معنوي برخه کې د امریکایانولخوا د اخلاقي فساد په پروژو سرمایه ګذاریو، ملت دې ته متوجه کړ چې که نور هم آرام کښیني او د حالاتو نظاره وکړي دین، ایمان اسلامي اخلاق او اسلامي تعلیم به له ټولنې څخه د امریکایي ډالرو او مشوِقاتو په وسیله کډه وکړي او افغانان به د کمونستي مفکورې غوندې له یوبل جدي کفري خطر (بې دینی) سره مخ وي، دا ټول شیان د دې باعث شول او لا دي چې ملت په هوښیارۍ او درک سره د مجاهدینو تر شا ودریږي، د هغو داعیه خپله داعیه وبولي، د هغو آرمان د ټول ملت آرمان وبولي او اوږه په اوږه د اشغال، کفر او فساد په خلاف په جهادي مبارزه کې ونډه واخلي، موږ په مخکني ځواب کې وویل چې اوس جهادي صف ته د عامو افغانانو خصوصا بادرکه ځوانانو مراجعه دومره ډیره شوې ده چې موږ یې تقریبا له اکمال او پاللو څخه عاجزه کیږو.

دغه راز حالت موږته په خورا وضاحت سره څرګندوي چې امریکا په افغانستان کې د ابد لپاره ماته شوې، هیڅ لاسته نه دي ورغلي، نړیوال حیثیت یی ختم شو، په نړۍ کې یي د یو نه ماتیدونکي قوت په توګه پیژندل اوس هسې د خنداوړ وهم او تصور ښکاري، په افغانستان کې د امریکا ماتې په نړۍ کې نور ملتونه دې ته وهڅول چې د امریکا په وړاندې مبارزه یوازنۍ لاره ده چې ملتونو ته آزادي ورکولای شي، حتی یوه قطبي نړۍ چې د شوري اتحاد له ماتیدو وروسته منځته راغلې وه اوس بیرته په دوه قطبي حتی په څو قطبي بدله شوه، روسیې د امریکا په وړاندې جرئت پیدا کړ، ایران د امریکا په وړاندې ودرید او داسې نور ډیر ورځني تحولات د دې ګواهي ورکوي چې امریکا نور د اکسپایر کیدو په حال کې ده او نړۍ له دغه شریر ځواک څخه نور د خلاصیدو په درشل کې قرار لري. ان شاالله. ۷/۹/۲۰۱۴ م

در مورد حادثه غازی اباد کنر

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

امیدوارم که صحتمند و سلامت باشید! یک پرسش برای من پیش آمده وآن اینکه چرا دشمن حمله غازی آباد کنر (که بالای یک بیس نظامی دشمن حمله شده و تلفات سنگین وارد گردید) را اینقدر بازتاب داد؟ مجاهدین سابق بر دشمن حملات خطر ناکتر کرده بودند وافراد بیشتری را به قتل رسانده بودند ولی این بار بسیار مسئله رسانه ای شد چرا؟ اجمل

پاسخ۔ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

به گمان اغلب چند چیز باعث شد که دشمن رویداد غازی اباد را بیشتر از حوادث قبلی جلوه دهد:

۱ـ حمله بر مرکز نظامی در غازی اباد تنها حمله بر یک پوستهء دشمن نه بود، بلکی مجاهدین یک مرکز (بیس) مهم دشمن را ریشه کن ساختند که در ان تلفات جانی ومالی زیادی را متحمل شدند، همچنان حذف چنین مرکز مهم بر روحیه عساکر دشمن حتی افسران نظامی اداره کابل بسیار تأثیر عمیق منفی داشت، پس دشمن هم قضیه را پذیرفته و به نفع خود رسانه هارا در توجیه نمودن حادثه به طرف همدلی با عساکرمزدور به کار گماشت.

۲ــ در ابتداء حمله وپخش راپورها، قومندان قول اردوی ننگرهار با شمول سایرنهادهای بلندپایه نظامی در شرق، کاملا از حادثه غافل ماندند، تصمیم گیری در مورد پخش راپور رویداد، به دوایر ملکی اداره کابل واگذار شد و آنها در کتمان حادثه مثلی که در صفوف نظامی دشمن معمول است مهارت نه داشتند وحتی از طرف والی اداره کابل در کنر حادثه پذیرفته شد و تعداد کشته هارا نیز تاحد زیات اعلام کردند، که این غفلت سران نظامی در زون شرق و واگذاری امر به والی کنر خود سبب شد که رسانه

ها حادثه را بازتاب دهند، و اداره کابل هم در توجیه حادثه مکررا سعی نمود تاوضعیت را دیگرگون نشان دهد و اذهان عامه را از ناتوانی و غلفت خود به طرف مسئله دیگری محول نماید و ادعا نمود که حمله ازطرف استخبارات کشورهای همسایه صورت گرفته، ویا مجاهدین کشورهای دیگر در رویداد دست داشتند به دین وسیله دشمن سعی نمود توسط دروغ پراگنی ها مردم را تحت چتر فریب قرار دهد.

۳ــ علت سوم بازتاب رسانه یی رویداد غازی آباد این بود که در مرکز مذکور بیشتر اعضای گروهک شر وفساد سابق (افراد ربانی و مسعود) آسیب دیدند، آنها روی مشکلاتی داخلی در اداره کابل از حادثه به نفع خود و زیر فشار آوردن اداره کرزی استفاده نمودند وفغان شان بیشتر بر امد.

۴ــ حادثه غازی آباد در زمانی رخ داد که کمپاینهای انتخاباتی اداره کابل هم در اوج خود قرار دارند، پس چینلهای که وابسته به کاندیدان انتخابات هستند، هرکدام از حادثه به نفع خود استفاده کردند که طبعا رسانه ها را نسبت به حوادث قبلی در این رویداد بیشتر مصروف ساخت.

مشوره:

د قدر وړ محترم مجاهد صاحب سلامونه مي ومنئ! غواړم يوه مشوره درسره شريکه کړم اوهغه داچې په هيوادکې دننه د صليبي ټلوالې په وړاندې لـه ډيرې مودې راهيسې د بدر ترسپيځلي نامه لاندې عمليات روان دي، که نظامي ملګري د بدرعملياتو ته د يوې لړۍ بڼه ورکړي اوهغې ته بيلې کړۍ ونومويي، دابه زما په فکر ابتکار وي چې هم دوی خوشحاله وي اوهم موږ په درنښت مجاهد

ځواب ــ وعليکم السلام! محترمه ورورو زه بـه ستاسو مشوره ترنظامي او نورو اړونده مسؤ لينو پوري ورسوم او هيله ده چې لازم غور به پرې وشي، مننه ۵/۴/۲۰۱۲م

نوی کال، نوي عمليات:

مجاهدصــيب او د اســلامي امــارت ټولــو کــارکونکو تــه السـلام علــيکم! مجاهدصيب زما پوښتنه داده چې په نوی کال کې ستاسـو عمليـات پـه څـه نامـه دي؟ د ځواب په هيله ذاکر افغان

ځوابـ وعليکم السلام! څرنګه چې په هيواد کې تازه پسرلی پيل شـوی او زمـوږ پسرلني عمليات به لکه د پخوا په څير په نوي نوم سره پيل او نومول کيږي، خـو تراوسـه پوري په دې اړه نهايي تصميم نه دی نيول شوی، نظامي ملګري په کاربوخت دي چـې کله يي نوم اعلان شو، تاسو او ټـول هيـوادوال بـه يـې د مطبوعـاتو لـه لارې واورئ، ان شاءالله، دعا کوئ چې روان کال هم د تير کال د البدر عملياتو غوندې د برکته ډک نوم ور ته غوره شي، تر اوسه لا هم دبدر په نامه زموږ عمليات ادامه لري. ۲۴/۳/۲۰۱۲م

السلام عليکم مجاهد صيب!

مجاهد صيب نړيوالو ته روښانه ده چې پښتانه لاهـم جهـاد تـه دائمـا متعهـد دي او په هره زمانه کې لومړني قربانيان هم دوی وي، نـو زمـا پوښـتنه داده چـې ولې دغه جګړه په هغو سيمو کې نشته چې هزاره ګـان او ازبکـان پکـې اوسـيږي؟ ماته د دغه پوښتنې ځواب ووايه، زه له ډيره وخته دغسي ځواب ته انتظار يم. پـه درناوي وحيدرحيمي

ځواب ـ وعليکم السلام! ورور موږ بايد کوښښ وکړو چې د خپل ملت هرقشرـ او قوم د اسلامي نظام او هيوادنيو ګټو په منظورسره يوموټې کړو، ننی جهاد او پخوانيـو جهادونوکې هم د هيواد هرقوم برخه لرلې ده او لري يې، موږ د هيواد له شماله ترجنوبـه او له شرقه ترغربه شاهدان يو چې مجاهدين عمليات کوي او په دښـمن بريدونـه کـوي او په دغوسيموکې زموږ د هيواد هرقـوم لـه مجاهـدينو سره ملګـري دي، پـه جوزجـان، سرپل، فارياب اوسمنګانوکې زموږ ازبک او ترکمن ورونه سره لـه سـختو مشـکلاتو او ستونزو د خپلوپښتنو وروڼوسره څنګ په څنګ په جهادبوخـت دي او ډيـرې قـر بـانۍ ور کوي او وخت په وخت فدايي حملې کوي، همداراز پـه بدخشـان، تخـار، بغـلان او

کندز کې زموږ تاجک ورونه له خپلو پښتنو ورونو سره يوځای جهاد کوي او قر بانۍ ورکوي، سره له دې چې سخت سيمه ييز مشکلات هم لري، په باميانو، دايکنډي، هرات اونوروسيموکې هزاره او نور قومونه سره له ګڼوسيمه ييزو مشکلاتو د وس مطابق له مجاهدينوسره په جهاد بوخت دي، نوزه فکر نه کوم چې جهاد به تنها يو قوم کوي، هو دومره ده چې زيات عمليات په هغوسيموکې دي چې هلته پښتانه ډيردي او داځکه چې هلته نسبتا شرايط جهادته ښه اماده دي، نو اميد دی چې لابه هم زموږ په جهادي بهيرکې ټول ملت ونډه واخلي او د ګډ دښمن په وړاندې به په ګډه د خپلو مجاهدينو ورونو همکاری ته راودانګي، د سږکال د پاره مجاهدينو افغانستان شموله ډير ښه جهادي پلانونه جوړ کړي چې تاسو به يې د پايلو شاهدان واو سئ. انشاء الله! ۲۰۱۲/۳/۹م

مجاهدينوته مشورې:

بسم الله الرحمن الرحيم

له هر څه نه مخکې ټولو هيوادوالو ته، خصوصا هغو مجاهدينو ورونو ته چې اوس هم د الله په لار کې د سنګر شپې او ورځې تيروي او ذبيح الله مجاهد ورور ته چې له نورو مصروفيتونو سره سره د خپلو مسلمانانو ورونو پوښتنو ته ځوابونه وايې، د زړه له کومې سلامونه او نيکې هيلې وړاندې کوم.

بعد له سلامه غواړم د يو مجاهد په صفت د مجاهدينو د لاپياوړتيا په باره کې يو څو نيکې مشورې درکړم او يوه پوښتنه وړاندې کړم چې ځواب يې راکړئ.

۱- چونکه عام وطنوال د جهاد له فضيلت او اجر نه نا خبره يې، نو مجاهدين بايد له دوی سره له ډيرې نرمۍ او حوصلې نه کار واخلي، نه دا چې په زوره د يوه داسې کارطمعه ترينه وکړي چې اجر خو لري، ولې هغه عام شخص به يې داجر نه نا خبره وي او د دې پر ځای چې له جهاد سره يې مينه پيدا شي، برعکس کرکه ورسره پيدا شي.

۲- کشران مجاهدين اکثره له جذباتو کار اخلي نو با يد په داسې وخت کې چې خداى مکړه کومه ستونزه له عامو کليوالو سره راغلې وي، با يد کشرا ن ورته مخې ته نه کړل شي، ځکه دا عمل د کلي په مشرانو ډير بد تاثير کوي.

۳- لکه څنګه چې تقوى او پرهيزګاري د جهاد لپاره شرط ده او د تقوى او جهاد د احکامو د پيژندلو پرته جهاد په جنګ بدليږي او جنګ کول خو له مسلمان سره نه ښايي، نو په همدې بناء بايد له هرې ډلګي او ګروپ سره يو دا سې مربي او معلم وي چې د خپلو افرادو توجه صرف او صرف تقوى او جهاد في سبيل الله ته وګرځوي.

۴- عامو خلکو ته د جهاد ترغيب ورکول تر څو يو طرف ته خلګ د مجاهدينو صفونو ته راشي او بل طرف ته د دښمن له دې نوي چال نه مجاهدين په امان کې شي، چې له مطلب مې درابکيانو جوړول ديراو دا په هغه صورت کې کيداشي چې په اوونۍ کې اقلاً دوه ځله په جومات کې د جهاد په باره کې تقرير وشي.

۵- د دې پر ځاى چې مجاهدين په فارغ وخت کې په ګپ شپ يا صرف په ترانو اوريدلو انحصار وکړي، بايد د قرآن کريم تلاوت او ديني کتابو طرف ته متوجه شي.

هيله ده دا نقطې په چا بدې ونه لګيږي، ځکه دامې په فقط د يو مسلمان مجاهد په توګه له خپلو مجاهدو وطنوالو سره شريکې کړې.

پوښتنه مې داده چې مشران مجاهدين د ولور (مهر) مسئلې ته ولې توجه نه کوي، چې خورا زيات ضرورت يې دى.

مثلا په جنوبي ولايتونو لکه قندهار، ارزګان، زابل، غزني او داسې نورو کې که يو خوا غربت زورنيولى او بلې خوا ته ولور تر ۱۲ لکه کلدارو زيات دى، (هغه مهال په هغو سيمو کې پاکستاني کالدارې په چلش کې وې).

دا صحيح خبره ده چې په ولور کې څه ګناه نشته د دواړو کورنيو د جوړې خبرده، چې څومره مهر ټاکي، خو متاسفانه چې دلته ټول کارونه رواجي دي، نو

که مالدار زيات مهر ورکوي غريب به هم همدغومره مهر ته غاړه ږدي، کنې د غريب په قسمت کې واده نشته.

نو زما پوښتنه همدغه ده چې ولې مجاهدين په دې باره کې خاموش دي حال داچې که اعلان وکړي او يو مقرر مقدار د مهر لپاره معلوم کړي، نو ټول غريب وطنوال به له دې غټ مصيبت نه خلاص شي او خلک هم دې ته خوشحاله دي چې مجاهدين د مهر د کمي اعلان وکړي، خو خپله له رواج نه مجبوره دي چې دومره لوړ مهر اداء کړي. ستاسو مخلص ورور عمار نيازی

ځوابـ محترم ورور عمارنيازی صيب! ستاسو نيکې مشورې بالکل د تائيد او منلو وړدي، خو له نيکه مرغه چې اسلامي امارت په خپلو لارښونو او جهادي لائحه کې همدې ټکو ته اشاره کړې چې بايد عملي کړل شي او د دعوت او ارشاد کميسيون يوه دنده هم داده چې د مجاهدينو د اصلاح کوښښ وکړي، ان شاءالله ښې لاسته راوړنې او مثبتې نتيجې به له ځانه سره ولري. غواړو ستاسو مشورې کټ مټ هم د مسئولينو او هم د افرادو لپاره نشر کړو ترڅو ټول هغه ورونه چې په جهادي مشترک صف کې خدمت کوي ترخپله وسه ستاسو نيکې مشورې په کلکه پام کې ونيسي او په خپل ځان او ماتحت باندې يې عملي کړي.

دا چې تاسو غوښتنه کړې چې په هيواد کې د مهر د کنټرول په اړه اسلامي امارت ولې څه نه کوي؟ نو دومره ويلای شم چې کوم شي ته چې زموږ او ستاسو خلک ولور وايي هغه شرعي مهر دی او په شرعي مهرکې يوه انجلۍ يا د هغې ولي شرعا دا اختيار لري چې هرڅومره مهر غواړي اخيستلای يي شي او په دې کار کې هيڅو ک هم د هغو په تصميم کې مداخله نشي ـ کولای، که هغه امير وي که مامور يا بل څوک، هيڅوک هم حق نه لري چې په هغو جبرا يوه خبره ومنې چې دومره واخله او دومره مه اخله! هو د خير په نيت مشوره ورکولای شي چې بايد په مهر کې هر ه مسلمانه خور او د هغې وکيل د خپلو خلکو ضرورتونه په پام کې ونيسي او داسې کار وکړي چې سبا

ورځ د دواړو دوستانو کورنيوترمنځ د خپلولۍ د لا پياوړتيا او صميميت سبب وګرځي، هره مسلمانه خور او د هغوی مور اوپلار بايد د خپلو خلکو محتاجي او غربت په نظر کې ونيسي، د بې ځايه اصرافونو لپاره درانه مهرونه تعين نکړي چې تر هرڅا ډير د دغې خور خاوند ډير ځوروي، بلکې يوه مناسبه اندازه مهر چې د مقابل جانب ترقدرت او توان لاندې وي تعين کړي، نو په دې برخه کې د اسلامي امارت مسئولين هم لکه د هيواد نور سپين ږيري، علماء او د نفوذ خاوندانو د نيکو مشوره ورکولای شي، خو په دې کار کې شرعا امر نشي کولای، ځکه د مهر ټاکل د يوې مسلمانې خور حق دی او هغه چې هرڅومره غواړي خپل اختيار لري، اسلامي امارت به کوښښ وکړي چې د خير د مشورو او د نصيحت په دود په دې برخه کې کار وکړي. ان شاءالله مننه ۲۰۱۲\۳\۱۸م

څرنګه کولای شو چې د کندهار او بګرام انتقام واخلو؟

ځواب ـ ټول مسلمان هيوادوال بايد کلک هوډ وکړو چې د الله تعالي د لارښونو په رڼاکې له امريکايي يرغلګرو او طرفدارانونه يې د بګرام او د کندهار د پنجوايي د غم لړلې پيښو داسې انتقام واخلو چې د دوی لپاره تل د عبرت درس شي، يرغل تل ملتونه لوټي، مادي او معنوي هستې يې له منځه وړي او له ستونزو اومشکلاتو سره يې مخ کوي، خو دا يو مسلم واقعيت دی چې د نجات لار يوازې او يوازې جهاد دی، جهاد دمسلمانو پرګنو د عزت، ابرو، سر او مال محافظت کوي او مسلمانانو ته د روښانه راتلونکي پيغام لري، ان شاءالله زموږ ټول هيوادوال اومجاهدې پرګنې به په يوصف کې خپل جهاد ته زور ورکړې او سږ کال به له دښمنه داسې لاره ورکوو چې ويتنام يې هيرشي. ان شاءالله ۱۵ \۳\۲۰۱۲م

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته! برادر مجاهد صاحب دوست داشتنی به امید پیروزی و حاکمیت امارت اسلامی و تمام مجاهدین مخلص در جهان، سوال من در باره انتظام مجاهدین و مقرر کردن مجاهدین در صفوف عملیات

جهادی جداگانه است مثلآ عملیات استشهادی، تن به تن و ماین گذاری وغیره که آیا هر مجاهد میتواند هر عملیات را که دوست دارد در آن اشتراک کند یا از طرف امیر مجاهدین برای آن وظیفه مشخص داده میشود و مجاهد در این اقدام کدام اختیار نداردو دیگر این که به فضل کرم پروردگار ما در کابل تقریبا سه یا چهار نفر هستیم و تصمیم جدی در سال نو برای اشتراک در جهاد فی سبیل الله را گرفتیم اگر از برای مهربانی دراین زمینه مارا یک کمی راهنمای کنید چون اینجا با کسی آشنای نداریم. والسلام

پاسخ: وعليكم السلام ورحمة الله وبركا ته!

درپاسخ به بخش اول سوال شما باید گفت که همه مجاهدین درانتخاب وظیفوي مخیر هستند، هرکسې که هرکار را به گونه احسن آن اجرا میتواند ازطرف مسئولین جهادی بعد از دریافت تدریب به همان بخش جهادي میل خویش گماشته میشود، البته سهم گیری دربخش عملیات استشهادی جداً به رضایت مجاهد تعلق دارد زیرا اجرای عملیات استشهادی یک معامله بین خداوند متعال ومجاهدمیباشد که کسی دیگر درمیان مداخله کرده نه میتواند وبخاطر اجرای عملیات استشهادی هم شرائط وجود دارد که مهم ازهمه سن مطابق شریعت است.

درمورد بخش دوهم سوال شما باید گفت که پاسخ آن را شما درشماره اول و دوم پاسخهای این سلسله دریافت میتوانید. تشکر

ډیر خوشحاله یم چې د پوښتنو او ځوابونو همدا سلسله مو په الامارة سایټ کې شروع کړې، ترڅو هغه افغانان چې له مجاهدینو څخه لرې دي او له هغوئ څخه پوښتنې کولو ته لاس رسی نه لري، نو هغه مشکل يې ان شاءالله ستاسوپه مرسته د حل کیدو وروستي حد ته ورسید. اوس هرڅوك اوله هرځاي څخه کولای شي چې خپلې پوښتنې له تاسو سره شریکې کړي او تاسې د خپل مسولیت په اندازه ورته ځواب ورکړئ، زه هم له دې موقع څخه په استفاده غواړم چې خپل یو څو سوالونه ستاسو سره شریك کړم:

ایا اسلامي امارت داسې کوم یو اصلاحي ګروف لري چې یوازې د مجاهدینو اصلاح وکړي او مجاهدین خپل سرو کارونو ته پرېنږدي؟ ځکه انسان ډېرعاجز دی، حتما ترې خطا کیږي، یاپه ناپوهي یاپه جذباتوکې به کوم مجاهد داسې یوعمل وکړي چې په سبب یې خلك ترې ناراضه شي او هغه کار شرعاً هم ناجایز وي، نو د داسې خلکو لپاره اسلامي امارت کوم خاص ګروپ لري ترڅو داسې مجاهدین وپوهوي چې په راتلونکي کې کوم ناوړه کار تکرار نکړي.

ځواب ـ بلې الحمدلله د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه لخواپه روزمره شکل د مجاهدینو ځارنه او نګهباني جریان لري په همدې منظور یو ځانګړی کمیسیون د دعوت او ارشاد په نامه تشکیل شوی او دنده ورسپارل شوې ترڅو د مجاهدینو په صفونو کې داسلامي اخلاقو د پیاوړتیا، د خلکو سره د ښه چلند، په خپلوکې ښه رویش خپلول او په عباداتو کې پابندۍ ته مجاهدین دعوت کړي، او که خدای مکړه په کوم ځای کې څه شکایت واوریدل شي او هغه په دعوت سره رفع کیدلای شي نو هم دغه کمیسیون دنده لري چې همدا شکایت رفع کړي او که شکایت په لوړه کچه وجودولري بیا نو خبره د اسلامي امارت محاکمو ته راجع کیږي، ترڅو د شرعي حکم سره سم پریکړه ترسره او د مجازاتو اومکافاتو اصل تطبیق شي همدارنګه عمومي نظامي کمیسیون او ولایتي کمیسیونونه هم د مجاهدینو کلکه ځارنه کوي، له دې سره سره خپله د ولایاتو والیان او د ولسوالیو ولسوالان تر ټولو وړاندې دنده لري چې خپل مجاهدین کنترول او په احسنه طریقه رهبري کړي. مننه

د مجاهدینو تسلیمي:

عبدالمتین سروري یم سلامونه اونیکې هیلې مې ومنئ!

له مجاهد صاحب څخه مې پوښتنه داده چې دا ورستیو ورځو کې د مجاهدینو تسلیمي د تلویزیونونو لخوا خپریږي، دا به تر کومه ځایه واقعت ولري؟ زه خو خپله هیڅ باور نکوم چې داخبره دې رښتیا وي، ځکه کله چې د

تلویزیونو لخوا ویډیو ګانې خپریږي، کوم کسان چې پکې معلومیږي رنګ یې مجاهدینو ته نوي شوی او بل دا چې مجاهدین چې دا لس کاله سختو حالاتو کې تسلیم نشول نو دادوه میاشتو کې بیا په مختلفو ولایاتو کې دادومره مجاهدین څنګه تسلیم شول؟!!! د تامل وړ داده چې د مجاهدینو د تلسمې د راپورونو سره سره اوس محال مجاهدین تر ډیره کامیاب هم دي نو زخو داخبره نشم منلی، فقط اوفقط تبلیغات دي، یا هم هغه عوام خلک دي چې غواړي د کرزي حکومت وغولوي او په یو چل څه پیسې لاسته راوړي، مجاهد صاحب ستاسو نظر به په دې اړه څه وي؟ والسلام

ځواب ـــ بلې محترم عبدالمتینه وروره د کابل اداري د استخباراتو لخوا داسې ډرامې ډیرځله جوړې شوې دي، یو تعداد خلک چې یاپخواني ټوپک سالاران دي او یاهم لکه تاسو چې ویلي بې روزګاره خلک، دغو خلکوته په ځلونو ځلونو ټوپک په لاس کې ورکړل شوی او بیا تلویزیوني کمرو ته مخامخ کړل شوي او اعلان ورسره شوی چې دومره کسان تسلیم شول، د کابل اداره داکار ځکه کوي چې له غربیانونه یې په همدې نامه ډیرې پیسې اخیستي دي، چې ګنې موږ مجاهدین د مادیاتو له لارې تسلیمۍ ته هڅوو، مګر داچې مجاهدین عقیدوي خلک دي چې خپله عقیده او هدف له خپل ژوندنه هم ورته ګران دي، نو کله چې د کابل اداري پورې تړلي بیلابیل ارګانونه په دې نه دي توانیدلي چې د اسلامي امارت مجاهدین د ځان ملګري کړي، نو یې دا ډول ډرامې جوړې کړې دي، په دې اړه داتیره ورځ په غربي ورځپاڼو کې داسې راپورونه خپاره شول چې د مجاهدینو د تسلیمۍ خبره یې تش تبلیغات او ډراماتیک حرکات بلل او دایې د کرزي د حکومت بې اساسه دعوې وبللې.

با سلام به مدیران سایت الاماره!

سوالی که من از ذبیح الله مجاهد (حفظه الله) داشتم این بود که برای پیوستن به صفوف مجاهدین امارت اسلامی چه باید کرد؟

پاسخ ـ الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی امابعد: بلی! سوال خوبی را مطرح ساخته اید، درمور پیوستن به صفوف مجاهدین به همه هموطنان مسلمان خویش باید توضیح سازیم که هرکس میتواند به بسیار اسانی وسهولت با صفوف مجاهدین درمناطق خویش تماس بگیرد وهر همکاریی را که در راه جهادکرده میتواند با مجاهدین منطقه آن را مطرح سازد پس درهر منطقه ء که شما زندگی مینماید ویا میخواهید درآن منطقه جهاد نماید، پس به مجاهدین منطقه مذکور به تماس شوید آنها برای تان زمینه خدمت رافراهم خواهد ساخت اگرتماس با مجاهدین را روی کدام مشکل نه توانستید قایم نماید بعدا همان جای را به ما نشان دهید ان شاءالله راه های مناسب ارتباط به مجاهدین را برای تان فراهم خواهم نمود. تشکر

سوال ـ کسی که واسطه ای ندارد چه باید کرد؟

پاسخ ـ در راه پیوستن به صفوف مجاهدین نیاز به واسطه ء نیست، فقط روی مسائل امنیتی وجلوگیری از نفوذ اشخاص نامطلوب ویا وابسته به ارگانهای استخباراتی، شرائطی وجود دارد که باید آن را طئ نمود وبخاطر به میان آمدن اعتماد بیشترباید شناسایی دقیق از خودتان به مجاهدین منقطه صورت گیرد، البته این شناسایی بعد از تشخیص منطقه شما به وجود مي آید، پس ازهمه بیشتر شما منطقه خویش را ازطریق ایمیل دقیقاً نشان دهید. تشکر شما نیز موفق وکام گار باشید، خداوند متعال نیات و اعمال تان را قبول نماید.

❊ ❊ ❊

۱۱ـ د روان جهاد د تمویل په اړه:

السلام علیکم ورحمت الله و برکاته! برادر محترم ذبیح الله مجاهد سوال من این است که این جنگ افغانستان بزرگترین کشور های دنیا از نگاه اقتصادی را تقریبا به زانو درآورده، طالبان چگونه بدون داشتن کدام عاید مستقیم توانستند که تقریبا در این جنگ برنده شوند و بودیجه را که مصرف میکند از کدام منبع و مرجع بدست می آورند؟ والسلام برادر شما از ولایت سرپل

پاسخ ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! جنگ طالبان و مجاهدین جهاد است، همه ملتهای مظلوم جهان وملت افغانستان اعم از تاجران کشور، زمین داران وسائرسرمایه داران کشور با امارت اسلامی افغانستان از لحاظ پولی همکاری می نمایند و در بعضی ازنقاط کشور منابع عایداتي کشورهم تحت تصرف مجاهدین است که این همه جمع میشوند و منبع مالی وحمایوی امارت اسلامی را تشکیل میدهد، دیگر اینکه مجاهدین مصارف گزاف هم نه دارند، درصفوف مجاهدین ضرورت به لوجیستیک نیست زیرا همه مردم مجاهدکشورما هرغذای که برای خوردن خود دارند همان را به مجاهدین هم درمناطق خود میدهند، همچنان مجاهدین امارت اسلامی ضرورت به البسه ندارند، زیرا هرمجاهد لباس شخصی خود را به تن دارد، ازآن استفاده میکند وهمان درجهاد کفایت میکند، مجاهدین امارت اسلامی دراجرای عملیات های نظامی هم مصارف زیاد ندارند، زیرا اسلحه زمان جهاد روسها هنوز هم درهرنقطه کشور وجود دارد، که قبلا مجاهدین آنرابخاطرهمین جهاد درآغاز تجاوز امریکا ذخیره نموده بودند، که فعلاً ازهمان استفاده صورت میگرد و اکثرماین های زمینی و واسکتهای فدای یا موترهای حملات استشهادی را مجاهدین درخانه های خود دست ساز می سازند ومواد‌ی هم که درآن استفاده میشود به قیمت ارزان به دست مجاهدین

می رسد، پس مصارف مجاهدین نسبت بـه مصـارف دشـمن ۰۱.۰ فیصـد هـم نیسـت، واین که امارت اسلامی کفار دنیارا با همه اسلحه واقتصاد آنها بـه زانـو در آورده اسـت، من گفته میتوانم که (هذامن فضل ربي) این مرحمت ونصرت خداوند متعـال اسـت کـه بامجاهدین همراه است وهمه مسلمانان به نصـرت خداونـدمتعال عقیـده وبـاور دارنـد.
تشکر. ۳۰/۳/۲۰۱۲م

❊ ❊ ❊

۱۲ـ د عام ولس سره د چلند په تړاو

السلام عليکم!

مجاهد صيب زما پوښتنه داده چې طالبان ولې د عامو خلکو کورونو ته ورننوزي، کله زور نه کار اخلي او کله غوسې سره خلکو باندې رعب اچوي او خلکو نه شپه غواړي؟...... محمد خان

ځواب ـ وعليکم السلام! ورورره په هره سيمه کې د خپلې سيمې طالبان اوسيږي او په هغو کورونو کې ډوډي خوري يا شپه تيروي چې د هغه کورونو څښتنان له جهاد او مجاهدينوسره مينه لري، دا د خپل ځان لپاره وياړ ګڼې چې مجاهدين شپه ورسره وکړي او ډوډۍ ورسره وخوري، په ګرم موسم کې او په ځانګړې توګه د عملياتو په مهال مجاهدين اکثره داسې ځايونو کې شپې تيره وي چې هغه يوازي اوتنها ځايونه وي؛ خو کله کله داسې هم پيښيږي چې مجاهدين له خلکو نه د ډوډۍ او شپې تېرولو د ځای غوښتنه وکړي او داټول کارونه د يو مجبوريت په اساس کيږي. يوې نقطې ته بايد ځير شو، هغه داچې مجاهدينو چې د ګران هيواد دازادۍ او دين د حفاظت لپاره خپل ژوند د مرګ خطر ته اچولی، نو په دې کارکې خو ټول سره برابر ونډه او مسؤليت لرو، نو تاسو کوښښ وکړئ چې له مجاهدينو سره مرسته وکړئ ځکه اسلام او هيواد مو سره شريک دي او د کفر، فساد او اشغال ضرر مجاهدينو او ټول ولس ته برابر رسيږي، نو حتما به لړستونزه وي، خو له مجاهدينو نه هم هيله کيږي چې په خپل تګ راتګ سره خلکو ته امنيتي ستونزې جوړې نه کړي، ځکه دښمن ډير بې رحمه دی، عام خلک بې موجبه ځوروي او په تکليفوي، په دې اړه مجاهدينو ته لازم هدايات هم شوي او بيا به هم وشي. مننه ۱۸/۴/۲۰۱۲م

قدرمن مجاهد صاحب!

په مسنونه سلامونو او نېکو هيلو مو لمانځم، له الله څخه درته د اسلام په لار کې د لا زياتو برياوو غوښتونکی يم.

زما پوښتنه داوه چې ځيني فرصت طلبه او بد اخلاقه ځوانان د طالبانو او مجاهد له پاک نامه څخه په ناوړه ګټه اخيستلو له عامه وګړو سره خورا بد چلند کوي، د اسلام له نظره د بې ګناه انسانانو ځورول له هغوي څخه په زور پيسې اخيستل، هغوي وهل او ټکول حرام دي، ايا ستاسو قيادت له دې پېښو خبرېږي او کنه؟ که خبرېږي نو ستاسو غبرګون په دې هکله څنګه وي؟ د بېلګې په توګه د وردګو ولايت اوس يو له نا امنه ولاياتو څخه دی او خلک يې له وسله والو طالبانو څخه سر ټکوي. خالد وردګ

ځواب ـــ وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته! زما وروره د افغانستان اسلامي امارت د قيادت لخوا ټولو نظامي اوغيرنظامي ملګرو ته په کراتو د پيغامونو او لائحې په توسط سپارښتنه شوې چې د خپلو مظلومو او کړيدلو خلکو سره تل د اسلامي اخلاقو او عطوفت نه ډک چال چلند وکړي او په نرمه او حسنه طريقه د خلکو په وړاندې برخورد ولري، خو داچې تاسو بيا هم د وردګو په ولايت کې د داسې ځوانانو خبره کوئ چې د مجاهد په نامه له خلکو سره ناسم او ستوغ چلند کوي، زه به ستاسو دا شکايت تر مشرانو او مسئولو ملګرو پوري ورسوم او هغوی به په تکراري ډول خپل سيمه ييز مجاهدين د خلکو سره ښې رويې او اسلامي اخلاقو ته راوبولي او په دې اړه به د عاليقد اميرالمؤمنين هدايات او لار ښوني چې بار بار يې ټولو مجاهدينو ته په پيغامونو، د مجاهدينو په جهادي لايحه او شخصي لارښوونوکې کړې دي، په کلکه سره په ټولومجاهدينو عملا تطبيق کړي، خويو څه بايد له نظره ونه باسو چې کله کله ځيني غرضي او فرصت غوښتونکي خلک د خپلو ناسمو او شخصي عقدو په وجه هم په مجاهدينو پسې ځيني تورونه تړي چې هيله ده تاسو به د هغو غرضي خلکو خبروته

غوړ ونه نیسئ، بلکې هغه څه چې پخپلو سترګوېې ووینئ موږ ته یې تـل د شـکایت پـه ډول راولیږئ او په دې برخه کې که د هغو سیمواو اشخاصو نومونه هـم پـه مسـتند ډول راته راواستوئ چې دغه راز بدچلنـد د مجاهـدینو لخـوا د خلکـو سره پکـې شـوی وي دابه مو د مظلومو او ځوریدولو خلکو سره او همداراز د خپـل امـارت سره لویـه مرسـته کړې وي. ډیره ډیره مننه ۵/۴/۲۰۱۲م

السلام علیکم!

د اسلامي امارت د راروان کال د بریاوو په هیله! ګرانه لکه څرنګـه چـې اوس مهال د افغانستان ملي کریکټ ټیم نړیوال جـام تـه لاره پیـدا کـړې او د کړیـدلي افغان ولس زړونه یې خپل کړي، پوښتنه مې داده چې د امارت پـه تېـر دور کـې خو همدا لوبه افغانستان کې نه وه، نو کـه اللـه تعـالی یـو ځـل بیـا افغانسـتان کـې اسلامي حکومت راولي، تاسو به د کریکټ ملي ټـیم تـه پـه کومـه سـترګه ګـورئ، همدا لوبه افغانستان کې پریږدئ او کنه؟

ځوابـ وعلیکم السلام! محترمه ستاسو د سوال په ځواب کې دومره ویـلای شـم چې کومه لوبه او سپورت چې د انسان د بدن د ساتنې، ودې او سالم هـدف لپـاره وي، او د اسلام له احکاموسره کوم تصادم ونه لري موږ کومـه سـتونزه نـه ورسره لـرو، بلکـې اسلامي امارت پخپل وخت کې هم سپورت ته خاصه توجه کوله او د جنګي مشـکلاتو سره سره مو سپورت ته هم وده ورکوله یوه یا دونه چې ته اونور د سپورت مینه وال بایـد ور باندې خبر شي هغه داده چې د کر یکټ لوبه د اسلامي امارت د حاکمیـت پـه دوره کې د اسلامي امارت د سـپورت د عمـومي ریاسـت پـه پیشـنهاد او د ریاسـت الـوزرا د مرحوم رئیس (الحاج ملا محمد رباني رحمه الله) په منظورۍ په افغانستان کې رسمیت پیدا کړ، چې اسناد بې یې اوس هم په اداره امور اونورو اړونده مراجعـو کـې پراتـه وي. ۲۴/۳/۲۰۱۲م

ظلم او زور زياتی:

السلام عليکم مجاهده وروره! اوس وخت په افغانستان کې انصاف او يا خپل حق ترلاسه کول غريب کس ته يو خوب ګرځيدلی دی، وجه يې کمزوی قانون دی، چې زورور او جنګسالار ورنه فايده اخلي، خلک د امارت اسلامي قاضي ته هم په اسانه نشي ورتللای، ځکه امنيتي ستونزه وي او بل ستاسو د قاضيانو ادرس هم نامعلوم دی، نو تاسو په دې هکله هم لږ سوچ وکړئ او کوټلي ګامونه پورته کړئ ځکه په افغانستان کې ډيره بې انصافي روانه ده.

زه د دې شي نه اوس خبر شوم ځکه چې په ما بده ورځ راغله، زموږه لږ څه ځمکه په کلي کې ده، چې زما پلار زما له کاکا نه د۱۳ شاهدانو په مخکې د پيسو په بدل کې اخيستې ده، خو زموږ د کاکا زامنو هغه ځای په زوره رانه نيولی دی او خپل هغه قريبان کومک ورسره کوي چې او س په حکومت کې دي.

ما شل ورځې محبس تيرکړ، يونيورسټي رانه پاتې شوه، اخير راته خلکو وويل چې که زور يا پيسې لرې، نو خپله ځمکه به ترلاسه کړې، که نه نو ځان مه ستړی کوه.

ماخو د الاماره ويب سايټ له لاې له تاسو سره رابطه وکړه او خپل مشکل مې بيان کړ، ماغوندې به نور ډومره خلک بيچاره ګان بې اسرې او لالهانده ګرځي، تاسو د دې خلکو يوه چاره وکړئ، خلک له تاسو خوښ دي او باور لري چې تاسو په انصاف فيصلې کوئ. کامران

ځواب ـ وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته! زما ګرانه ځوريدلې وروره په ريښتياچې تابه ډير مشکلات ګاللي وي او الله پاک دې په اخرت کې عوضونه درکړي او د ظالم له لاس نه دې الله تعالی خلاص کړه، اول خو که تاسو د ځان لپاره امکانات وينئ چې زموږ قاضيانو ته مراجعه وکړئ، نو په سيمه کې مو زموږ قاضيان په خدمت کې دي او که د هر سيمه ييز مجاهد سره خپل مشکل شريک کړئ هغه به درته د قاضي سره د اړيکې لاره وښيي، بل داچې موږ به ستاسو مشکل خپلو مسئولو ملګرو ته

هم ورسوو چې د امکان تر حده د قضاپه برخه کې مظلومو هیوادوالو ته د عدالت د تامینولو لا ډیرې لارې چارې برابرې اواسانه کړي، تاسې خپل ادرس هم نه دی ښولی چې په کوم ولایت او ولسوالۍ کې ستا سې مشکل دی، زموږ د هر ولایت مجاهدین د شکایتونو د اوریدلو دوه عمومي تلفوني نمبرونه هم لري چې تاسې ور سره مخامخ اړیکه ټینګولای شئ، بله مهمه خبره داده چې په ریښتیا چې د اوسني یرغل او فاسد ګوډاګي رژیم په وجه زموږ د هیواد هره برخه کې خلک له خپلو حقه حقونو نه بې برخې شوي او یوازي زورور کولای شي هرڅه وکړي او یا هغه کسان چې ښې ډیرې پیسې لري، نو پرموږه ټولو افغانانو لازمه ده چې د دې ناورین نه د وتلو لارې چارې وسنجوو او د خپلو مجاهدینو ورونو سره په کلکه ودریږو، ترڅومو د هیواد بشپړه ازادي او خپل اسلامي نجات بښونکی حاکمیت په نصیب شي او دغه راز ستونزې مو د تل لپاره حل وي. د همداسي یوې ورځې په هیله. ۲۰۱۲\۳\۲۰م

ږیره پریښودل

مجاهدصیب! که دا دفعه ستاسو حکومت راشي، نو تاسو به لکه داول وار غوندې نظام راولئ، مثلا تاسو به بیا په زور په خلکو ږیرې پریږدئ او که نه؟ والسلام ستاسو ملګری لطیف الرحمن بارکزی

ځوابـ وروره اسلامي نظام هغه ته وایې چې ټول اسلامي احکام او قوانین په کې عملي او پلي وي، نو په دې اساس هر هغه حکم چې د اسلام له حکمونو څخه شمیرل کیږي، موږ به یې هم په ځان اوهم په ټولنه کې د حکمت او دعوت له لارې رائج او عملي کوو چې په دې جمله کې د ږیرې پریښودل هم د اسلام یو حکم دی او موږ اوتاسو ټول یې په عملي کولو باعث شوي یو، نو په خورا درناوي او مینه یې باید ومنو او کومه تنګي او ناخوښي باید پکې محسوس نکړو. ۲۰۱۲\۳\۱م

ډېر د قدر وړ مجاهد صاحب السلام عليکم!

موږ د مجاهدينو د بريا په انتظاريو او ان شاءالله چې هغه ورځ لري نه ده چې مجاهدين کامياب او کفار او د هغوی ګوډاګيان د ماتې سره مخ شي، ګرانه وروره زه د کنړ ولايت اوسيدونکی يم، او دلته مجاهدين په ډېر شمير سره وجود لري، خو ګرانه ځيني خلک د مجاهدينو په جامه کې لاروته راوزي اوله خلکوڅخه پيسې اخلي او خلک بې عزته کوي.

ځواب ـ وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته! زما وروره ستاسو له اخلاص نه يوه نړي مننه کوم، په ټول هيوادکې هيڅ وخت او هيڅ ځای هم مجاهدينو ته د دې اجازه نشته چې له خلکونه پيسې واخلي اوکه داسې کوم مورد ثابت شي هماغو مجاهدينو ته به سخته سزا ورکول کيږي، ستاسو شکايت ما کټ مټ مربوطه مسئولينوته واستا وه چې ان شاءالله بشپړ غور به پرې کيږي. اوپه دې اړه د مجاهدينو لپارد اسلامي امارت د لايحې ۷۱ او ۷۳ مادې ډېر ښه صراحت لري چې په لاندې ډول دي:

۷۱- د اسلامي امارت مجاهدين دې له چا څخه په زور عشر، زکات اوچنده نه ټولوي اوکه د عشر او زکات څخه څه شی په لاس ورشي نو په خپلو شرعي مصارفوکې دې مصرفوي.

۷۳- د پيسو د پاره د خلکو تښتول که په هر نامه وي ممنوع دي او د مربوطه سيمې مسؤلين دې په کلکه مخنيوی وکړي، که د اسلامي امارت له نامه څخه په استفادې څوک دا ډول عمل کوي د ولايت مسؤل به دغه جنايت کاران د مشرتابه په هدايت بې وسلې کوي اوسخته سزابه ورکوي. ۲۰۱۲\۲\۱۷م

مجاهد صاحب السلام عليکم! پوښتنه مې داده چې د ټولنې لوستي خلک لکه ډاکتر, انجنيراونور داسې احساس کوي، چې ګويابعضوځايوته ورتګ به ورته خطرناک وي, چې شايد د دوی دا احساس به ترډيره بريده حقيقت نه وي،

خوخبره داده چې دغه طبقه خلک ولې د بې سوادو په پرتله د خطر ډېر احساس کوي؟ والسلام عبدالبصير ثاقب

ځواب: وعليکم السلام! محتر ورور ثاقب صيب، هغه احساس چې زموږ لوستو خلکو په ځانګړې توګه ډاکټرصاحبانو او انجنيرصاحابانو ته خدای مکړه د خپل ځان د خطر په اړه پيداکيږي ترهغو پوري اړه لري، په واقعيت کې هغه اشخاص چې د هيواد د يرغل سره په کوم ډول همکار نه وي او خپل بيطرفانه خدمات وړاندې کوي، د خپل ملت او خلکو په طبي، زراعتي او ساختماني چارو کې مصروف وي، د مجاهدينو له خوا هغوی د تقدير او ستاينې وړ دي. بل داچې موږ په خپلو جهادي ليکو کې هم ډېر داسې کسان لرو چې هغه ډاکتران او انجنيران دي او د هيڅ خطر احساس نه کوي، بلکې له خپلو مجاهدينو ورونو سره په اړونده برخو کې همکاري کوي او مسئوليتونه لري.

عامو خلکو ته ګوانښونه

د ټولودمخه السلام عليکم ورحمته الله وبرکاته! زماپوښتنه داده چې ځينوخلګوته ټليفونونه کيږي چې تاسې په دولت کې ياست که چيرې کارپرېښږدئ، موږ مو وژنو، ليکن هغه په خپل شخصي- کاروبار مصورف وي، يا ورته وايه چې تاسې په کومه موسسه کې کارکوئ، که کارپرېښږدې، موږ دې وژنو وحال داچې هغه سړی يادوکاندار وي، يا روزانه کوي او يا په بل شخصي- کار اخته وي. له دغه ډول کارونو څخه خلګ په تکليف کيږي له طالبانو څخه خوابدې کيږي او ستاسې نوم په بدنامه کيږي، ودغو متاثرو خلګو ته ستاسې پيغام څه دي؟. والسلام ستاسي وروړعبدالسلام د کندهارولايت اوسيدونکی

ځواب ـــ د اسلامي امارت په ليکوکې هيچاته اجازه نشته چې خلک په ناحقه سره وځوروي يا خلک وډار کړي، ځکه داسې عمل شرعا منع دی او که هر سرګروپ يا ډلګۍ مشر په خپلو افرادو کې داسې ځورونکي خلک ومومي، د اسلامي امارت د

لائحې له مخې جزا ورکوي، نو په دې اړه هغو خلکوته چې په رښتیا سره په یوه نوعـه د یرغلګرو په خدمت کې نه وي زموږ پیغام داده چې داسې تهدیدونه زموږ د مجاهـدینو لخوا دوی ته نه کیږي او که څوک داسې کسان وپیـژني چې پـه مجاهـدینو پـورې اړه ولري او بې ګناه خلک تهدیدکړي نو کولای شي چې پـه سیمه کـې د مجاهـدینو لـه سرګروپ یا ډلګۍ مشر سره تماس ونیسي او خپل شکایت ورتـه وکـړي، ان شـاءالله ژر او جدي غور به ورباندې کیږي.

سلامونه مجاهد صاحب! اسلامي امارت د ولسوالیو او سیمو په سطحه هـم د شکایاتو کوم خاص ادرس لري؟ ترڅو عام افغانان بې واسطې له هغوئ سره ارتباط ونیسي او خپل مشکل ورته ووایې، ان شاءالله په راتلونکي کې بـه نـورې پوښـتنې هم د اسلامي اخوت په رڼا کې کوو. پـه درنښـت د افغانسـتان د اسـلامي امـارت د کامیابۍ په هیله

ځواب ــ وعلیکم السلام، هو! د افغانستان اسلامي امـارت لخـوا د هـر ولایـت پـه سـطحه دوه تلیفـوني شـمیرې او ایمیـل ادرس خلکوتـه تکثـیر شـوي اوکـه هرڅـوک شکایت ولري مخامخ د تلیفون یا ایمیل له لارې اوریدل کیږي او په اړه یې د ولایـت د عمومي مسئول او د ولایتي کمیسـیون لخـوا لازم اقـدامات تـرسره کیـږي، چـې ترډیـره بریده دغه اقدام د ټول هیـواد پـه سـطحه کټـورهم تمـام شـوی او د خلکـو د شـکایاتو اوریدو ته یې اسانه لاره پرانستې ده.

بې محاکمې وژنې- ننګیال

محترم ذبیح الله مجاهد السلام علیکم ورحمت الله وبرکاتـه! محـترم مجاهـد صاحب یو څو پوښتنې لرم هیله ده چې قناعت بخشه ځوابونه راکړئ، داسې ویل کیږي چې کله د طالبانو له لوري کوم کس چې یا په یوه سـاختماني شرکـت کـې اویا په یوه بل کوم غیر دولتي ارګان کې کار کوي، حتی که فقط یـو کـاریګر هـم وي چې د طالبانو لخوا ونیول شي نو ډېر ژر د یو څو افرادو له لوري چې ځانونـه

طالبان بولي د قضا سره مخ کیږي، داسې قضا چې نه شواهدموجود وي اونه کوم بل مدرک.... په دې کې تاسي څه وایاست؟

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته، د اسلامي امارت مربوط ټولو مجاهدینو ته امر شوی چې په کوم کس که څه شک پیداکیږی چې له دښمن سره اړیکې لري، نو له پوره پلټنې او هراړخیز تحقیق وروسته محکمې ته سپارل کیږي، داسې محکمه چې هم د مسئولو او په کارپوه اشخاصو او دیني علماوو څخه جوړه وي او په پوره دیانت داری سره مجرم ته لازمه سزا ورکوي، داهم باید ووایم چې د هر جرم سزامرگ نه ده که خدای مکړه چیرته د چا وژلوته اړتیا پیدا شي او د ساعي بالفساد حکم پرې وشي نو د مشرتابه له امر اخیستلو نه وروسته د اعدام سزا پرې په سمه وجه تطبیق کیږي. او تاسو چې په دې اړه کوم څه اوریدلي دي واقعیت نه لري، یوازي ا ویوازي د دښمن پروپاگند دی، د اسلامي امارت عدلي او قضائي ارگان دومره پاک او د شریعت له احکامو سره سم اجرأت ترسره کوي چې د دښمن له ولکې لاندې سیمو خلک هم زموږ محاکمو ته راځي او په لنډ وخت کې یې لانجې د شریعت په رڼا کې حل وفصل کیږي.

دوهم: داچې د کابل- کندهار اوکندهار- هرات په لاره کې بعضي- مسلح کسان له هغوسیمو څخه راوځي چې د طالبانو تر کنټرول لاندې دي او په ذکر شویولاروکې غلاوې او اختطافونه کوي، په دې کې تاسې څه وایاست؟

ځواب ـ په ټول هیواد کې که اوس هم چیرته د غلا، اختطاف او شوکو مخه نیول کیږي، هغه د اسلامي امارت ترکنټرول لاندې سیمې دي، البته په دا وروستیو کې چې په بعضو سیمو کې اربکیان جوړ شوي اکثره غلا او شوکي هم له همدغو افراد و سره زیاتې شوې او په داسې کارونو کې د لویو لارو پر سر ولاړ پولیس هم لوی لاس لري او په دې اړه وخت په وخت خلکو اواز هم اوچت کړی او راپورونه یې خپاره شوي دي، خو موږ به د خپل مسولیت له مخې همدې سیمو ته مجاهدین لازیات

متوجه کړو، ترڅو د هغو افرادو مخه ونیول شي چې تاسو یاد کړي، محترمه تاسو یو واقعیت باید هیر نکړئ، هغه داچې نه یوازي زموږ په لیکوکې د غلو او شوکمارو لپاره هیڅ ځای نشته، بلکې موږ د غلو، لاره شکونکو او مفسدینو پر ضد تر هرچا ډیره او موثره مبارزه کړې، که د هیواد په هرگوټ کې د مجاهدینو په لیکو کې دغه ډول کس پیدا شي له سختې سزا سره به مخ کیږي. ان شاءالله!

دریم: یوه مهمه خبره داچې ولې طالبان د ملکي خلکو د وژنې مخینوي ته زیات پام نه کوي اوداهم وایم چې دغه اشغالگران خویې بیخي نه کوي؟ په پای کې د هغو مجاهدینو د بریالیتوب په هیله چې یوازي د الله پاک په لاره کې جهاد کوي اوعامه گټوته زیاته توجه کوي.

ځواب ــ زموږ مجاهدین تروروستي حده د ملکي خلکو د تلفاتو مخنیوي ته توجه کوي او د عالیقدر امیرالمؤمنین لخوا مجاهدینوته په دې برخه کې د خاصې پاملرنې امرشوی چې زموږ مجاهدین او سرگروپان له هرچا نه زیات د ملکي خلکو د تلفاتو مخنیوي ته ارزښت ورکوي او داچې په دې اړه د رسنیو لخوا کوم تبلیغات کیږي او بعضې ـ ادارې ناسم ارقام خپروي، هغه ټول د دښمن تبلیغات دي چې اصل او حقیقت نلري. ستاسونه هم مننه

❊ ❊ ❊

۱۳ـ د عامه تأسيساتو په باره کې د اسلامي امارت موقف:

د مکتبونو تړل

محترم ورور ذبیح الله مجاهد او ملګرو ته! السلام علیکم ورحمت الله.

سوال مې د غزني ولایت په اندړو ولسوالۍ کې د مکتبونو د بندیز په اړه دی، دا چې د افغانستان اسلامي امارت له لایحې سره سم د افغان بچو سالمه روزنه او له هغې څخه دفاع د هر مجاهد دنده او ریښتنی مسؤلیت ګڼل شوی، خو په بعضي منطقو کې لا هم مکتب او معلم ته ګواښ تر سترګو کیږي او ان دا چې د مکتب دروازه تړل کیږي ایا دا به د هیواد د راتلونکي په غاړه د چاړه ایښودلو په معنی نه وي. که داسې وي ولې په جدیت سره د داسي عناصرو په وړاندې غبرګون او باخبري وجود نه لري؟ عزت الله

ځوابـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! وروره موږ په دې اړه معلومات وکړل، د غزني په ځینو ولسوالیو کې معلمینو ښونځیو ته خپل تګ بند کړی، ځکه په هغو سیموکې د کابل اداري د چارواکو لخوا په موټرسایکلونو باندې ګرځیدل بند شوي، نو معلمین چون د لرې لرې ځایونونه راتلل نو هغوي هم احتجاجا خپل تګ ښونځیوته بند کړی او استدلال کوي چې دوي نشي ـ کولای ښونځیوته په پښوتګ راتګ وکړي، دښمن د غزني په اوبند، اندړو او مر کز کې په موټر سایکلونوبشپړ بندیز لګولی، تاسو پر هغوی فشار راوړئ او دغه مو ضوع په مطبوعاتو کې را پورته کړئ، د موټر سایکل څخه که مجاهد استفاده کوي تر هغه زیات عام ولس چې په هغه کې معلمان هم راځي ډیره استفاده ورځني کوي، نو که تاسو د دې غم ونه خورئ ښایي چې بله ورځ نور بندیزونه هم در باندې ولګوي، دوی د مجا هدینو د حملاتو څخه په

دغه ډول بنديزونو محفوظ نه شي پاته کيدلای او ترهغه ځايه چې په مور پوري اړه لري مور په کار بوخت يو، هيله شته چې داستونزه ژر حل شي او معلمينو ته د ښوونځيو د تګ په برخه کې کوښښ وکړو. ان شاء الله ۲۰/۴/۲۰۱۲م

د مچلغو د بند په اړه

مجاهد صاحب د تيرو ځوابونو نه مو يو نړۍ مننه. په ځوابو کې مو حوصله، پراخ نظري له ورايه ښکاري. الفاظ مو شمارلي او خوږوالي لري، کاشکې د امارت وقت کې هم طالبانو له خلکو سره د کيبل په ژبه نه بلکې د شهيد مولوي احسان الله احسان د بياناتو مطابق چلند کولای، عرض مې دادی چې د امارت ويب سايټ کې نور هغه کارونه چې طالبان يې د خلکو د خدمت لپاره کوي هم بايد نشرشي، اوس سلو کې سل يواځې د جګړې خبرونه دي،

ويل کيږي چې مچلغو بند باندې بريد شوی، ايا دې حمله کې طالبان لاس لري او کنه؟ مخکې چې ستاسو او ولس له لوري د څه ملحوظاتو له امله د دغه بند کار توقف شوی و، ايا د دغه بند د جوړولو اجازه به بيرته ورکړئ؟ هيله ده د پوښتنو او ځوابونو دا لړۍ جاري وساتئ تر څو د خلکو پوښتنې هم حل شي او تاسې ته هم د خلکو انديښنې واضح شي.

په درنښت

ځواب ـ وروره له تاسو نه هم يوه نړۍ مننه کوم، د مچلغو د بند په اړه اميد شته چې د سيمې له خلکو، علماوو او سپين ږيروسره پرې ګټورې خبرې وشي او لازم اومناسب تصميم يې په اړه ونيول شي او تاسو چې د حملې يادونه کړې هغه د اسلامي امارت لخوا نه ده ترسره شوې، مور په دې اړه له سيميزو مجاهدينو سره بار بار تماسونه نيولي، مجاهدينو دغه کار نه دی کړی او نه هم داسې کار ته اړتيا شته اونه هم اجازه، البته په دې اړه بايد ټول اړخونه وسنجول شي چې امنيتي حالت او سيميز وضعيت يې

په اړه برابرشي نو بيابه حتما کار ته اجازه ورکړل شي، خو لا تراوسه د سيمه ييزو خلکو مشورو او همکاريو ته اړتيا شته. ۲۱/۴/۲۰۱۲م

هلته چې کمپنۍ کار کوي

داچې په افغانستان کې چيرته کمپنۍ کارکوي هلته جگړه ولې ډيره کيږي؟

ځوابـ وروره موږ په هرهغه ځای کې په دښمن بريد کوو چې لوی زيا ن ورته اړولی شو او خلکوته پکې زيان نه وي، پاته شو ستاسو سوال چې چيرته کمپنۍ کار کوي هلته ولې جگړې ډيرې وي، ماته خو داسې سيمه نه ښکاري، چې هلته کمپنۍ ډيرې وي، نو جنگ هم هلته ډير وي، رستاسو سوال ډير مبهم دی، تاسو د خپلې ادعاء يوه بېلگه هم نه ده وړاندې کړې، خوپه عموم کې موږ د خپل هيواد په ښمن پسې گرځو اوهر چيرې چې په لاس راځي بريدونه پرې ترسره کوو. ان شاءالله ۸/۴/۲۰۱۲م

دا چې تاسي په خپله ويب پاڼه کې ليکلي چې بهرنيانو په افغانستان کې لويې پروژې چې زموږ درد پرې دوا شي جوړې نه کړې، نو بيا مو د سلما بند سره ولې مخالفت وکړ، ولې مو د هندوستان په وسيله جوړيدونکو سړکونو سره مخالفت وکړ، خلک مو ووژل؟ په پکتيا کې مو د بند جوړولو مخالفت ولې وکړ؟ شهير

ځوابـ لکه څرنگه چې اوس ټولو هيوادوالوته معلومه ده چې دښمن دلته دابادۍ لپاره نه دی راغلی، اول خو دا نشي ثابتيدلای چې د سلما په بند کې دې موږ مشکلات جوړ کړي وي، په حقيقت کې له دښمن سره د عام المنفعه پروژو د جوړيدو اراده نشته او که ومنو چې هلته ستونزې شته نو په کابل کې خو به د بيارغونې کارونه ممکن وي هلته خلک پوره برق لري؟ د کابل اداره ولې د برق انرژي له گاونډيو هيوادونو په قرارداد رانيسي بيا يې کابل ته رارسوي، ولې هلته بندونه نه جوړيږي؟ په تخار کې د فرخار په ولسوالۍ کې هيڅ نظامي تحرکات نشته، هلته ولې د کوه نمک

اب بند نه جوړيږي؟ د جنگلک فابریکه چې زموږ د هیواد لپاره حیاتي ارزښت لري ولې بيرته فعاله نشوه؟ هلته خو جگړه نشته، د کابل په ښارکې ولې سړکونه لاخام پاتي دي چې په ولایاتو کې يي د کار د بنديدو تور لگوئ؟ تاسو ملامت نه ياست د هيواد ځخه ليرې ياست، دلته يوازي هغه سرکونه جوړيږي چې يرغلگر پرې تگ راتگ کوي او د خپل امنيت لپاره هڅه کوي چې يو نيم سړک جوړ کړي، پاته شوه په ریښتیا ابادي، هغه يو خوب او غولونه ده، هيله ده هغو تشو خبروته ډيرغوږ نشئ چې د يرغلگرو سره مله ميډيايې تاسو ته در رسوي، که تاسو د افغانستان اطرافي سيمو ته ولاړ شئ، پوره پوره کلي او پټې شنه باغونه ير غلگرو ورا ن کړي، تاسو يو ځل کندهار او هلمند ياداسې نورو سيمو ته ور شئ، د زنگاوات ورستی پيښه يې ډير تازه او ښه مثال دی چې بهرنيان دلته يوازي خلک وژني، کلي او باغونه ورانوي او دلته د خلکو و ژوند، عزت او مال ته ستر گواښ همدا د متمدنې نړۍ نه راغلي يرغلگر دي.

۲۸/۳/۲۰۱۲ م

* * *

۱۴ـ د ښځو دحقونو په اړه د اسلامي امارت مؤقف

در مورد خواهران:

پرسشهای یکي از خواهران که نه خواسته است نامش ذکر شود:

۱ـ در اعلامیه اخیر امارت اسلامی چرا هیچ یک حرف از خواهران زده نشده؟ در حالیکه اکثریت ملت افغانستان زن ها هستند؟

پاسخ ــ خواهرم شما میدانید که اعلامیه ما بخاطر جلو گیر پروسه جعلی امریکا به نام انتخابات پخش شد و مخاطب در آن تمام ملت بود اعم از خواهران و برادران ونیز کدام ربطی مخصوص به تذکر خانمان یا خواهران نه داشت که ما از آنها جداگانه حرف می زدیم.

در سائر اعلامیه ها نیز ما در حالت جنگی قرار داریم وبه جا نه میدانیم که به خانمها وعدهای را بسپاریم که به جا آوردند آن اکنون در توان ما نه باشد همچو کسانی که مصروف چنین وعده ها در کمپاین های انتخاباتی هستند.

ولی اگر شما به یاد داشته باشید در پیام امیرالمؤمنین بمناسبت عید تذکر از خواهران و حقوق مشروع آنهاداده شده بود.

۲ـ چرا مقاومت نتوانسته که فاصله را بین ملت و مقاومت کمتر بسازد؟

پاسخ ـ اگر شما دقیق متوجه شوی، درحالی که به میلونها دالر در تبلیغات به ضد ما به مصرف میرسد، همه چینل های نشراتی به ضد مجاهدین تبلیغات منفی می نمایند وصدها موانع دیگر نیز وجود دارد، باز هم همین ملت به مجاهدین جای

میدهد، نان میدهند، حتی لباس میدهند، صدقات و اعانه میدهند، شانه به شانه با قربانی فرزندان خود در پهلوی آنها ایستاد هست، تکالیف را متحمل میشود، زندانها را تحمل کرد و صد قسم مشکلات را حمل نمود و در تمام قراء وقصبات کشور، حمایت آنها با مجاهدین هست، آیاهنوزهم گفته میتوانیم که فاصله میان مجاهدین وملت وجود داشته ویا زیاد شده؟

به نظر من اگر همکاری همه جانبه این ملت مسلمان با مجاهدین نه باشد، درظرف یک ماه مجاهدین به مشکلاتی مواجه خواهد شدند که اصلا وجود شان زیر سوال قرار خواهد گرفت، پس من انصاف نه میدانم که شما حرف از فاصله میان مجاهدین و ملت میزنید، البته اگر شما به کسانی حساب می کنید که زندگی آرام و شکم سیر را سفری مي نمایند و مستقیما با اشغالگران در همکاری و همرکابی قراردارند سخن فاصله با آنها به جاست ولی بیشتر تأثیرگذار نه خواهد بود، چون ممکن شما آگاهی داشته باشد که در زمان کمونستها و اشغال شوروی سابق نیز شماری ازمردم که با دولت وقت و تجاوزگران آمیخته بودند از آنها حمایت می کردند ولی تأثیر چندان به روند جهادی نه داشت و جلو ناکامی کمونستها را گرفته نه توانست.

۳ــ چرا مقاومت نتوانسته که پلان اقتصادی، اجتماعی و سیاسی خود را به ملت توضیح نمائید؟

پاسخ ـ خواهرم ما در حالت جنگی قرار داریم، تقسیم حلوا در حین جنگ تقاضای به جا نیست، اگر مااشغالگران را راندیم، کشور را آزاد ساختیم، باز سوال از پلانهای اقتصادی، اجتماعی وسیاسی به جا خواهد بود، اکنون ما در جنگ بی موازنه قرار داریم، تمام توجه ما به طرف سنگرهای جهادی است، زمانی که اشغالگران از کشور رانده میشوند بعدا در چهار چوب قوانین اسلامی و احکام فقهی و منافع ملی،

تمام ملت در پلان گذاری های اقتصادی، اجتماعی و سیاسی سهم خواهد داشت. ان شاءالله

۴ـ مقاومت میتواند با معرفی چهره های اکثریت و مخصوصاً خواهران مسلمان صادق وملت دوست اعتبار ملت رابدست بیاورد و ترس که در بین ملت از مقاومت وجود دارد بر طرف گردد چرا درین مورد مقاومت توجه نمی کند؟ آیا امارت بخاطر قدرت جنگ میکند؟ و جنت را تنها برای مرد ها میخواهند؟ و یا برای (الناس) منتظرجوابتان.

پاسخـ خواهران مسلمان کشور، همین اکنون در تمام روندجهادی همکار هستند، در نواحی مختلف نیازی به همکاری آنها هست وظیفه خود را انجام می نمایند، ولی نامبوردن از آنها در مطبوعات، اعلانات و محضرعام درست نه خواهدبود، چون شما میدانید که خواهران ما نسبت به مردان نه میتوانند مشکلات وثقل سنگر نظامی جهاد را که بیشتر فعالیت های طاقت فرسا است برداشت نمایند، لازم نه می بینیم که خواهران ما بخاطر یکه از ما حمایت آشکارا کرده باشند در زندانهای پلچرخی و بگرام به سر ببرند، به جا نه خواهد بود که خواهران ما بخاطر حمایت از ما در میدیا، اجتماعات و محضر عام از طرف اشغالگران و غلامان حلقه بگوش آنها تحت تهدید قرار گیرند، زولانه شوند وبه آنها مشکلا ایجاد شود.

اقدامات ما درمورد، مبتنی بر احتیاط اند، ما نه میخواهیم در حالت غیر نورمال خواهران خود را که از جهت های مختلف به ناتوانی، ضعف جسمی، مسائل عزت و آبرو مواجه اند به مشکلات رو برو سازیم، البته به این اقدام اجر و ثواب خواهران ماکاسته نه میشود ان شاءالله، در صدر اسلام هم خانمان مسلمان چنین تقاضای را کردند ولی به آنهاپیام اسلام این بود که اجر وثواب شهدا و غازیان جهاد را شما در خانه های خود حاصل می نماید، شما از اولادهای تان پاسداری کنید، از خانه های تان پاسداری کنید، از عزت تان پاسداری کنید، به برادران مجاهد تان

نان و آب را تهیه نماید، به آنها لباس را تهیه نماید این اجر وثواب شماست و سبب رفتن به جنت خواهد بود. ان شاءالله تعالی. ۱۳/۳/۲۰۱۴م

د ښځو تعلیم:

السلام علیکم! زماپوښتنه داده چې کله د طالبانو حکومت راشي نو د ښځو لپاره به د تعلیم موقع وي او که نه؟

لکه تاسو چې وویل چې ستاسو مقصد دادی چې د اسلامي نظام په رڼاکې ځوانانو ته تعلیمي ماحول جوړ کړئ، نو ایا دې ارمان کې ښځې هم شاملې دي او که نه تاسو به بیا هم د ښځو د تعلیم مخالفت کوئ، لکه مخکې مو چې کاوه؟ زه خپله په دې قایله یم چې میرمنو ته تعلیم باید په اسلامي ماحول کې ورکړل شي، نه د ډیموکراسۍ او فحاشۍ له لارې، هیله ده ځواب ترلاسه کړم. مادحه خالد ـ جرمني

ځوابـ لومړی خو ستاسو د سوال په اړه لومړی باید دا واضحه کړم چې اسلامي امارت کله هم د ښځو د تعلیم مخالفت نه دی کړی؛ بلکې په هماغه زمانه کې موږ د اقتصادي او جګړیزو ستونزو له وجې نشوای کولای چې د ښځو لپاره د تعلیم مناسب او پراخ اسلامي ماحول جوړکړو، البته د هیواد په لویو ښارونو کې مو تر ممکنه حده د انجونو لپاره په مساجدو کې د تعلیمي پروګرامونو د جوړیدو هڅه کړې وه، او همدا راز د هغو نجو لپاره چې طبي زدکړې یې په نیمایې کې پاتې وي، په کابل کې مو ورته د ملالۍ زیږنتون او وزیر اکبرخان روغتونونو کې د زده کړو د تکمیلولو پروګرام پیل کړې و، خو هغه وخت که له یوې خوا سخت جنګي شرایط وو، له بله پلوه مو بیا پریمانه اقتصادي ستونزې درلودې او بله عجیبه خبره لا داچې هغو نړیوالو سازمانونو هم چې د بشر د حقوقو او خاص د ښځو د حقوقو نارې سورې وهې له موږ سره د

ښځولپاره د تعلمي ماحول په جوړیدو کې هیڅ مرسته نه کوله، بلکې دا موضوع یې هم په اسلامي امارت باندې د یو فشار په وسیله بدله کړې وه.

داچې په اینده کې به څه کیږي، موږ په دې باوریو چې تعلیم په هره ټولنه کې خاص اهمیت لري او د نر او ښځو لپاره یې ترلاسه کول اړین دي، خو خبره په اسلامي شرائطو او هغو ظروفو کې ده چې زموږ دین او زموږ شریعت یې اجازه راکوي، موږ غواړو د خپلو مسلمانو خویندو میندو لپاره په اسلامي ماحول کې اسلامي تعلمیاتو ته زمینه برابره کړو، چې د یوې میرمن لپار هم په دنیا کې د ښېرازۍ او خوشحالۍ سبب شي او هم مو د خویندو اخروي ژوند ورسره تأمین وي، یوې مسلمانې خور او مور ته هغه تعلیم اړین او غوره دی چې د اسلامي چوکاټ په دننه کې ورکړل شي، ښځو ته د شریعت د اصولو سره سم تعلیم ورکول زموږ هیله او ارمان دی او ان شاءالله تر ممکن حده به کوښښ کوو چې زمینه ورته برابره کړو. مننه ۲۰۱۲\۳\۲م

* * *

۱۵- د ملکي تلفاتو په تړاو

السلام عليکم و رحمته الله و برکاة! مجاهد صيب زه دوې پوښتنې لرم:

بعضې خلک وايي چې په جګړه کې د عاموخلکو وژل مباح عمل دی، په دې اړه ستاسو نظر څه دی؟ خلک وايي چې طالبان د پاکستان لخوا په مادي ډول حمايه کيږي، تاسو څه واياست؟ سنځر

ځواب: دا ډول پوښتنې په دې لړۍ کې په کراتو ځواب شوې، بيا هم لنډه يادونه کوم چې په جګړه کې د عاموخلکو قصدا په نښه کول جرم دی، هيڅوک حق نه لري چې قصدا عام خلک ووژني او خلک له ژونده محروم کړي، که په سهوه يا اشتباه کې داسې څه پيښ شول هم بايد شرعي مکلفيت اداشي، ولي په قصد سره د عامو خلکو وژل حرام او جرم دی او بايد هرمسلمان ځان ترې وساتي، د اسلامي امارت مشرتابه دغه اړخ ته چې عام ولس ته د سر او مال تا وان ونه رسيږي ډير متو جه دی.

بل پلو په پاکستان پورې د مجاهدينو د تړلو په اړه تبليغات دي، موږ دغه ډول افواهات د دښمن سوء پروپاګند بولو، هيڅ دليل نشته چې موږ سره دې د پاکستان مرسته ثابته کړي، دغه راز تبليغات د دې لپاره ترسره کيږي، د افغانانو ميړانه، شهامت او د آزادۍ غوښتنې روحيه داغمنه کړل شي، د روان جهاد او مبارزې هدف د اسلامي نظام حاکميت او د هيواد ازادي ده او همدا مبارزه او جهاد د افغانانو په رهبري، د افغانانو په مټ او د افغانانو په اخلاص په دوام لري، زموږ جهاد په نړۍ کې د هيڅ له لوري د احسان پوره وړی نه دی، موږ خپل ولس ته اطمنان ورکوو چې که اسلامي امارت غلامي قبلولای، د غلامۍ برداشت او نظريه يې درلودلای نو له پاکستان نه خو امريکا ډيره غوره وه، ځکه ټول پوهيږو چې د ډالرو قيمت په مراتبو تر کالدارو لوړ

دی، خو لله الحمد چې اسلامي امارت د هیچا تر تأثیر لاندې نه دی، د امریکا د یرغل په مهال تقریبا ټول حکومتونه او که ګوندونه زموږ په مقابل کې ودریدل او زموږ د مبارزې په وړاندې یې خنډونه ایجاد کړل، داچې موږ تراوسه ځان ساتلی، خپل وحدت مو ساتلی، خپله تګ لاره مو ساتلې، دا د لوی او توانا خدای جل جلاله مرسته او زموږ د خپل ولس سرښندنه او میړانه ده، نه د کوم بهرني جهت کومک، خو یوځه ډیر ښکاره دي هغه دا چې د کابل اداره او د هغو پورې اړوند خلک د ځان د برأت لپاره همداسې تورونه پورې کوي، موږ او تاسو پوهیږو چې د کابل ادارې چلونکي له اسلامي امارت سره د مخالفت او له یرغلګرو سره د مرستې په لاره کې هیڅ مشروع انګیزه نه لري، نو په مجاهدینو پورې همدا ډول تورونه پورې کوي، تر څو د خلکو حساسیت وپاروي، روان جهاد ته په ښه نظر ونه ګوري او له مجاهدینو نه د خلکو همکاري کمه کړي، همداسې تبلیغات به د کمونستانو په زمانه کې خلقیانو او پرچمیانو هم په مجاهدینو پسې کول، هغوی به یې د پاکستان خلک بلل، خو ممکن تاسو قانع واوسئ چې زموږ پخوانی جهاد یو مشروع عمل و او روسانو زموږ په ملک یرغل کړی و. په کابل کې ناست د اوسني اشغال ملاتړي هم هغه پخوانی جهاد سم جهاد بولي، سره له دې چې په هغه جهاد کې د پاکستان مرسته له هیچا پټه نه وه. هو هغه مرسته هیځکله د افغانانو د غلامۍ په معنی وه، پاتې شوه اوس، اوس خوهرځه بدل شوي دي، ټول خلک د امریکا په تله کې ناست دي په اوس وخت کې له حکومتونو نه د مجاهدینو سره د مرستو طمعه کول کاملا ناسمه خبره ده او باید هیڅوک یې ونه مني، نن زموږ جهاد زموږ فریضه ده او باید ترسره یې کړو، په دې لاره کې د دښمن تبلیغات نشي کولای ملت له موږ او موږ له ملت نه جلا کړي. مننه

مجاهده وروره سلامونه او نیکی هیلې!

زما سوال له تاسو نه دادی چې د اسلام یا د قران عظیم ا لشان په کومه پاڼه کې د مسلمانانو وژنه جایز ګڼل شوې؟ ستاسو په هر انتحاري برید کې بې ګناه

غريب مسکين خلک له منځه ځي، ټول له سره بې ګناه خلک، له داسې بريدونو نه څه جوړيږي، د خدای لپاره لږ دې مظلومو خلکو باندی ورحميږئ، ارزو- وانه

ځواب ـ وعليکم السلام! اګرکه ما په دې سلسله کې داسې پوښتنو ته په کراتو ځواب ويلی، خو يوځل بيا هم لازمه بولم چې تاسوته دومره وليکم چې: اسلامي شريعت د بې ګناه مسلمان وژنې ته په هيڅ ځای او صورت کې هم جواز نه ورکوي او زموږ د بريدونو هدف کله هم هغه مسلمان نه وي چې هغه د يرغلګرو په پلوي نه وي ولاړ، تاسوته به د کابل دغه وروستي بريدونه معلوم شوی وي چې هيڅ ملکي مرګ ژوبله يي نه لرله، صرف دښمن په نښه شوی و او له منځه ولاړ، خو يو د هغو کسانو وژل دي چې له يرغلګرو سره همکاري کوي، د هغو په وژنه کې بيا کوم شرعي ستونزه او ممانعت نشته، مسلمانان خو دي، ولې حمايت له کفاروځخه کوي، د خپل هيواد د اشغال د تداوم سبب دي او له اشغالګرونه مخ کې دوی د مجاهدينو په ضد اجرات او عمليات کوي، د دغو خلکو وژل شرعا واجب دي ترڅو مسلمانه ټولنه د دغسې اشخاصو له شره محفوظه کړل شي، دغو کسانوته شرعا ساعي بالفساد ويل کيږي چې فقهايي په اړه ليکي (ويجوز قتلهم ويثاب قاتلهم) د دوي قتل جايز ده او قاتل ته به يي الله تعالی اجر ورکوي. د دين او وطن له دښمنو اشغالګرو سره مرسته کونکي په هيڅ قانون بې ګناه نه دي، بلکې همدوي دي چې بهرنيو يرغلګرو ته يې د خپل هيواد د اشغال زمينه برابره کړې او په خپلې همکارۍ سره د ګران هيواد اشغال ته پايښت او قوت ورکوي.

او که واقعا د مجاهدينو په کوم بريد کې بې ګناه وګړي شهيدانيږي، نو يقيناچې دا د هيڅ يو مجاهد قصدي عمل نه دی، تاسو پوهيږئ چې ديو بې ګناه سړي وژنه څومره لوی جرم دی او د الله تعالی د لارې هيڅ يو مجاهد هم دې ته نه اماده کيږي چې بې ګناه خلک قصدا ووژني، البته د څه تخنيکي ستونزو له امله که چيرې انفجار

بې ځایه منځته راشي اوعـام خلـک پکـې شـهیدان شي دا کـاملا د تأسـف وړده او پـه راتلونکي کې په جدي ډول باید ځان ترې وساتل شي.

ټولـو مجاهـدینو تـه عالیقـدر امیرالمـؤمنین او د اسـلامي امـارت نـورو محترمـو مشرانوامر کړی چې باید خپل برید داسي تنظیم کـړي چـې ملکـي خلکوتـه زیـان ونـه رسیږي، تاسې مطمئن اوسئ، موږ دې کار ته ډیر متوجه یـو، د اسـلامي امـارت پـه چـو کاټ کې د ملکي تلفاتو د مخنوي لپاره باصلاحیته اداره جوړه شوې ده کـه کلـه داسـې پیښه رامنځته کیږي دوی یې هر اړخیزه څیړنه کوي او بیا لازم اجرا آت کوي.

خو تاسو هم باید د ملکي تلفاتو موضوع له بې پرې پلوه ارزیـابي کـړئ، صرف د راډیوگانو او د دښمن په ادعاوو مه خطاوځي، د سوء تبلیغاتو تر تأثیر لاندې مه راځـئ، د ملکي تلفاتو په اصلي تعریف، معنی او مصداق ځان پوه کړیئ بیا قضـاوت وکـړئ، د ملکي تلفاتو اصلي عامل ولټوئ بیا پریکړه وکړئ او د ملکـي پیښـو پـه اړه آزاد تحقیـق وکړئ بیا حکم وکـړئ، اوس زموږ ماتې خـوړلی دښـمن، میـډیا او لاسـپوځي یـې ډیـره هڅه کوي چې د مجاهدینو هربرید په ملکیانو برید وبولي، دوي پولیسوته هـم ملکیـان واي، سکورټیانو او د امریکایي ځواکونـو سـاتونکوته هـم ملکیـان وایـي، دوی د کابـل رژیم په حساسو او خورا مضرو اداروکې کاروکونو ته هم ملکیان وایي، چې همـدا ډول اشخاص په هیڅ ډول ملکیان نه بلل کیږي، هرهغه څوک چې په هرنامه او هرځای کـې د خپل دین او هیواد پـه ضـد ولاړ وي اولـه کفارونـه حمایـت کـوي هغـه مجاهدینوتـه هدف دی او همدې ډول ملي خاینانو او ظالمانو ته د ملکي او بې گناه خطاب کول لـه هیواد او اسلام سره خیانت دی. ۲۷/۵/۲۰۱۳م

سلام مجاهده وروه امید چې صحتمنده واوسئ!

زه غواړم دا درته ووایم چی کاشکې تاسو پـه پنجشـیر کـې د ولایـت د مقام پرځای د مسعود په قبر باندې حمله کړې وای او هغه مو له منځه څخـه وړی وای.

په درناوي تورعقاب له کابل څخه

ځواب ــ وعلیکم السلام! وروره د پنجشیر په ولایت باندې برید خو په دښمن برید و او دښمن ته یې درنه مرګ ژوبله واړوله، ولې په قبرونو باندې برید او د قبرونو له منځه وړل دا سم کار نه دی، په قبرونو کې خوړمي اوسیږي او زموږ دښمن چې مړ شي بیا یې موږ څه کوو؟ نوره معامله یې الله تعالی ته سپارو او الله تعالی ښه حساب کونکی دی او که مطلب مو داوي چې د هغو له قبرونو نه غیر شرعي استفاده کیږي، د دې کار د مخ نیوې لپاره نورې سهل او نرمې لارې هم شته، دومره جدي باید ونه ګڼل شي چې استشهادي مجاهدین ځانونه پرې قربان کړي، د خرافاتو او بدعاتو د مخنیوي لپاره نصیحت او دعوت ډیر مهم او موثر دي او په لازم وخت کې د حاکمیت د لارې نه موږ توانیږو چې د غیر شرعي کارونونه خلک منع کړو. ۲۷/۶/۲۰۱۳م

په عام ځای کې د چاودنو په اړه:

زه یو پېشنهاد لرم هغه دا چې ځني وخت د یوه رینجر موټر په خاطر چې هغه په ګڼه ګوڼه کې ولاړ وي، انفجار ورباندې کیږي او تر څنګ یې بې ګناه مؤمنانو ته مرګ ژوبله اوړي (که چیري دا حملې هم تاسو کوئ) نو زما په نظر تاسو باید خپل مجاهدین ورونه داسې وروزئ چې هغوی پر مخالف عناصرو د ټوپک په وسیله حمله وکړي نه انفجار! ځکه کېدای شي د داسې حملې له امله هم هغه دښمن ژر له منځه ولاړ شي او هم د بې ګناه کسانو د مرګ ژوبلې مخه ونیول شي او که چیري یو مجاهد شهید هم شي نو دا خو کومه ناکامې نه ده! نو خلاصه دا چې که چیري په ځینو مواردو کې لکه په رش او بازار کې د انفجار پر ځای د چرکي برید څخه کار واخیستل شي ډېر به ګټور وي او کومه ګناه به هم نه راجع کیږي. والسلام احمد

ځواب ــ وروره ستاسو مشوره او پیشنهاد مو نظامي ملګرو او اړوندو مراجعوته واستاوه هیله ده چې پوره غور به پرې وشي دا چې تاسو را ته هم یوتجربه کارسړی ښکارئ تا سو ته دې هم الله تعالی تو فیق در کړي چې په عملي جهاد کې په خپله هم

برخه واخلئ او خپلې مشورې په خپله زموږ سره عملي کړئ، جهاد پر ټولو فرض دی، کفارو مو پر هیواد په ډېر ظلم او وحشت تجاوز کړی او د ظلم او دهشت لړۍ یې د هیواد په لر او بر کې روانه ده، مخنیوی یې ډېرې قربانۍ غواړي. مننه ۱۸/۴/۲۰۱۲م

ایا د ملکي خلکو وژلو ته جهاد ویلی شو:

ګرانه مجاهد صاحب!

ایا په دې انتحاري حملو کې چې ملکي کسانو ته درنه مرګ ژوبله اوړي، یتیمان او کونډې یې تر شاه پاتیږي او په خیرات لاس پوري کوي، نو زه غواړم چې ستاسو نظر په دې هکله واورم. مننه احمد جاوید

ځواب- وروره که تاسو د دې لړۍ د سوالونو ځوابونوته مراجعه وکړئ داسې پوښتنې مو مخکې هم ځواب کړې، خو بیاهم تاسوته دلته دومره ویلای شم چې د اسلامي امارت مجاهدین د عالیقدر امیرالمؤمنین لخوا په کراتو په کلکه مامور شوي چې په ټولو عملیاتو کې د ملکي خلکو ژوندته ډېره او خاصه توجه وکړي او خپل عملیات په داسې شکل سره ترسره کړي چې عام مسلمانان متضرر نشي، نو په دې اساس زموږ مجاهدین ټول بشري توان مصرفوي چې په ټولو بریدونو او عملیاتو کې د عامو خلکو سره خاص احتیاط وشي او د متضرر کیدو مخه یې ونیول شي، د دې خبرې د ثبوت لپاره دا څو ورځې مخکې په کابل، ننګرهار، لوګراو پکتیا کې د فدایي مجاهدینو شل ساعته عملیات یادولای شو چې ملکي تلفات یې نه لرل او یوازې څوتنه د منډو او ځان خلاصولو په وخت کې غورځیدلي او لږ خوږ شوي وو، نور سره له دې چې ټول عملیات د ښارونو په مربوطاتو کې ترسره شول د مجاهدینو لخوا هیڅ ملکي کس ته هم زیان نه دی رسیدلی چې دغه عملیات د مجاهدینو لخوا د ملکي خلکو سره د کامل احتیاط یوه بېلګه ده، په دې اړه د لا تفصیل لپاره په مخکنیو ځوابونو کې هم معلومات موندلای شئ. ۱۷/۴/۲۰۱۲م

السلام علیکم! حمله های شما فقط تلفات ملکي دارد چـرا؟ اگرتمـامش نـی بلکې اکثریت اش، به یک گل هیچ وقت بهارنه میشود. برادرشما

پاسخ ـ وعلیکم السلام! بلي برادرم دراین مورد من در این سلسله به بارهـا پاسـخ گفته ام، ماروی مسئولیت ومکلفیت دینی خویش همیشه درمورد تلفـات ملکـی کـاملا متوجه هستیم وهیچ مجاهد هم قصدا کدام کـس ملکـی را زیرهـدف خـویش قـرار نـه میدهد، همین اکنون درعملیات های بسیا ر وسیع که چند روز قبـل در کابـل، ننگرهـار، لوگر وپکتیا انجـام شـد مـا فیصـدي کمـې از تلفـات ملکـې داشـتیم، ان هـم چنـد تـن درحالت دویش به زمین خورده بودند وجراحت های سطحی برداشته بودند، نسـبت بـه اینقدر عملیات وسـیع کـه درجاهـای حسـاس شـهرها انجـام شـد بـازهم مجاهـدین مـا کوشیدند که تلفات ملکی واقع نه شـود، اینقـدر احتیـاط در اجـرای عملیـات هـای کـه درآن استفاده از اسحله خفیف وثقیل میشود کار دشواراسـت کـه مجاهـدین مـا انجـام دادند ولی ماهنوز هم متوجه خواهد بودیم، تشکر. ۱۶/۴/۲۰۱۲م

جګړې ولې اکثره وخت دې پښتنو په سـیمو کـې کیـږي؟ دې ټولـو نـه ډیـر پښتانه وژل کیږي؟ ولې تاسو طالبان خپل پښتانه وژنئ؟ مالک وردګ

ځواب ـ تاسوپوهیږئ چې جهاد په ټول هیواد کې خپور دی او په هرولایت کې د هغه ځای شرائطو ته په کتو مجاهدین خپل روز مره فعالیـت پـرمخ وړي، خـو داچـې جهادي عملیات په هغو سیموکې ډیر دي چې هلته پښـتانه ورونـه میشـت دي، داځکـه چې زموږ دښمن هغلته ډیر عسکر او قوتونه لري او په اسانه سره ترهدف لاندې راتلای شي، همدا راز هلته هغه پخواني شریر عناصر هم ډیر نشته چې په سیمه کې مجاهـدینو تـه منطقـوي مشـکلات پیـداکړي او د هغـو ګرځیـدل او تحرکـات سـتونزمن کـړي. ۱۳/۴/۲۰۱۲م

ګرانه په افغانستان کې د طالب په نامـه انجنیـران وژل کیـږي او هغـه پـدې خاطر چې ته پولیسو ته ځای جوړوې، نو ستاسې نظر څه دی انجنیران له چا سره

کار وکړي او هم په دې سره ټول پوهیږو چې اسلامي مملکتونه هیڅ کومک نه کوي چې خلک کار ورسره وکړي، نو له تاسو څخه په دې اړه توضیحات غواړم؟

ځوابـ وروره لومړی خو تاسو د داسې کوم انجنیر مثال نه دی ښودلی چې د مجاهدینو لخوا په دې وجه چې انجنیر دی وژل شوی وي، بل داچې د گوډاگی اداري د امنیتي ارگانونو سره چې هرڅوک مرسته کوي هغوی زموږ په مقابل کې قرار لري، ځکه د کابل اداره د یرغلگرو له خوا جوړه شوې، د هغوی گټې ساتي او د بهرني یرغل په خدمت کې ده او د اشغال د بقالپاره دا لس کاله کیږي چې زموږ په ولس مسلطه ده او د دې ادارې ټول امنیتي کسان د اسلامي امارت مجاهدینو ته خنډونه جوړوي، نیسي یې، شهیدانوي یې او نه پریږدي چې زموږ لاس په اسانه سره تربهرنیو یرغلگرو پوري ورسیږي، نو د دغو ادارو سره چې هرڅوک کاروکړي او هره نوعه خدمت چې ورته وکړي، دا خلک د خپل شوم ملاتړ له امله زموږ ترهدف لاندې راتلای شي، خو بیاهم په هیواد کې ډیر داسې انجنیران نشته چې هغه دې له دښمن سره په همکارۍ لگیا وي او د مجاهدینو لخوا نه که کله هم کوم انجنیر په نښه او یا نیول شوی وي، هغه به د انجنیر په نوم د یرغلگرو چوپړ ماران وي او یا به مخامخ له امنیتي او جاسوسي ارگانونو سره کار کوي او دا کار که ملایان او یا نو ر څوک وکړي هغوی هم زموږ هدف دي، زموږ غوښتنه داده کوم کسان چې د انجنیر، ډاکټر او عام کارگر په نوم له یر غلگرو سره کار کوي، د دوی شمیرله هغو کسانو نه چې له اشغالگرو سره کار نه کوي په مراتبو کم دی، نو زموږ غوښتنه داده چې دوی دې هم د اکثریت په شان ځان ته ازاد او مشروع کار او کسب پیدا کړي او د یرغلگرو او کابل ادارې له خدمت څخه دې لاس واخلي.

۱۳/۴/۲۰۱۲م

ښاغلی مجاهد صاحب الله دې تاسو اود نړۍ ټوله مسلمانانو ته هدایت ورکړي، ښاغلیه موږ فکرکاوه، چې تاسو د دې هیواد په ازادۍ پسې راغلي یاست، خو موږ خبرنه وو چې تاسو یې په غلامۍ اود پښتون قوم په دربدرۍ پسې راغلي

یاست، تاسو د تورمخو پنجابیانو اوسورمخو امریکایانو پـه وینـا زمـوږ ټولـه مشـران ووژل اویا مود ملکه لیرې کړل، تاسو د تورمخو پنجابیانو په اسلام نه یاست خبر

د هزاره ګانو ټوله ماشومان نر او ښځې مکتب ته ځي خوز موږ دا رمې پیایې دا ټوله ستاسي له لاسه، زماماشومه چې مکتب ته ځي تیزاب یې پرمخ ورپاشئ اود هزاره ماشومه چې مکتب ته ځي امنیت یې ته نیسې چې ډاکټره شي،

زما مشر چې منبر ته وخیژي اویوځو د عقل خبرې وکړي تـه یـې مړکړي اونـور مشران چې منبرته وخیژي، تااوسـتاقوم وځپـي تـه انعـام ورکـړي، افـرین دي وي پرتاداسلام ساتونکې، وبخښه د امریکاد غلامۍ پالونکې، میرویس کاکړ

ځوابــ وروره تا خو هسې تورونه لګولي، کوم سند دې نه دی وړانـدې کـړی، موږ چیرته ستا مشر وژلی او ستا مشر څوک و؟ غوره به وای چې تاخپـل مشـ‌ـراتـه پـه ګوته کړی وای، چې رښتیا هم موږ وژلی که نه او کـه مـوږ وژلـی وای، بیابـه مـو یـې د وژلو دلایـل هـم درتـه ویـلي واي. وروره! کـه هغـه غلامـان ستاسـو مشـران وي چـې د امریکـایي یرغلګـرو د پـلي عسـکرو رول یـې ولوبـاوه، خپـل هیـواد، خلـک، ګټـې او ارزښتونه یې تر امریکایي ګټو قربان کړل او د همدې خدمت په عوض کې د اشغالګرو په ګوډاګي رژیم کې تر پارلمـان، وزارتونـو او وکـالتونو ورسـیدل او پـه اداري فسـاد او غلامۍ کې په ترلاسه کړو ډالرو یې ځان تـه پـه بهرنیـو هیوادونـو کـې قصرـونه جـوړول کړل، خو ته یې خطاء کړې چې دی ستا مشردی، نو بیا ته هم وپیژندل شـوې چـې څـه غواړې او د چالپاره کار کوې!.

د مکتبونو په اړه موږ په دې سلسله کې ډیرې لیکنې کړې دي هلته مراجعه وکړه، که په رښتیا هم په دې برخه کې کومه اندیښنه لرې رفع به شي یـا بـه مـو اقـلا لـږ تسـلي وشي، د تیزاب پاشل په موږ پوري اړه نه لـري، بـل د پاکسـتان پـه اړه مـوږ خپـل دریـځ روښانه کړی، موږ ترهیځ اجنبي هیواد او ارګان پوري اړه نه لرو او نـه تـه اوسـتا پـه څـیر

نور دا ثابتولی شي چې موږ له کوم بل ملک سره تړاو لرواو یا مو اسلام لـه پـردو نـه زده کړی، موږ په پیړیومسلمان اوسیدلي یو او خلکو ته د اسلام په ورښودلوکې پخپلـه مـوږ د استادانو حیثیت لرو، نو هیله ده چې په اینده کې د تـور لګولـو پرځـای معقـول سـوال وکړې چې په ځواب درکولو وارزي او وخت راته ضایع نه کړې. الله پاک دې تاسو تـه هم هدایت په نصیب کړي. ۱۰/۴/۲۰۱۲م

فدايي بریدونه:

السلام علیکم ورحمت اله وبرکاته! زما پوښـتنه داده چې پـه کـوم ایـت او حدیث شریف کې راغلي دي چې تاسو په هغـه ځـای کې فـدایي حملـه تـرسره کړئ چیرې چې بې ګناه ولس قتل شي؟

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! په هیڅ کوم ایت یا حدیث شریـف کې نه دي راغلي چې د ملکي خلکو پـه مـنځ کـې دې څـوک فـدایي بریدونـه تـرسره کړي، د ملکي خلکو د تلفاتو په اړه او دا چې ملکي خلک کله هـم د مجاهـدینو لخـوا قصدا نه په نښه کیږي او نه هم د هغو په مـنځ کـې چاتـه اجـازه شـته چـې فـدایي بریـد وکړي، موږ په کراتو مراتو په دې لړۍ کې همدې ډول سوالونو ته ځـوا ب ویلـی، هیلـه کوم چې هغو ځوابونو ته مراجعه وکړئ. مننه ۲۸/۳/۲۰۱۲م

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته! دا کوم بـې ګنـاه ملکـي خلـک چـې پـه بمونو او انتحاریو کې وژل کیږي، فکر نه کوئ چې دا به یو لوی جنایت وي او د دې ځواب به تاسو الله تعالی ته ورکوئ.

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! بلې منم چـې د ملکـي خلکـو وژل که هرڅوک وکړي د منلو وړ نه ده، خو یو پـه رښـتیا د ملکـي خلکـو وژل دي او بـل د دښمن لخوا تبلیغات دي، تاسو پوهیږئ چې اوسنۍ جګړه کـې دا تضـمین هیڅـوک نشي ورکولای چې ملکي خلک دې هیڅ تلفات ونه ویني، بلکـې پـه بیلابیلـو عملیـاتو

کې د دښمن ترخنګ کله ناکله ملکي خلک هم زیانمن کیږي دا یو واقعیت دی، خو هغه ملکي خلک چې خدای مکړه کله ناکله د مجاهدینو په بریدونو کې په شهادت ورسیږي، نو په باورسره درته ویلای شم چې هغه خلک په قصد نه وژل کیږي، بلکې یا تخنیکي ستونزې وي او یا د هدف خطا کیدل د دې باعث شي چې ملکي خلک زیانمن شي، خو د ملکي هیوادوالو د تلفاتو مخنیوي ته اسلامي امارت جدي متوجه دی، عالیقد امیر المؤمنین ټولو مجاهدینو ته د ملکي خلکو سره د پوره احتیاط امرکړی او د تیر اختر په پیغام کې یې په خورا جدي توګه مجاهدین مامورکړي وو، چې په خپلو عملیاتو کې د ملکي خلکو ژوند ته خاصه توجه وکړي او همداراز د اسلامي امارت په لایحه کې په دې اړه د خورازیات احتیاط تاکید شوی، نو په ډاډ سره ویلای شم چې د مجاهدینو لخوا د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې مخنیوي ته کامله توجه شته، افغان ملکیان زموږ خپل ورونه او خویندې دي چې په وژلو سره یې موږ هم خپل خلک له لاسه ورکوو او پرې خوابدي کیږو. بل خوا تاسو جناب باید یو ټکي ته متوجه واوسئ، هغه داچې اکثره وخت ماتې خوړلی او ظالم دښمن پر بمباریو، چاپو او توپچي سربیره چې زیاتره قربانیان یې ملکي وګړي دي، له نورو لارو هم کوښښ کوي چې ملکي خلکو ته مرګ ژوبله واړوي او بیا یې پر مجاهدینو تاوان کړي، مثلا په لویو لارو او دګنې ګونې ځایونو کې چاودنې کول، لکه په دا وروستیو کې تاسو د ارزګان او هلمند په ولایتونوکې هغه هدفي چاودنې ولیدې چې د ملکي خلکو په موټرو وشوې او هغه په داسې ځایو نو کې شوې دي چې هلته هیڅ اړتیا نشته چې مجاهدین ماینونه ځاي په ځای کړي، داسې عمل امریکایي عسکرو د کندهار د پنجوایي له پیښې نه د توجه اړولو لپاره د هغې پیښې نه متصل ترسره کړ، خو ځینې مغرضې رسنۍ چې له بهرنیو منابعونه تمویلیږي، د حقایقو پر خپرولو سترګې پټې کړې او هڅه یې وکړه چې زموږ غږ او غبرګون منعکس نشي، فقط په دې یې اکتفا وکړه چې: « محلي چارواکي وایې داکار د مخالفو وسلوالو دی!! »، اوډیرځله خو داسې هم پیښیږي چې کله مجاهدین په دښمن بریدوکړي، دښمن بې توپیره ډزې کوي چې له امله یې زموږملکي

هیوادوالو ته مرگ ژوبله اوړي او..... ستاپه ګډون له ټولو هیوادوالو هیله کوم چې د ملکي وطنوالو د مرګ ژوبلې اصلي عاملین وپیژني او د یرغلګرو له لوري د چلیدونکو رسنیو په یو طرفه راپورونو او خبرونو باور ونه کړي، د یو بې ګناه مسلمان وژنه لوی جرم دی او د اسلامي امارت مجاهدین اومسئولین چې په شریعت باندې ښه پوهیږي، دې ټکي ته تر بل هر چا ډیر متوجه دي، وروره! تاسې ته معلومه ده چې زموږ مبارزه د یو دیني هدف او لاربنود له مخې پرمخ ځي نو تاسو باید یقین ولرئ چې په اکثرو داسې پیښو کې مجاهدین نه، بلکې زموږ بهرني او کورني دښمنان لاس لري او د مجاهدینو دب دنامی لپاره همدې ډول کړنو ته لاس اچوي. ۲۰۱۲\۳\۱۲م

مجاهدصیب السلام علیکم! زما پوښتنه د اسلام په اړه ده هغه داچې ایا د افغانستان خلک ۹۹ فیصده مسلمانان دي او که نه؟ له یوې خوا یې تاسو وژنئ اوله بلې خوا یې کفار، ایا یوکس چې په مکتب کې معلم وي کافردی، ایا یوکس چې د دولت ملکي مامور وي کافردی او ایا یو کس چې په زده کړه بوخت وي کافردی؟

ځوابــــ وعلیکم السلام! وروره ستاسو پوښتنه زموږ په دې لړۍ کې ډیرځایونه ځواب شوې ده، خوزه دلته دومره اضافه کول غواړم چې یو څوک چې په ښکاره د کافر ملاتړ کوي او ورسره دریږي، که کافر وي او که نه وي مرګ یې جایز کیږي اوبل دا چې مجاهدینو کله هم په کوم ځای کې معلم او متعلم په دې وجه چې معلم یا متعلم دی نه دي وژلي، ستاسو دغه ادعا ناسمه ده ځکه که مجاهدین وغواړي چې مکاتب بند شي او معلم او متعلم ووژل شي نو تاسو څه فکر کوئ چې په یو ورځ کې به څومره معلمان او متعلمان خدای مکړه ووژل شي، ځکه د مجاهدینو د کنترول لاندې سیمو کې په سلهاوو ښونځي او تعلیمي ادارې دا اوس اوس بې له کوم امنیتي سپرنه فعالیت کوي او د مجاهدینولخوا کوم مشکل نه دی ورته پیدا شوی، البته که خدای مکړه زموږ د هیواد یو معلم د خپلې دندې ترڅنګ له یرغلګرو سره کوم ډول

تړاو یا مرسته ولري او یا استخباراتي دنده هم په مخ بوزي وروسته د محاکمو له فیصلونه یې په وژلو کې کوم مشکل نشته، ځکه په دې وخت کې دی د معلمۍ په وجه نه، بلکې له اشغالگرو کفاروسره د مستقیم تماس او همکارۍ په توگه له منځه ځي، خو زه باور لرم چې زموږ معلمین او متعلمین ورونه به د خپل احساس او ضمیر له مخې داسې ناوړه عمل اجرا نکړي اوپاتې شوه نور دولتي مامورین هغه هم که د کابل اداري ترامنیتي ادارو پوري تړلي نه وي، زموږ له خوا کله هم په مستقیم ډول ترهدف لاندې نه دي راغلي، که نه د هغوی په نښه کول ډیر اسان دي، که داسې کوم پلان د مجاهدینو سره وای چې دغه تش مامورین هم له منځه یوسي، نو تاسو به په ورځ کې د ډیرو مرگونو شاهدان وئ، نو هیله کوو چې تاسو خپل معلومات کره کړئ، کوم موارد چې تاسو ښودلي هغه سم دقیق کړئ او که څوک وژل شوي وي د هغوی د مرگ په علت هم ښه ځان پوه کړئ او داخبره ښه یادلرئ چې له کفارو سره مرسته او همکاري لوی جرم دی، باید جداً ډډه ترې وشي او د خپل اسلامي او ملي مکلفیت له امله باید د اشغال په وړاندې ټول افغانان لاسونه سره ورکړو او جهادي صف تقویه کړو، ځکه په اوس وخت کې زموږ د ټولو مسلمانو افغانانو دا دیني او ملي مکلفیت دی چې باید د یو مسلمان په توگه د خپل هیوادنه اشغالگر کفار شړلو ته اړ کړو او د اسلامي حاکمیت په مخکې ټول خنډونه لرې کړو. مننه ۷/۳/۲۰۱۲م

سلامونه او نیکې هیلې مو ومنئ!

بعضې حملې چې په افغانستان کې کیږي زیات ملکي خلک پکې مړه کیږي او د هغو مسئولیت طالبان په غاړه اخلي ایا دا رښتیا دي؟

هغه خلک چې نن د دولت په مختلفو وزارتونو کې کارکوي، طالبان ولې د هغو مخالف دي او که چیرته دا خلک دولتي وظیفې پریږدي، نو دوی نور څه وکړي. ستاسو د ښه ځواب په هیله. احمدزی

ځواب ـ تاسو داسې مثال نه دی راوړی چې ډیرملکیان پکې مړه شوي وي؟ خو زه د امارت د پالیسی په رڼا کې دومره درته ویلای شم چې مجاهدین په داسې ځایونو کې له برید نه په کلکه منع شوي دي چې د عامو خلکو د تجمع ځای وي، خوپه اکثروځایونوکې چې زموږ بریدونه ترسره شوي دي او په هغو بریدونو کې ټول دولتي خلک او نظامیان قتل شوي وي، بیاهم یوشمیر رسنیو چې تل په یو لوریز ډول فعالیت لري هغه وژل شوي ټول عام خلک بللي، یایې په دې اړه تش د دښمن د ویندویانو خبرې نقل کړې دي، داخبره شته چې د دښمن لخواپه موږ پسې د پروپاګند په ډول بد تبلیغات روان دي، خو که تاسو هغو ځایونو ته نیږدې ورشئ وبه ګورئ چې قتل شوي کسان ټول د کابل اداري امنیتي کسان او مامورین دي چې عملا له یرغلګرو سره په مرسته بوخت دي، نه ملکي خلک.

ستاسو د دوهم سوال په اړه به دومره ووایم چې هرهغه څوک چې د کابل په اداره کې په هره سویه په کاربوخت وي ناجایز عمل کوي او د یرغلګرو سره د مرستې په معنا دی، ځکه د دوی د فعالیت په وجه په هیواد کې د یرغل زمانه اوږدیږي او د خارجیانو په شتون سره هره ورځ زموږ په لسهاوو هیوادوال د مرګ کومې ته لویږي اوخپل ژوند له لاسه ورکوي، نو بناء هیڅ افغان باید له یرغلګرو سره مرسته او همکاري ونه کړي او داچې دوی څه وکړي نو تاسو باید متوجه واوسئ چې د کابل په اداره کې ټول بوخت کسان زموږ د ملت دوه فیصده هم نه جوړوي، نو ایا دا دلیل سم دی چې ۹۸ فیصده خلک نور کارونه او د رزق وسایل ځانته پیدا کولای شي او صرف دغه دوه فیصده یې نشي پیداکولای؟ معلومه خبره ده چې دغه عذرسم عذر نه دی او نه هم د دومره لوی جرم لپاره کفایت کوي چې څوک داسې عذربیان کړي، ستاسو د پوهاوي په هیله. مننه ۵ \۳\۲۰۱۲م

سلام مجاهد صاحب! زما پوښتنه داده چې قران یو قران دی، کله چې تاسې په جومات کې ځانمرګی برید کوئ له امله یې قران ټوټې ټوټې شي، همدا

عمل تاسې جایز بولئ او که بهرنیان قران وسوځوي هغه بیا ناجایز ګڼئ، ایا دا اسلام دی، ایا تاسې ته من حیث مسلمان دا جایز ده؟! صابر صابري

ځواب ــ وعلیکم السلام! ورور‌ه، د اسلامي امارت مجاهدینو چیرته هم په جومات کې فدایي برید نه دی کړی او کومې چاودنې چې په مساجدو کې شوې دي، په موږ پورې اړه نه لري، پاتې شوه د قران د سوځولو خبره، نو محترمه لوړی بايد د اسلام په اړه ښه معلومات وکړې او بیا اعتراضیه سوال، که احیانا داسې پیښه شي چې په کومه سیمه کې د مجاهدینو د کوم برید له امله قرآن عظیم الشان خدای مکړه وسوځي او زیان ورته ورسیږي، نو داکار یو مسلمان کله هم په عمدي او قصدي ډول نه کوي او نه هم د یو مسلمان له شانه سره داښایې چې هغه قرآن دې وسوځوي چې ایمان یې پرې راوړی وي او نه چاته د منلو ده چې مسلمان دې عمداً اوقصداً قران عظیم الشان وسوځوي. امریکایان او ملګري چې یې قران کریم سوځوي، نو داخو یو عمدي او قصدي عمل دی او هدف یې د قران کریم توهین او د مسلمانانو اذیت دی، په امریکا، اروپا، افغانستان او عراق کې چې په ځلونو قران کریم وسوځول شو او توهین یې وشو، د دې کار لپاره پراخ کمپاینونه وشول او د یو پلان له مخې په تکرار سره د قران کریم سپکاوی وشو، د اسلامي شعایرو او مقدساتو توهین د صلیبي جګړې یوه برخه ده، کفار غواړي چې په رواني لحاظ هم مسلمانان مغلوب کړي، داچې ځیني خلک ځان مسلمان او افغان ګڼي خو د امریکایانو او سنې جګړه یوازي له طالب او ملا سره په جنګ تعبیروي، بیخي لویه تېروتنه کوي!!، ستاسو به پیاد وي کله چې د امریکاپخواني ولسمشر بوش پر افغانستان یرغل پیل کاوه، نو د خپلو خلکو د هڅولو او پارولو لپاره یې په ډاګه وویل چې: «دا جګړه، صلیبي جګړه ده»، په دې معنی چې همدا جګړه د اسلام او کفر ترمنځ یو عقیدوي جنګ دی، او تیر کال چې د امریکا په پلوریډا ایالت کې یوه عیسوي پادري (ترې جونس) قرآن عظیم الشان ته اور ورته کړ، دا کومه سهوه نه وه، بلکې یو قصدي عمل و چې له اسلام او مسلمانانو سره د کفارو دکینې او بغض

ښکارندويې او نمائيندګي يې کوله، همداراز يرغلګرو په افغانستان کې هم څو څو ځله قرآن عظيم الشان سوځولی او په مختلفو بڼو يې د دې ستر اسماني کتاب توهين او سپکاوی کړی دی. که د کوم مسلمان لخواپه خطاء سره قرآن عظيم الشان ولويږي، څيري شي او يا وسوځول شي، په شريعت کې پرهمدغه کس باندې صدقه لازميږي او بايد له الله تعالی څخه بخښنه وغواړي.

اما که کوم کافر قران کريم سوځوي او بې احترامي يې کوي، همدا په ښکاره د قران او اسلام سره دښمني ده، په ځانګړې توګه په داسې حالاتو کې چې همدغه کافر له مسلمانانو سره په جګړه هم بوخت وي او د همدې قرآن په حکم يې په مقابل کې جهاد او مقاومت روان وي، نوځکه پرتهولو مسلمانانو که زه يم او که ته فرض ده چې له خپلې عقيدې او قران نه دفاع وکړو او د اسلام همدې دښمنانو ته داسې تاريخي درس ورکړو کوم چې زموږ همدغه قران يې راته ښودنه کوي. موږ اوزموږ ملت چې د قرآن په سوځولو خپه يو په دې وجه نه چې زموږ په هيواد کې قرآن شريفونه کم شول او نور به چاپ نشي، بلکې وجه داده چې زموږ په هغه اسلامي ملک کې چې د همدې قرآن لپاره په تېرو دروو لسيزو کې دوه مليونه افغانانو خپل سرونه قرباني کړل، خو يو کافر او يرغلګر داجرئت کوي چې زموږ کتاب اومومَن به سوځوي، نو که اوس لاس ترزنې کښينو او د اشغالګر کافر همدغه کرغيړن کار په سهوه سره تعبيروو، يا کوښښ وکړو چې امريکايانو ته د څوډالرو په تمه براءت ورکړو، هيڅ غبرګون ونه ښيو او دا بهانه وړاندې کړو چې زموږ د مسلمانانولخواهم کله کله داسې کار کيږي، نو دا خو ښکاره بې ننګي او د اسلامي او افغاني احساس او ضمير مړه کول دي.

ښاغلی صابري! ته کوښښ مه کوه چې د امريکايانو له خوا قران سوځونه کم رنګه او يوه نوعه توجيه کړې، هغوی زموږ دغه کتاب (قرآن عظيم الشان) ته د ترهګرۍ زيږنده کتاب ويلی او کوښښ کوي چې له دغه قرآنه د جهاد آيتونه وباسي، ځکه وايې د غرب او امريکا ګټې تهديدوي، نو څرنګ کولای شو چې د اسلام د

دښمنانو له لوري قران سوځونه توجیه کړو؟ او پر هغو مجاهدینو اعتراض وکړو چې په کومه پیښه کې سهوا قران کریم ترې لویدلی او یا سوځیدلی وي، خو عملا یې ثابته کړې وي، چې د همدې قرآن لپاره له خپله ژونده تیر شوي، خپل آرام ژوندیې نا ارامه کړی، له کورنیو او بچیانو سره ګډ په وینو کې لمبیدلي وي، د قران سوځونکو اشغالګرو او غلامانو په وحشي زندانو کې د کړاو شپې او ورځې تیروي او په ځان پورې د همدې قرآنه د دفاع په لاره کې بمونه تړي، ډیره لویه بې انصافي به نه وي چې د دې غازیانو همدا قرباني او سرښندنې په نظرکې و نه نیول شي او کومې سهوې چې ترې شوې وي، امریکایي یرغلګرو ته د برائت ورکولو بهانې وګرځول شي؟ که خدای مکړه مجاهدینو د توهین په بنیاد خپل کتاب سوځولی، نو دغه قرباني یې بیا دڅه لپاره دي؟ هیله کوم له هرڅه وړاندې په دین ځان پوه کړو او اسلامي مطالعه ډیرکړو، تبوله ستونزه له همدې ځایه پیل کیږي. ۲۰۱۲|۳|۱م

* * *

۱۶ـ د بهرنيو مؤسساتو په تړاو

په مؤسساتو کې کار کول:

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

محترما! لومړي پوښتنه داده چې د افغانستان د اسلامي امارت موقف د هغو خارجي انجيوګانو په باره کې څه ډول دی چې په افغانستان کې فعاليت کوي او د افغانستان په مختلفو ولاياتو کې د بيا رغونې کارونه ترسره کوي. انجيوګانې هم زه په دوه برخو ويشم، يو هغه انجيوګانې چې د طالبانو په وخت کې يې هم فعاليت درلود او اوس يې هم لري او بل هغه انجيوګانې چې د طالبانو په وخت کې يې فعاليت نه درلود خو د اوسني حکومت په وخت کې يې فعاليت شروع کړی دی. آيا ستاسو موقف د دوي په باره کې فرق کوي او که يو ډول دی.

دوهمه پوښتنه مې د دوی د افغاني او خارجي کارمندانو په باره کې ده چې د دوی په باره کې ستاسو موقف څه رنګه دی؟ والسلام عرفان

ځواب: وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

وروره زه غواړم ستاسو سوال ته د اسلامي امارت د مؤسساتو د کميسيون د اصولو له مخې په لاندې ډول ځواب درکړم.

اسلامي امارت کله هم د هيواد د رغونې، آبادۍ او پرمختګ مخالفت نه دی کړی، تېول هغه جهتونه چې غواړي په سمه توګه زموږ د ولس د هوساينې په غرض هر ډول رغنيزې چارې او بشري مرستې تر سره کړي، زموږ له اړخه يې په وړاندې هيڅ

ډول ممانعت نشته، دوی کولای شي چې د ورته وضع شويو قوانينو په نظر کې نيولو سره په ډاډمنه توګه خپلې چارې پرمخ بوزي، په دې اړه د اسلامي امارت د مؤسساتو د کميسيون د لايحې دريمه ماده داسې صراحت لري:

(د مؤسسواو شرکتونو دکنترول او تنظيم کمېسيون مسؤليت لري چې د اسلامي امارت د فرامينو او ورته وضعه شويو اصولو په رڼا کې د مؤسساتواو شرکتونو له لوري د بيارغونې او مرستو په نامه هغو ټولګټو او عام المنفعه فعاليتونو ته اجازه ورکړي چې د اسلام او وطن په ګټه وي او د هغو فعاليتونو مخه ونيسي چې د دين اوهيواد په تاوان او دروان جهادي بهيرپه ضرر وي)

البته يو شمير بهرنی شبکې د خيريه او مرستندويه مؤسسو تر عنوان لاندې د اسلام د مقدس دين په خلاف فعاليتونه لري او غواړي زموږ مؤمن ولس په تيره بيا تنکي ماشومان او زلميان د نصرانيت او نورو باطلو عقائدو لور ته دعوت کړي، نو د دا ډول نا مشروع هلو ځلو مخنيوی بيا د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظيم کميسيون د خپل مسؤوليت او دندې له مخې خپله فريضه ګڼي چې همدې خبرې ته د لائحې په څلورمه ماده کې داسې اشاره شوې ده:

(هغه مؤسسات چې غير اسلامي نظرياتو ته دعوت کوي لکه نصرانيت او داسې نور.. او د مجاهدينو په ضد فعاليت کوي هغوی ته مطلقا اجازه نشته، د مؤسسواوشرکتونود کنترول اوتنظيم کميسيون به يې په خپل ټول قوت سره د فعاليت مخنيوی کوي.)

له پورته وضاحت نه ستاسو د دوهمې پوښتنې په اړه چې له مؤسساتو سره کارکونکي د کار اجازه لري که نه داسې ځواب ترلاسه کيږي:

اسلامي امارت له هغو مؤسسو سره چې يوازې او يوازې د بشري خواخوږی په بناء عام المنفعه چارې پر مخ بيايي زموږ د هيوادوالو له لوري ورسره په کار کولو کې کومه ستونزه نهويني، البته له بهرنيو خيريه مرستندويه مؤسسو سره کارکوونکي افغانان

باید خپل اسلامي او دیني مقررات او افغاني عنعنات په پام کې ونیسي۔ ځکه د یوه مسلمان او افغان په صفت دا د دوی اسلامي او ملي وجیبه ده. ۳/۳/۲۰۱۴م

د ټلیفوني شبکو په اړه:

د پکتیا ولایت ګردي ځیرۍ ولسوالي کې د تلیفون د ستګاه نشته، خلک یې ډیر د مشکل سره مخامخ دي، داځوځله موږ د مخابراتو له وزیرسره خبرې وکړې چې دلته تلیفون کار نه کوي موږ د تلیفون انتن غواړو، هغه په ځواب کې وویل چې دلته امنیتي ستونزې دي، نو زما پوښتنه له ښاغلي ذبیح الله مجاهد نه داده چې ولې په ګردي ځیرۍ کې تاسو د تلیفون انتن ته اجازه نه ورکوئ، دګردې ځیرۍ بیا په خاصه توګه ځدران خو ټول مجاهدین دي باید دوي ته خو د دې لپاره هم اجازه ورکړئ چې د تلیفون انتن ولګوي، د دې ځواب زه حتما غواړم دا زموږ ډیره لویه ستونزه ده. وزیر ځدران

ځواب ـ وروره ستاسو غوښتنه پرځای ده، خو مشکل په دې کې دی چې لکه څرنګ چې تاپخپله ویلي ځدراڼ قوم الحمدلله اکثره مجاهدین دي، نو ستاسو خپل مجاهدین د دښمن د چاپو او تعقیب له امله نه غواړي چې سیمې ته تلیفون راشي، امریکایانو د تلیفوني انتنونو له وجهې ګڼ ملکي خلک شهیدان کړي او بندیان کړي، ممکن تاسو په دې اړه معلومات ولرئ، نو داچې حالت جنګي دی او خصوصا په ځدراڼو سیمه کې ډیری مجاهدین اوسیږي، هغو او نورو عامو مسلمانانو ته زیانونه رسیږي، وژل کیږي، نیول کیږي او بندیخانو ته اچول کیږي نو هیله کوم چې تاسو لږ نورهم له صبر او حوصلې نه کار واخلئ، د ژوند تر ډیرو اسانتیاوو او ضرورتونو د انسانانو ژوند او عزت ډیر مهم دي، دابه سمه خبره نه وي چې ځینې خلک دې د تلیفوني اسانتیاوو نه ګټه واخلي، خو ځینې نور بیا د دغه تلیفوني انتنونو په وجه شهیدان شي، چاپې پرې ولویږي او زندانونو ته واچول شي، البته دا ستونزه په ټول هیواد کې شته خو په هغو ځایونو کې چې د مجاهدینو کثرت وي ډیرزیات مشکلات

له تليفونونو نه پيښيږي او خلکوته بيا د ځان ساتنې طريقې او د تليفون د استعمال څرنګوالی هم نه معلوميږي چې له دښمن نه ځان وساتلی شي. ۲۸/۴/۲۰۱۲م

مجاهد صاحب السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته!

محترما! توره بوږه چې يو وخت کې د مجاهدنو ستر مرکز و، ايا اوس هم د اسلامي امارت تر ولکې او کنترول لاندې ده او کنه؟ که چيرې اسلامي امارت په افغانستان کې حاکميت پيدا کړي، هغه چا چې د اوسني دولت، موسيساتو او يا هم د ملګرو ملتونه سره وظيفه اجراء کړې وي، نو د هغوی په وړاندې به د اسلامي امارت دريځ يا کړنلاره څه وي؟ هيله لرم چې زما د پوښتنو ځواب راکړئ؟

ځوابـ توره بوږه اوس هم د پخوا په شان زيات شمير مجاهدين په خپله غيږه کې لري او د اړتيا په وخت کې د يوه کلک سنګر کارورکوي.

داچې زموږ ځينې هيوادوال په ځينو نادولتي مؤسسو او د ملګروملتو په ادارو کې کار کوي، که دغه اداري مجاهدينوته کوم ضرر ونه لري او صرف عامه کارونه پرمخ وړي، د مجاهدينو لخوابه يې کارونکوته هم څه مشکل نه وي. ۱/۴/۲۰۱۲م

* * *

۱۷ـ له انټرنټ څخه د استفادې په اړه

مجاهده وروره سلامونه او احترامونه مې قبول کړه! لوی الله جل جلاله دې دکفراو صليب په مقابل کې همداسې غر ولره. بله خبره داده چې زموږ ډيری مجاهدين وروڼه دانټرنټ څخه استفاده کوي؛ څوکه سالمه استفاده ترې وکړي دا به ډيره ښه وي. سوال مې دادی چې اياتاسې داسې کوم پلان لرئ چې مجاهدينوته په ګوته کړئ، چې بايد څرنګه له انټرنټه کارواخلي؟ او په فيسبوک کې ډيری خلک دمجاهدينوپه نامه ايډانې (IDs) لري خوداسې خبرې، عکسونه اومقالې پورته کوي چې د مجاهدينوله شان سره نه ښايي که مهرباني وکړئ د دوي د کنټرول په هلکه معلومات راکړئ؟ مننه حافظ عبدالله پنجوايي، تلوکان، پيروزوکلی

ځواب: وعليکم السلام! ستاسو سوال ډير مهم دی، همدا پوښتنه مې د چارو له مسئولينو سره شريکه کړه، هغوي بې په اړه وويل چې موږ د مختلفو لارو نه هڅه کوو چې ټول مجاهدين د نوې تکالوژۍ نه په سالمه استفاده تربيه شي، تر ډيره مو ملګري او مخلصين روزلي هم دي چې د انټرنټ او نورو معاصرو وسايلونه د هيواد او اسلامي ارزښتونونه د دفاع په لاره کې کار واخلي او سالمه استفاده ځنې وکړي، خو يوڅه دي چې د فيسبوک او ټويټر دايره دومره پراخه ده چې سړی هرڅه وکړي بيا هم نشي پسې رسيدلی، ځکه تاسو په انټر نيټ کې دا مخلصين او ګڼون کونکي ګورئ چې د نړۍ له مختلفو هيوادونو څخه د فيسبوک او ټويټر نه استفاده کوي، څوک په پوهنتونونو کې دي، څوک په شخصي تجارت او کاروبار بوخت دي، څوک د نورو ستونزو له امله مسافرت ته اړ شوي او له بهرنيو هيوادونونه فيسبوک استعمالوي او د مجاهدينو له

داعيي او خپل هیواد د آزادۍ له هدفه دفاع کوي، نو په دا اوسنیو سختو شرائطو کې چې موږ د هیواد په هیڅ لوی ښار کې چې انټرنټ او نورو وسائلوته لاس رسی په کې آسانه وي برالا فعالیت نشو کولای، دفتر نشو خلاصولی، اداره نشو پاللی، نو په دا ډول حالاتوکې اوس هم چې صرف له آنلائن طریقې نه ملګري په نظم او نسق کې راولو، له جهادي صف سره یې ملګري کوو دا هم ډیر کار دی، خو په راتلونکې کې ستاسو ارزښتمنو مشوروته چې د پوښتنو په ضمن کې مو راکړي دي هم متوجه یو، الله تعالی دې وکړي چې شرائط او ظرفیتونه را سره مرسته وکړي. آمین یارب العلمین

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

زما دغه پوښتنه ده چې زه په فیسبوک کې د قران کریم ایاتونه او مبارک احادیث نشر کومه او تقریباً ډیر خلک یې ګوري او وایي چې ښه کاردی نو ایا دغه ته جهاد وایې کنه؟

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! بلې جهاد ډیرقسمونه لري په خوله او قلم باندې جهاد کول همدغه دی، الله پاک دې تأثیر پکې واچوي او خدای تعالی دې تاسو ته د جهاد په ټولو انواعو کې د ګډون توفیق درکړي، زه موهم دغه کار تائیدوم چې له انټرنیټي وسیلې نه هم د جهاد او اسلام لپاره کار اخلئ او لا توفیق درته غواړم. ۲۰۱۲\۳\۱۴م

مجاهدصاحب سلامونه او پیرزوینې مې ومنئ! زما پوښتنې په لاندې ډول دي:

پوښتنه ـ اسلامي امارت د هغو مسلمانو او غیرمسلمانو د خبرو تعقیب کوي کوم چې په سوشل میډیا: (فیسبوک، یوټیوب) او په اسلامیک فورمس: (اسلامیک اواکینینګ) کې کیږي؟

ځواب ـ بلې اسلامي امارت د هغو ټولو نشراتو او خپرونو په اړه دقيق معلوما ت او وخت په وخت څیړنه کوي چې په پورته ټولو منابعو کې خپرېږي او ترهغه ځایه چې د اسلامي امارت پوري اړه ولري، د خپل موقف او پالیسیو په رڼاکې ورته مناسب غبرگون لري او کوم یې چې د گټې او دقت وړ وي په هغو هم پخپل وخت کې غور کیږي. ۲۰۱۲\۳\۳م

* * *

۱۸ـ د انتخاباتو او رايو په اړه

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته! په دې هيله چې د انسان په لاس د جوړشوي قانون پرځای راليږل شوی اسماني قانون حاكم شي

لكه څرنگه چې كفار خپلې پيسې بې هدفه په اسلامی ملكونو كې نه مصرفوي؛ بلكې د خپلو گټو په خاطر يې مصرفوي او په اسلامي هيوادونو كې تش په نوم مدرسې، مكتب، سرک، پل او نور شيان جوړوي چې هدف يې يادشوي شيان جوړول نه؛ بلكې خپل شوم مرام ته ځان رسول دي، اوس امريكايان او د هغوی اجيران غواړي چې د مجاهدينو تركنترول لاندې سيمو كې ځينې په نوم مدرسې اعمار كړي چې بالخصوص دا لړۍ په لوگر او پكتيا كې پيل شوې ده، هيله ده چې مجاهدين په دې اړوند خبر اوسي او مشران د موسساتو سره هوكړه پرې ونه كړي.

دويم داچې انتخابات د حمل په ١٦ د ۱۳۹۳ كال كې ترسره كيږي، چې كيدای شي په غرونو كې واوره وي او مجاهدين به هم په سړو سيمو كې شتون ونه لري، ايا ښاري گروپونوته تجهيزات وركړل شوي او كه نه؟ هيله ده چې توجه ورته وشي. والسلام شهاب گرديز

ځواب: وعليكم السلام ورحمةالله وبركاته

د هغو مدارسو، مكاتبو او تعميراتو په اړه چې د امريكايانو لخوا د شومو اهدافو او بدوعزايمو لپاره جوړيږي موږ ورته ښه دقيق متوجه يو، كه داسې كوم مورد په اثبات ورسيږي چې واقعا د يرغلگرو پورې اړه ولري او د هغو مقاصدو ته گټه رسوي، د

اسلامي امارت مسئول مجاهدین په هیڅ وجه هم اجازه نه ورکوي چې د پیسو په مصارفو سره زمونږ د دین او هیواد په ضد شوم پلانونه عملي کړل شي.

بل پلو دراتلونکو انتخاباتو د مخنیوي لپاره هم مجاهدینو خورا ښه پروګرامونه تر لاس لاندې نیولي دي چې ان شاءالله په مټ به یې دغه غولونکې پروسه خپل هدف ته ونه رسیږي، مجاهدین په ټول هیواد کې د ژمي د یخني سره سره د عملیاتو د اجرا او پلې کولو لپاره لازم تدابیر لري چې له نورو عملیاتو سره به د انتخاباتو د پر وسې د ناکامۍ لپاره هم ورنه استفاده وکړي. ان شاء الله

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

له ډېره وخته څخه مې په زړه کې د یو مؤمن افغان په حیث د الله تعالی څخه ویره پیدا شوې ده چې هسې نه د حکومت واګې یو ځل بیا نا اهلو ته په لاس ورشي. نو په دې لټه کې وم چې د خپل وطن لپاره یو صحیح صالح اهل کار شخص کاندید ومومم او رایه ورکړم تر څو خپل شرعي مسؤلیت ادا کړم.

نو ستاسو د درانه مقام څخه مې غوښتنه دا ده چې تاسو په دې اړه څه لارښونه کوئ؟ ایا یو څوک شته چې موږ رایه ورکړو؟ که شته څوک دی؟ د کومو صفات خاوند دی؟ او که نه شته نو په دې اړه تاسو څه پلان لرئ؟ که چیرې ستاسو د خوا څخه قابل کاندید نه وي نو د ملت واک به بیا دې ظالمانو او بې دینو ته پاته شي او زموږ په سر به لوبې کوي ـ عبدالحی

ځواب: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

وروره تاسو پوهیږئ چې اوس مهال زموږ هیواد د امریکایي یرغلګرو لخوا تر اشغال لاندې دی، په اشغالي حالت کې د ټاکنو او انتخاباتو پروسې ټولې د پردو په واک کې وي چې د هغو څوک خوښ وي، د هغو د مزاج سره څوک برابر وي، د هغو اطاعت کولای شي، هغه کسان به په انتخاباتو کې وړونکي وي او زموږ د ملت رایه او نظر به هیڅ ځای نشي نیولی، تجربو ښودلې چې غربیان په هیڅ وجه نه غواړي داسې

څوک واکمن شي چې اسلامي اصيل فکرته متعهد وي، اسلامي حاکميتونه د مسلماني نړۍ د وحدت او يو والي پيغام له ځانه سره لري او کفري نړۍ داسې څه نشي-برداشت کولای، نو اسلامي امارت په اوس (اشغالي) حالت کې د انتخاباتو پروسي عملي کول، د غربيانو د موخو د تحقق لپاره يوه هڅه بولي او د هغو لخوا به يي هرڅه ترسره کيږي، چې طبعا به د يرغلگرو د خوښې مطابق برخورد کيږي او د هغو په خوښه خلک به پکې ورونکي وي، د خلکوهلې ځلې ټولې بې گټې دي او په انتخاباتو کې گډون کول د اشغالگرو کفارو له موخو سره مرسته ده، افغانان اوس بايد لومړی د خپل هيواد آزادۍ ته متوجه وي، کله چې هيواد آزاد شي، افغانان خپل واک او ارادې ته پريښودل شي بيا به د حاکميت د جوړيدو او نوعيت په اړه مناسبه لار اختيار کړل شي، مخکې له هغې نه په دغه راز جعلي پروسو کې ونډه اخيستل او انرژي مصرفول د خلکو توجه له اشغال نه په بله اړوي او د آزادۍ غوښتنې له روحې نه خلک را گرځوي چې زموږ لپاره خورا زيانمنونکي ده او بايد افغانان دا باريکي درک کړي، د نورو هيوادو لپاره د هغو هيوادونو خلک مکلفيت لري چې څه کوي او يا کومه لاره ځانته غوره کوي، خو افغانستان چې پنځه ديرش کاله يي د اسلامي حاکميت لپاره قربانۍ ورکړې بايد پر نورو ملتونو قياس نشي.

* * *

۱۹ـ د حزب اسلامي اړوند

له حزب اسلامي سره د مطبوعاتي ستونزې په اړه:

د اسلامي امارت محترم ویاند ښاغلی ذبیح الله مجاهد صاحب، السلام علیکم ورحمته الله و برکاته!

الله تعالی مو د روان جهاد په ټولو برخو کي نهايي او واقعي موفقيت په برخه کړه له ډېرې مودې را هیسي د الاماره وېب پاڼې له لارې ستاسي نظريات او اظهارات څارم، باور وکړه ډېر موثق او دقیق مي موندلي، غواړم له همدې فرصت څخه په استفاده څو خبري / پوښتني درسره شريکې کړم:

۱ـ اسلامي امارت ټول رسمي مطبوعات په هیـواد کـي د روان جهاد ټـول جريانات په ډېر ښه ډول منعکس کوي، خو په روان جهاد کـي د حـزب اسـلامي د برخې په اړه بېخـي ساکت دي، او کـه پـوره خـبره وکړم لـه دې داسي يـو تـاثر اخیستل کېږي چې تاسي د هغوی جهادي ونډې تـه پـه کـوم ارزښـت قايـل نـه یاست، سره له دې چې د هغوی (حزب اسلامي) مطبوعات بیا هغـه ټـول جهـادي عملیات چې د طالبانو له خوا کېږي، منعکسوي.

۲ـ له بل پلوه ستاسو او اسلامي حزب اختلافات چې زموږ په فکـر اصـلي نـه فرعي دي، ستاسو مطبوعات یې نه منعکس کوي چې يو ډېر مثبت عمل دی، خـو د هغوی مطبوعات بیا همدا فرعي اختلافات څیړي، همداراز هغوی ځینو ویبپـاڼو ته گوته نیسي او وايې چې د طالبانو پـه حمایـت کـې او زمـوږ پـه ضـد لیکنـې او خپرونې لري، که څه هم چې همداویبپاڼې د اسلامي امارت رسـمي لیـدلوری نـه

انځوروي، په ازاده او خپلواکه توگه نشرات کوي، که په دې اړوند خپل نظر را سره شریک کړئ؟

ځواب: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! ستاسو له نیک احساس او خواخوږي نه یوه نړۍ مننه کوم.

داچې زموږ ناچیزه فعالیت مو په ډیر و شمیرلی تشویق مو کړو له الله تعالی څخه اجرونه درته غواړو.

ستاسو دلومړۍ پوښتنې په ارتباط وایم چې زموږ الامارة سایټ کاملا یو رسمي او محدود سایټ ده چې زموږ د خپلو فعالیتونو په اړه معلومات ورکوي، دا کوم آژانس یا داسې سایټ نه ده چې په هغه کې موږ ټول قضایا او پیښې ځای کړو، خو ترکومه ځایه چې د حزب د فعالیتونو راپورونه دي لومړی خوهغه موږ ته نه رسیږي او که لږ نور وضاحت ورکړو تقریبا دهري هغې پیښې په اړه چې حزب یې خبرورکوي زموږ په سایت کې مخکنی خبر د هغې پیښې په اړه د خپلو مجاهدینو په حواله خپور شوی وي، بیا نو دا ممکن نه ده چې دوهم ځل موږ هغه خبر د حزب په نامه هم خپور کړو څه ډول چې د حزب په منابعو کې یې ادعا کیږي.

د دوهمې پوښتنې ځواب مو داسې وایم چې موږ کله هم نه غواړو چې په دې حساسو جهادي شرائطو کې په فروعي مسائلو بوخت شو او اصلي قضایا پر یږدو او یامو توجه ورنه کمه شي، موږ د حزب په اړه هیڅ ویلوته هم وخت او انرژي نه لرو، ځکه زموږ توانایي باید ټوله د دښمن او یرغلگرو په وړاندې استعمال شي نه د بل لوري په وړاندې، پاتې شوه د ځینو آزادو ویب پاڼو خبره لکه نن ټکی آسیا، او داسې نورې هغوی چې کوم شیان د مجاهدینو سره د خواخوږي او واقع بینۍ له مخې په آزاد او بې پرې ډول خپروي دا زموږ پورې هیڅ ارتباط نه لري، موږ هغو ویب پاڼوته د آزادو پاڼو په توگه گورو، هیڅ ډول تسلط او واک پرې نه لرو، حتی رسمي تماس ورسره نه لرو، البته ځینې فعالین یې پیژنو چې یا محصلین دي، یا تجاران دي، یا د

ليکوالو او فرهنګي ټولنو پورې اړوند کسان دي خو هلته زموږ په نمايندګۍ څوک هيڅ هم نه خپروي اونه هم د داسې کولو اجازه لري، همدا پاڼې به تاسو څارلې وي زموږ په خلاف هم په مختلفو وختونو کې راپورونه خپروي، د حزب په ګډون د مقابلو جهتونو ليکنې خپروي چې هغه مخامخ په موږ تنقيد وي، خو چون دا په اوس دور کې بالکل طبعي خبره ده چې تنقيد بايد ومنل شي او موږ د دغو پاڼو آزادۍ ته درناوی کوو، ولې له دې ټولو سره سره دا انتباه چې ګنې دغه پاڼې دې د خپلو نشراتو په وجه زموږ پورې تړلې وي داخبره سمه نه ده، دا هره يوه پاڼه ځانته دريځ لري، خپله اساس نامه لري او خپل اهداف يې په پاڼه کې روښانه کړي او هغه بالکل واضح کوي چې نوموړې پاڼې آزادې دي او په موږ پورې تړاو نه لري، د لاښه وضاحت لپاره به داخبره کاپي وي چې د اسلامي امارت د فرهنګي کميسيون مشرتابه وخت په وخت خپلو اړونده ليکوالانو ته تو صيه کوي چې د حزب اسلامي په خلاف من حيث جهادي تنظيم بايد هيڅ منفي شی ونه ليکل شي البته د حکمتيارصاحب يا حزب ته دکوم بل منسوب کس د شخصي نظراوپرموږ باندې د رد ځواب هم يوازې په هغه وخت کې ورکوئ چې اشدضرورت محسوس کړئ او هغه جواب هم د شخصي عقدې په بنا نه؛ بلکې د يوه وضاحت يا هم د اسلامي امارت او مقدس جهاد د لوړو اهدافو نه د دفاع په خا طر وي، نه د مقابلې يا انتقام په خاطر، خو بيا هم تر اوسه پورې به زموږ په رسمي مطبو عاتو کې د دوی په خلاف څه نوي خپاره شوي اونه مو دي الله تعالی دي ته مجبوروي چې د قلم څوکې مو د دښمن پر ځای بل لوري ته ګذار وکړي. ۳/۸/۲۰۱۴م

ګران او قدرمن ذبيح الله مجاهد صيب سلامونه او نيکې هيلې مو ومنئ! زما پوښتنه دا ده چې اکثر خلک دا پوښتنه کوي چې د حزب اسلامي مشر امير ورور حکمتيار هر ځل په طالبانو باندې ګوزار کوي، کله د طالبانو په اړه کتابونه ليکي او کله يې په پيغام کې په طالبانو لفظي بريدونه کړي وي، او پرون ما يو کتاب وليد چې حکمتيار ليکلی و او نوم يې و: (د افضل په موجوديت کې د مفضول سره بيعت کول) او طالبان څوک دي او په مجاهدينو پسې څه وايي؟

حکمتیار ورور هر ځل دغسې پروپاګند کوي او تاسې په ځواب کې هیڅ نه ورته وایاست، نو په حقیقت کې دوی ستاسي په خاموشي باندې ډیر ځوریږي، خو ځیني خلک بیا وایي چې په طالبانو کې دغه کارونه شته دي، ځکه نو څه نه وایې، نو که تاسې په دې اړه خپل دریځ لږ واضح کړئ ترڅو چې موږ هم پوه شو او هر ځل زه له دغسي پوښتنو سره مخامخ کیږم، څومره چې زما وس رسي هغه ورته وایم خو بیا هم اعتراض کونکی قناعت نه کوي.

ځواب ـ وعلیکم السلام! وروره ستاسو په ځواب کې باید دومره ووایم چې بلې یوتعداد خلک به داسې وي چې په اسلامي امارت بې موجبه، بې دلیله اوغیرمعقول انتقادونه کوي، خو اسلامي امارت بیا دخپل درانه موقف او اسلامي لوړ دریځ له مخې نه غواړي له هرچا سره په هره موضوع کې ښکیل شي او تش لفاظۍ وکړي، زموږ پالیسي او تګ لاره داده چې باید هرڅوک خپل حقانیت او وړتوب د خبرو او دعوو پرځای په عمل کې ثابت کړي او خپل خدای او ملت ته په عمل سره ثابته کړي چې موږ د عمل خلک یو نه د تشو دعوو، موږ دغه څه چې تاسو په پوښتنه کې اشاره ورته کړې وینو؛ بلکې تر دې هم زیات شیان وینو، خو بیا مو هم له زغم اوحوصلې نه کار اخیستی، زموږ په یوه لیکنه کې به هم دوی پیدا نه کړي چې په دوی نیوکې شوې وي، نودوی ته هم په کار ده چې دغه ډول تګ لاره خپله کړي او له تشو خبرو او بې موجبه انتقادونونه لاس واخلي، بل داچې ډیر ځلې زموږ مجاهدینو عملیات کړي وي، خو د حزب ویندویانو هماغه عملیات خپل ځان ته منسوب کړي وي، چې دا هم د دوی په کمزري دریځ دلالت کوي. مننه ۱۵/۴/۲۰۱۲م

السلام علیکم، ګرانه وروره مجا هد صا حب! نن د افغا نستا ن دولت اعلان وکړ، چې د حزبي اسلامي ۵ غړي، د روغې جوړې لپا ره کا بل ته را غلي، ایا اسلا مي امارت له حز بي اسلامي سره کومه هماهنګي لري او کنه، ستا سو نظر څه دی؟. والسلام احد

ځواب ــوعليکم السلام! وروره تاسو پوهيږئ چې حزب اسلامي ځانته يـوتنظيم دی او خپله پاليسي لري، د هغو تصاميم او فعاليت د هغـو کـار دی، خـو کـوم کـارچې هغوي کوي هغه د اسلامي امارت دريځ او پاليسی نـه ده او نـه هـم مـوږ کـولای شـو د حزب پرځای تاسوته ځواب درکړو. ۱۳/۴/۲۰۱۲م

السلام عليکم و رحمت الله و برکاته!

محترم مجاهد صاحب! پوښتنه مې داده چې تاسو په کـوم دليـل لـه حـزب اسلامي سره جنګ جايز بولئ؟ عبدالرحمن

ځـواب: وروره ستاسـو تکليـف پـه ځـه کـې ده چـې د حـزب سره د امـارت د مجاهدينو د جنګ په اړه ناسمې خبرې کوئ، امارت کله او په کوم ځای کې له حـزب سره جنګ کړی چې تاسو يې په اړه تشويش لرئ؟ بلې په کومو ځايو نـوکې د اسـلامي امارت مجاهدينو له اربکيانو او يا هغـو اشخاصـو سره جګـړه کـړې چـې عمـلا د کابـل اداري او اشغالګرو په خدمت کـې دي، نـو لـه هغـو سره خوجنـګ کـول د مجاهـدينو وظيفه ده، پخوا که په هر چا او هرې ډلې پوري تړلي وو، سابقه يې مهمه نه ده، هيلـه ده چې نور دا ډول پارونکو او ناسمو خبرو څخه ډډه وکړئ. ۵/۴/۲۰۱۲م

السلام عليکم ګرانو مجاهدينو خدای جله جلاله مو تل کاميـاب او د خـدای په لار پابند وګرځوه، زه يوه ګيله لرم هيله ده چې ځواب يې راکړئ، زه د وردګـو ولايت اوسيدونکی يم او هلته په وردګو کـې د خالـد بـن وليـدرض او د باغـک د ليسو مديران د طالبانو لخوا يوازي په دې تور لرې کړل شوي دي، چې پخـوا پـه حزب اسلامي کې وو او که نه تاسې د وردګو ولايت د هر اوسيدونکی نه د هغـوی د تقوی او ديندارئ پوښتنه کولای شئ، زما پوښتنه دا ده چې ايا د حزب اسـلامي غړی کافر دي، ستاسو په نظر او که نه دي، نو بيا مو ولې هغوی له مديريت څخـه لرې کړي دي؟ مننه وردګ

ځواب ــ وروره زه فکر نه کوم چې هلته دې څوک صرف په دې تورچې د حزب اسلامي غړی دی له دندو گوښه شوی وي، خو داچې تاسو شکایت رااستولی، زه به يې په ټول وس او توان سره ترمسئول ملگرو ورسوم او په دې اړه به لازم او مناسب اقدام ترسره شي، له تاسو نه يوه نړۍ مننه کوم چې خپل شکايت او گيله مو ترموږه راورسوله. مننه

مجاهدصيب السلام عليکم!

اياکيدای شي چې امارت اسلامي او حزب اسلامي په اوس وخت کې يو سياسي اونظامي دريځ د دښمن په وړاندې ونيسي؟ اتل

ځواب ـ اسلامي امارت د اسلامي حاکميت د منلو په شرط له هرچاسره د واحد دريځ خپلولو غوښتونکی دی او هيله شته چې د هيواد دازادۍ د ترلاسه کولو نه وروسته ټول مسلمان هيوادوال مو که ترهرتنظيم پورې اړه ولري په يوه ټغرسره کيني او د اسلامي لارښونو په دننه کې د خپلو خلکو او هيواد خدمت وکړي، مگر د تاسف ځای دی چې حزب اسلامي د يرغلگرو په شتون کې په مجاهدينو پسې منفي تبليغاتو ته ډير وخت ورکړی. موږ اوس تر هر څه ډير او لومړی بايد د يرغلگرو شړلو ته اولويت ورکړو. ۱۷/۳/۲۰۱۲م

❊ ❊ ❊

۲۰ـ د پاکستان سره د اړیکو په تړاو

مجاهد صاحب سلامونه او نیکې هیلې مې ومنئ، هیله ده چې ښه صحت ولرئ!. عرض دا دی چې کله امریکایانو په افغانستان حمله وکړه او د طالبانو حکومت یې له منځه یووړ، پاکستان د یرغلگرو سره په خوا کې ودرید او طالبان یې پر امریکایانو په څو ملیارده ډالرو خرڅ کړل او ډیری طالبان پاکستان لاس تړلي امریکې ته حواله کړل، چې لا تر اوسه په گوانتانامو کې بدون له پوښتنې او بدون له جرم شپې او ورځې تیروي..

زما لومړی پوښتنه دا ده چې: طالبانو ولې بیا پاکستان ته مخه کړه او د کومک لاس یې وراوږد کړ؟ دوهمه پوښتنه مې دا ده چې کله چیرې د کرزي حکومت له امریکا سره د اډو په هکله تړون لاسلیک کړي، ایا د دې مسؤلیت به د طالبانو پر غاړه نه وي؟ دا ځکه چې که چیرې طالبان خبرو ته مخه کړي او جگړه بس کړي، نو بیا د امریکایانو پاتې کیدلو ته کوم سوال او بهانه نه پاتې کیږي.
هیله ده چې ځواب یې راکړئ ـ شاکر

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

لومړی برخه: یو آوازې او افواهات دي، بل حقائق او واقعیتونه، هیڅوک دانشي ثابتولی چې طالبانو پاکستان ته مخه کړې، یا د هغوی تر اثر لاندې دي، تاسو گورئ چې په پاکستان کې همدا اوس زموږ گڼ شمیر کسان بندیان دي، ځورول شوي او کړول شوي، پاکستان ته مخه کول که په دې معنی وي لکه څرنگه چې یې د کابل اداره تبلیغوي چې وایي: طالبان د پاکستان په لاس کې دي، او په افغانستان کې هر څه په پاکستان پورې تړل کیږي، نو هیله مې له ټولو بادرکه افغانانو ورونړنه داده چې د

داسې تبليغاتواو پروپاګند تـر تأثيرلانـدې رانشي. طالبـان مسـتقل، پـه آزادۍ مـين او د خپلې اسلامي ارادې څښتنان دي، د طالبـانو (اسـلامي امـارت) پـه اړه داسـې فکرکـول پخپله يوه لويه اشتباه ده، طالبان بايد درک کړل شي، د هغوي د آزادۍ غوښتنې روحيـه بايد نوره وپيژندل شي، د کابل غلامان چې په موږ پسې همدا ډول تبليغات ونکړي نـور خو د خپلو پيروانو او وسله والو لپاره هيڅ انګيزه نه لري، هـيڅ ورتـه نشي. ويـلای چـې ولې له يرغلګرو کفارو سره ولاړ دي او د طالبانو په خلاف يې دريځ نيولی، خو همدا د پاکستاني توب ټاپه ده چې تبليغوي يي او غواړي افغانان تـير بـاسي، کـوم خلـک چـې طالبان له نيږدې پيژني، د طالبانوغيرت، همت، د آزادۍ غوښتنې بې کچـې احسـاس او ټينګ اسلامي - افغاني دريځ يي ليدلی، هغوی ته داسې هيڅ سـوال نـه پيـداکيږي چـې طالبان دې له کوم چا د غلامۍ په بيه کمک وغواړي او يا دې ستاپه اصـطلاح پاکسـتان ته مخه کړي، هو پاکستان زموږ ګاونډی هيواد دی، هلته مو مليونونه مهاجرين ورونه او هيوادوال استوګن دي، د پاکستان ملت او خلکو تل زموږ افغانـانو سره همـدردۍ لرلـې، ولې دا همدردۍ او د خلکو ولسي. حمايـت کلـه هـم پـه دې معنـی نـه دی چـې ګنـې طالبانو پاکستان ته لاس اوږدکړی او د پاکستان له حکومت نه امر او الهـام اخـلي، هيلـه ده په دې اړه لږ واقع بين واوسئ او د تبليغاتو تر تأثير لاندې ګير نشئ.

دوهمه برخه:

ستاسو د دوهمـې پوښـتنې پـه اړه دومـره لـيکم چـې کـه غيـرت او ميړانـه د ځينـو خلکولپاره د هيواد پلورنې د معاملې باعث ګرځي نو موږ ترې تشويش نه لـرو، مـوږ بـه پخپله ميړانه سره دا ثابته کړو چې زموږ د خاورې په سر معاملې کول د څو پـردې پـالو، خرڅو شوو او بې ضميرو خيرو په لاس کې نه دي، ستاسـو پـه همـدې وړانـدې شـوی فارمول او نظريې ډير تأسف کوم چـې کـه کـوم افغـان مجاهـد د خپلـې اشغال شـوې خاورې د ازادۍ لپاره مبارزه کوله، نو د هيـواد کـوم نمـک حرامـه بچـی بـه پـه همـدې دليل؟ د اشغالګرو کافرانو سره افغانستان کې د دايمي اډو ترون لاسليکوي!! نـه پـوهيږو

چې تاسو به د همدې ذکر کړې قاعدې پر بنسټ له روسانو سره د افغانانو جهاد څرنګه تشریح کوئ، چې د امریکا د اوسني ګوډاګي رژیم د مشر (کرزي) په ګډون د کابل ادارې اوسني ګڼ چارواکي په هماغه جهاد ویاړي. که د شوروي اشغال پر ضد د مجاهدینو ټینګ مقاومت نه وای نو روسانو مو یونیم میلیون وګړي شهیدانول؟ داسې خبرې کول له واقعاتو ډېر لرې دي، موږ د خپل هیواد دآزادۍ لپاره مقدس جهاد پرمخ وړو او الله تعالی چې څه راباندې فرض کړي هغه فرض پرځای کوو، امریکایانو که په خبرو او منطق باور درلودلای، نو موږ له نن ۱۲ کاله وړاندې ورته د خبرو او منطقي حل دعوت ورکړي و، خو دوی جګړې ته ترجیح ورکړه، که امریکا اوس هم په واقعي معنی د جنګ خاتمه غواړي او پر سوله باور لري، نو زموږ د هیواد اشغال دې پای ته ورسوي، موږ اوس هم د خپل هیواد د اشغال د خاتمې په موخه له امریکا سره خبرو ته تیار یو. که د امریکا د جګړې او ظلم سابقې ته وکتل شي، ګومان نه کیږي چې که زموږ د تورې بریښ نه وي، له افغانستانه دې په مفته ووځي او بل داچې که جګړه نه وي نو امریکا د خپل شتون لپاره لا ډېرې بهانې جوړولی شي، امریکا د نړۍ په ګڼو سیمو او هیوادونو کې پوځي اډې لري، آیا تاسو راته په ګوته کولای شئ چې په هغو ټولو هیوادو کې له امریکایانو یا د هغوی د تحت الحمایه حکومتونو سره خلکو جګړه کوله، ځکه نو هلته امریکایان میشت شول؟ هیله ده چې د تشو خیالونو پر ځای د حقایقو پیروي وکړو او د کفارو په شومو عزایمو او موخو دقیق پوه شو، یرغلګر کفار به په زور سره له خپلو شومو ارادو راګرځوو، په نرمه او پسته له اشغالګرو سره معامله کول هغوته لا هم جرئت ورکوي، امریکایان ډېر مکار خلک دي، تل د ملتونود لاندې کولو لپاره بهانې اوپلمې جوړولی شي، بلخوا موږ شرعي مقاصد هم لرو، شرعي مکلفیت لرو، نشو کولای چې د خپلو قربانیو ثمره په اوبو لاهو کړو او د یو مفسداو ګوډاګي رژیم سره په واک کې برخه واخلو او یا له امریکا نه هیواد فقط په زنده‌باد او مرده باد سره خلاص کړو، تاسو باور وکړئ که وسله مو په لاس کې نه وای او د جهاد بیرغ مو په اوږو نه وای، نو امریکایانو به مخامخ زموږ په خاوره کې خپل امریکایي

الاصـله واکمـن مسـلط کـړي وای او افغانسـتان بـه د امریکـا یـوه مسـتعمره وای، کـه د افغانستان تاریخ او واقعیتونو ته مراجعه وکړې، نـو پـه خـورا څرګنـدو عبـارتونو کـې بـه ووینئ چې موږ له چنګیز، ګورګین، انګریز او روس څخـه د وسـله وال جهـاد پـه مـټ خپلواکي ګټلې او خپل ارزښتونه، نوامیس، منافع او ارضي تمامیت مـو د تـوري پـه زور ساتلي دي. موږ د الله تعالی پـه نصرت او مرسته ایمـان لـرو، د کفـارو سره د مبـارزې طریقه راته قرانکریم په خورا ښه توګه را زده کړی دی، الله تعالی فرمـایي: (وَكَـأَيِّن مِّـن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّـهِ وَمَـا ضَـعُفُوا وَمَـا اسْـتَكَانُوا وَاللَّـهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ ﴾(آل عمران: ١٤٦﴾.

ترجمه: ډیرو انبیاؤ د خدای جله جلاله د نیکو بنـدګانو پـه ملګرتیـا سره د کفـارو مقابله کړې ده، بیا دوي ستړي شوي نه دي له هغو تلفاتو نه چـې د خـدای پـه لاره کـې ورته رسیدلي اودوی ضیعفه شوي هم نه دي (په بزدلي او ډار سره) او نه یـي کفـارو تـه غاړه ایښې (په تسلیمی اود جهاد په پریښودلو سره) او الله تعالی صابر بندګان خوښوي. مننه

د ګوشتې د جګړې په اړه تاسو څه وکړل

پوښتنه: مجاهد صاحب سلامونه مې ومنه پس له سلامه!

تیره ورځ مې چې د جګړې واوریدل د پنجابیانو او د افغانـانو تـرمنځ، هـرې پاڼې نه مخکې مې د شهامت ویب پاڼه خلاصه کړه ما خـو ویـل چـې تنهـا طالبـان دي چې په دې وطن سر ورکوي او غوښتل مې چـې د دوی غبرګـون واورم، خـو هیڅ ونه توانیدم اخر مې زړه ته تسلي ورکړه او ومې ویـل: شـاید د بي بي سي او ازادی راډیو سره یې تماس نیولی وي، خو هلته مې هم څه وانه وریدل زړه مـې هغه د امارت د دښمنانو خبرې راته کولې، چې امـارت د پنجابیـانو یـو فـوج دی،

خو زما زړه يې نه مني غواړم له تا يې واورم مجاهد صاحب راتـه يـې ډېـر واضـح وليکه. نوري

په لږ تغير سره ورته پوښتنه لاندې کسانو هم کړې ده:

فريدون، حبيي، حافظ احسان الله، مجاهد، کريم خان، دولت شـاه، حـيکم نور، زرولي، عبدالشکور، فائق، بشيراو ثمرگل.

ځواب: وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

پورته د ټولو ورونو پوښتنه او انديښنه تقريبـا يـوه ده، ځکـه نـو غـواړم ټولوتـه يـو ځواب وليکم، داچې تاسو د هيواد په اړه ښه احساس لـرئ او د خپـل هيـواد د حـريم د ساتنې په اړه سوچ او فکر درسره دی، دا کار مو د ډيـرې سـتاينې وړ دی، مـوږ اوتاسـو مسائل بايد ډير دقيق او له تله وڅيړو او د داسـې مسـائلو پـه اړه چـې خـورا حسـاس او ناورين زيږونکي دي بايد ډير هوښيار واوسـو، دلتـه صرف د پاکسـتان د تجـاوز مسـئله مطرح نه ده؛ بلکې د هر بيگانه هيواد حمله په هرنامه چې وي پـه مـوږ تجـاوز او يرغـل دی او بايد همدومره جدي او حساس وگڼل شي. زه فکر کـوم پاکسـتان د هغـه نړيـوال ائتلاف يوه برخه دی، چې دولس کاله وړاندې يې زموږ پـه حـريم لـوي تجـاوز کـړی، دولس کاله يي تنهـا گوشـته ولسـوالی نـه؛ بلکـې ټـول هيـواد: (پلازمينـه کابـل، بگـرام، خوست، کندهار، لښکرگاه، شينډنډ، مزار، کندز اود گران هيواد نور ولايتونـه او برخـې) تر تجاوز او تصاحب لاندې کړی دی، د هيواد هره برخه چې تر تجـاوز لانـدې راځـي نجات يي زموږ او تاسو مشترکه دنده ده، دابه هم تاسو ته معلومه وي چـې د دغـه لـوی تجاوز په وړانـدې يـوازې عـام ولـس او مجاهـدين ولاړ دي، سرښـندنه کـوي او درنـې قربانی ورکوي، کله چې خبره گوشتې ته را ورسيده موږ د هيواد د هرې لويشـت سـاتنه خپله دنده بولو، خو په عين حال کې د سوء استفادې او د ملتونو او ولسونو چې د پولې دواړو غاړو ته يو ټبر ژوند کوي سره جنگولوته هم بايد جدي توجه وشي، د گوشتې په

اړه موږ د خپل ديني او ملي مسئوليت له مخې لومړۍ دقيقه ځيړنه ترسره کړه، دا راته ثابته شوه چې د ګوشتې پوسته او د دروازې سيمه د امريکايانو لخوا جوړه شوي وه او د مجاهدينو د فعاليت د مخ نيوي په منظور لومړی دلته امريکايان اوسيدل، کله چې هغوې د خپلې ماتې په تسلسل کې له سيمې نه تيښتې ته اړ شول دغه پوسته او ودانۍ يې په سلامت ډول د پاکستان هيواد پوځيانوته تسليمې کړې، د کرزي ادارې ښه ډيره موده د دې کار نظاره کوله، کله چې پاکستاني لوري د دغې دروازې په هغه بله خواکې په خلکو باندي د خپل هيواد تابعيت کارتونه توزيع کول پيل کړل، دلته نو دغه مسئله راپورته شوه او د کرزي اداره يې هم له درانه خوبه را ويښه کړه، او بيا د ګوشتې مسئله مطبوعاتي شوه او خبره تر ټک اوپوک ورسيده. بل پلو داسي موثق اسناد هم پيدا شول چې دغه سيمه د کابل په اداره کې د ځينو ډيرو باصلاحيته او لوړ پوړو غلامانو لخوا په پاکستان پلورل شوې او نغدي قيمت يي هم ترلاسه کړی دی، دا پيښه يوه نه ده داسي پيښې د سرحد په ټول امتدادکې شوې دي او د کابل چارواکو په شخصي ـ ډول له پاکستان سره معاملې په مخ وړې دي، د بيلګې په ډول د کندهار د سپين بولدک سرحدي دروازه چې په کندهار کې د ګل آغا شيرزي د ولايت په مهال تقريبا يو نيم کيلومټر د افغانستان خواته راغلې او د دوستۍ په نامه نوې دروازه د افغانستان په خاوره کې جوړه شوې، کره معلومات داهم ښيي چې ګل آغا شيرزي د دې معاملې ښې غټې پيسې هم اخيستي دي، داپيښه هر هغه ځوک د سر په سترګو ليدلی شي چې د اسلامي امارت په زمانه کي يي هم په ياده دروازه تګ راتګ کړي وي او اوس يي هم کوي. د ګوشتي په اړه کله چې موږ دغه وضعيت وليد نو پوه شولو چې دلته په سيمه کې د پخواني ډيورند لائن غوندې يوه پټه لوبه روانه ده چې د ملت په سرنوشت معامله کيږي، دلته امريکا غواړي چې د خپلې ماتې په درشل کې فتنې وزيږوي او د پولې دواړه غاړې خلک په خپلو کې په ناورين او جنګ سره واړوي، دلته يوه داسي جګړه پيل کړي چې يو جهت هم پکې نهايي بريا ونه ګوري؛ بلکې اوبه خړې پاتې شي او امريکايان او نور يرغلګران لکه د ديورند لائن غوندې ګټه ترې پورته کړي، بهرني

يرغلگر په گټه بولي چې دلته يو ولس چې د پولې پـه دواړه غـاړوکې ژونـد کـوي اولـه نورو ټولو ولسونو نه وړاندې يي د دريو امپراطوريو (انگريزانـو، روسـانو او امريکايـانو) په وړاندې له مظلوم نه د خپل ديني مکلفيت پـه اسـاس حمايـت کـړی او د جگـړې د گټلو باعث شوي دي پخپلو منځوکې اخته کړي. موږ د اشغالگر دښمن په همدې پټـې دسيسې پوهيدو او داسي گام کښودل مو نه غوښتل چې پـه سيمه کـې نـاخبر ه او عـام خلک چې د دښمن له دسيسو دقيقه آگاهی نه لري د هغو تش احساسات راوپـاروو او له عام اشغال نه يي توجه ايله يوې گوشتې ته راوگرځو، مـوږ لـه خپـل ولـس او خلکـو سره ژمنه کوو چې کوم وخت يرغلگر زموږ لـه هيـواده ووځـي او اسـلامي نظـام حـاکم شي، نو د پولې غوندې واړه موضوعات به حتما ورسره حل کيږي، بيا که څوک گوشـته نه؛ بلکې زموږ ننگرهار هم ونيسي موږ يې په ۲۴ ساعتونو کـې د آزادولـو وړتيـا لـرو ان شاءالله، ستاسو به ياد وي او که ياد مو نـه وي پوښـتنه وکـړئ، اسـلامی امـارت د خپـل حاکميت په دوران کې ۷ځايه د پاکستان عسکر له پولې نه ځغلولي او خپله خاور ه يـې چې پخوانيو ټوپک مارو هغوته په لاس ورکـړې وه بيرتـه آزاده کـړې، يوځـل د هلمنـد ولايت په مربوطاتو کې دپاکستان عسکر چې له پولې را اوښتي وو او افغانستان کې يـې پوستې جوړولې د اسلامي امـارت د مجاهـدينو لـه لـوري ونيـول شـول. دوهـم ځـل د پکتيکا په انگور اډه کې د پاکستان په مليشو بريد وشو او بيرغ او پوستې يي شاته وشړل شوې. دريم ځل د پکتيا په سپينه شگه کې کله چې طالبـان هلتـه ورسـيدل شـهيد مـلا بورجان اخند پوښتنه وکړه چې دلتـه د غرونـو پـه سر پاکسـتانی بـيرغ څـه شي کـوي؟ د سيمې خلکو ورته وويل چې داخو پاکستانی مليشې مخ ته راغلې دي او زموږ د هيـواد له بې امنی نه يي گټه اخيستې ده، نو شهيدملابورجان خپلو مجاهدينو ته امر وکـړ چـې مخکې له دې چې د ننگرهار او آزرې په لور حرکت وکړو بايد لومړی دغـه پوسـتې لـه پاکستانيانونه ونيسو، همداسي وشول، مليشې يې وشړلې، وسلې يي ترې راوړې او بـيرغ يي پرې کوز کړ، وروسته دامسئله له پاکستاني جهت سره پـه لـوړه سـطحه مطـرح شـوه هغوي بيرته خپلو سيموته لاړل او وسلې بيرته ورکړل شـوې. څلـورم ځـل د تـورخم پـه

دروازه کې په پاکستانيو مليشو هغه مهال بريد وشو چې يوه افغانه ښځينه يې د تلاشي په مهال وځوروله او له پولې هغې خواته يي نه پريښوده، په هغه وخت کې امر وشو چې مجاهدين دې د مليشو په مهم مرکز بريد وکړي همداسي وشول د څو نفرو د مړه کيدو او زخمي کيدو سبب هم شو، وروسته مسئله د ډاډ په اخيستو چې بيا به د مليشو لخوا په دروازه کې افغانان نه ځورول کيږي حل شوه. پنځم ځل په همدې گوشته کې پاکستاني عسکرويوه پوسته له خپلو حدودو را مخته کړې وه چې بريد پرې وشو هغه ترې ونيول شوه اومليشه وشړل شوه چې اوس هم خلک هغه فتحه شوې پوسته د مولوي عبدالکبير صيب پوسته بولي. شپږم ځل په کونړکې هم دغسې سرحدي ستونزه پيښه شوې وه چې جزئيات يې رانه هير دي. اووم ځل په خوست کې دبټې په سيمه کې د پاکستاني مليشو جوړه کړې پخه پوسته چې د تنظيمي گډوډۍ په مهال يي جوړه کړې وه، د اسلامي امارت مجاهدينو ونړوله او پاکستاني عسکر يي وشړل خو خلاصه دا چې موږ له هرچا زيات د خاورې او هيواد په ساتنه کې وړاندې يو، خو هيواد ساتنه په داسي صورت بايد نه وي چې زموږ د ټول هيواد اشغال کونکي يې زمينه سازۍ وکړي او مااوتا په نوې جگړه اخته کړي، ټول هيواد مې تراشغال لاندې وي زه يواځې د گوشتي د فتحې خوب وينم، په ټول هيوادکې مې اختيارات سلب شوي وي زه په گوشته کې د پردو په فرمايش قرماني ورکړم او بيا بيرته د پردو په امر جگړه هم ودروم!!؟، د ډير تعجب وړ ده چې په ټول هيوادکې مې قهرمانۍ له لمرنه هم روښانه وي، د شهيدانو مې ځای نه کيږي خو زه يواځې د گوشتې په شهيد مرثيه کوم او ساندې وهم، داسي پيښې موږ دسيسه بولو او هيڅ انديښنه نه ورته لرو، موږ په دې برخه کې د نړۍ امپراطوريو ته امتحان ورکړی، گاونډيان خو پريږده، په لومړي سر کې موږ د گاونډيو سره د حسن تفاهم طرفداريو ولي چې دواړه خواوو ته يو ملت پروت دی او که خدای مکړه د جنگ کوم اوږدمهالی اقدام کيږي طبعا د پولي هغه بله خوا مسلمان وروڼه هم زما په مقابل کې هځول کيږي او راسره په جگړه کې اخته کيږي چې هغه مهال به بيا جگړه د يولورې هم په گټه نه وي او يوه بې موجبه مسلمان وژنه به

پیل وي، امریکا او نور غلیمان به سیل کوي. خلاصه داده چې موږ د خپلې خاورې لویشت لویشت ساتلوته ژمن یو خو په عین حال کې له دسیسوسره هم حساس یو، بل په اوسني وخت کې ماته د پلازمینې آزادول د ګوشتې تر سپیناوي مقدم ښکاري، ځکه نو نه غواړو چې د هیواد والو توجه مو له لوی مسئولیت نه کوچنۍ ستونزې ته واړول شي، البته په دې اړه اسلامي امارت خپل رسمي غبرګون هم خپور کړی چې دا پیښه یي دسیسه بللې او پاکستان یې دې ته متوجه کړی چې د افغانانو له بدحالت او کمزورۍ نه سوء استفاده ونه کړي؛ بلکې د حسن همجواري په بناء دوی هم باید له افغانستان سره اوږدو او د همسایه ګۍ اړیکوته متوجه واوسي، نه داچې د امریکایي دسیسو ښکار شي، هیله کوم چې تاسو ټول محترمین به اوس د ګوشتې په اړه زموږ په تصمیم او پالیسۍ پوه شوي یاست او تمه ده چې هیڅوک هم د مسلمانانو ترمنځ نوي اور بلولوته زړه ښه نه کړي، که نه دواړه خواوې به زیان ووینې. مننه

تاسو په پاکستان کې ولې جهاد نه کوئ؟

ایا ستاسو په نظر افغانستان کې واقعي جهاد دی، او په څه دلیل، که په افغانستان کې جهاد وي په پاکستان کې ولې تاسو جهاد نه کوئ چې هلته هم امریکایان دي او د شریعت خلاف کارونه هم کیږي. ستاسو نه غواړم چې په دې باره کې معلومات را کړئ. ستاسو په نظر دا جهاد سیاسي جهاد نه دی، که نه دی نو خپل معلومات ارایه کړئ؟ احمدسیر ساحل

ځواب ـ ورو ره په دې کې هیڅ شک نشته چې په کوم اسلامي هیواد کفار یرغل وکړي او و یې نیسي، د هغه هیواد په ټولو خلکو شرعا جهاد فرض عین ګرځي، کفار چې په مسلمانانو بریدکوي هلته اسلامي شعایر، د مسلمانانو عزت، ناموس، او دیني مقدسات له منځه وړي او د شریعت حکم دی چې له دغو ټولوشیانو نه دفاع کول او د یرغلګرکافر په مقابل کې جهاد فرض دی، په ځانګړې توګه په داسې حال کې چې

کفار یو سوچه اسلامي نظام د توپ، ټانګ او ډالرو په مټ له منځه یوسي او هغه بیرغ چې د (لااله الا ا لله) مبارکه کلمه پرې لیکلې وي را ټیټ کړي او په ځای یې د خپلې خوښې داسې نظام او سستم په مسلمانانو وتپي چې د مسلمانانو د دنیا او اخرت تباهي او بربادي پکې له ورایه معلومیږي، د تأسف ځای دی چې تاسې تراوسه (چې د هیواد د اشغال لس کاله کیږي) د جهاد په فرضیت نه یاست پوه شوي، دا ستاسو لپاره ښه خبره نه ده، نن جهاد په هرمسلمان که نارینه وي که ښځینه فرض دی او باید د خپل هیواد د حریم، عزت، شریعت، حقوقو، ارزښتونو او مقدساتو نه کلکه دفاع وکړو، نه داچې یوه لسیزه د یومسلمان په حیث ژوند وکړو او بیا مو د خپل اشغال شوي هیواد په اړه شرعي حکم ځانته نه وي معلوم کړی، نو تاسو محترم ته بلنه درکوم چې د یو مسلمان په صفت څه دیني او شرعي مطالعه هم وکړئ! هیله کوم زما د خبر و د تائید او لا وضاحت لپاره د خپلې سیمې جیدو علماوو ته هم ورشئ او ځان ښه پوه کړئ، پاتې شوه ستاسو داخبره چې دا سیاسې جهاد دی که نه، ورورہ جهاد سیاسي او غیرسیاسي نه لري، البته که منظور مو دا وي چې د دې جهاد په پایله کې به مجاهدین واک ترلاسه کوي، نو ځواب مو مثبت دی، ځکه هر جهاد په پای کې باید شرعي هدف ولري چې هغه د اسلامي نظام جوړول او قایمول دي، نو زموږ اوسنی جهاد هم داسلامي حاکمیت د تأسیس لپاره دی او هیله مو داده چې یو ځل بیا په خپل هیوادکې هغه سیستم او سیاسي نظام راولو چې لپاره مویې تر دوملیونو پورې شهیدان ورکړي دي، که کوم جهاد دغه ډول هدف ونه لري، هغه تش جنګ دی، جهاد نشي-ورته ویل کیدای، ځکه د جهاد هدف د الله تعالی د کلمې لوړوالی او د شریعت تنفیذ دی چې په اسلامي حاکمیت سره تعبیریږي، که څوک د دین د حاکمیت هدف ونه لري او هسې جګړه وکړي دا بیا جهاد نه بلکې شرعا فساد بلل کیږي. ۱۷/۴/۲۰۱۲م

د پاکستان په ضد ولې هیڅ کله هم هیڅ هم نه وایاست، د ملا عبیدالله په هکله تاسې هسې یوه ګیله هم ونه کړه په درنښت. شهیر له بلجیم څخه

ځواب - د شهید الحاج ملاعبیدالله اخند دشهادت په اړه موږ پاکستان ته ګیله نه؛ بلکې له هغو مو کلکه غوښتنه کړې چې د هغه د شهادت په اړه موږ ته کره معلومات راکړي په دې اړه د اسلامي امارت په اعلامیه کې چې ټولونړیوالوراډیوګانو او اژانسونو خپره کړه داسې راغلي: «د افغانستان اسلامي امارت د شهید ملا عبیدالله اخند تشه د ټولې اسلامي نړۍ خصوصا د افغانستان لپاره یوه نه جبرانیدونکې ضایعه بولي او د پاکستان له چارواکوڅخه جدي غوښتنه کوي چې د الحاج ملا عبیدالله اخند د زنداني کیدو، مریضۍ او وفات په اړه اسلامي امارت ته بشپړ او واقعي معلومات ورکړي». مننه ۲۸/۳/۲۰۱۲ م

جناب مجاهد صا حب! طوریکه هر روز از رسانه هاي داخلی و خارجی میشنویم که میگویند طالبان و مجاهدین یکی از مهره های ای اس ای پاکستان هستند، و به گفته حکومت پاکستان و شبکه جاسوسی ای اس ای کار می کنند و طالبان اصلاً افغانی نیستند، بلکه دشمنان افغانستان یعنی پاکستانی هستند این حرف تا چقدر واقعیت دارد؟ از توجه شما سپاسگذارم.

پاسخ - برادرمحترم! ما وشما باید متوجه باشیم که بسیاری از رسانه های که مجاهدین را به کشورهای بیگانه ارتباط میدهند همان رسانه ها در اصل خود یک چینل وابسته به خارجی ها بوده وکوشیده اند که افراد اصیل جامعه ما را به نامهای گوناگون توسط تبلیغات خود بدنام بسازند وبخاطر بدنام نمودن افراد، این کارکه آنهارا اله دست بیگانه ها تلقی کنند درجامعه افغانی وسیله خوبی است، زیرا مردم افغانستان حساسیت خاصی دربرابر افراد وابسته به استخبارات خارجی دارند، پس روی همین اصل کوشیده اند که مجاهدین فعلی را وابسته به کشورهای بیگانه بدانند وهمچنان همه دست اوردهای بزرگ ملت مارا محصول دست های بیگانه تلقی نمایندکه این خود یک جفابزرگ به تاریخ وشهامت ملت مامیباشد، مگرملت ما باید متوجه باشد که تبلیغات سوء ازطرف دشمن به لسان دشمن درعقب انبیاء علیهم السلام هم صورت

میگرفت ولی انبیاء علیهم السلام دربرابراین تبلیغات درضمن پاسخهای مثبت خویش شکیبایی راهم ازخود نشان میدادند که درنتیجه ء شکیبای تصویر اصلی مردان حق به همه امت ها واضح میشود، ماهم من حیث اتباع پیامبربزرگ اسلام صلی الله علیه وسلم باید دربرابر همه تبلیغات بدنام کننده شکیبایی وصبر داشته باشیم، وواقعیت هارا به همه مردم ان شاءالله تاریخ و زمان بسیار خوب واضح خواهد ساخت که کیها دست نشاندهء بیگانه اند وکیها فرزندان اصیل این کشور؟ واین راهم باید روشن سازیم که امارت اسلامی را فعلاً دوستان ودشمنان آنها به گونه خوب می شناسند، وفکر نه میکنم کسانی که مطالعه ء ازدین و دانش اسلامی دارند دراین امرخفایی داشته باشند که طالبان کیها اند. تشکر ۲۰۱۲\۲\۱۹م

❊ ❊ ❊

۲۱ـ د څو مختلفو موضوعاتو په اړه

د تارياكو په هكله

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته!

محترم مجاهد صاحب زما پوښتنه دا ده چې نن صبا د افغانستان حكومت ولس ته وايي چې تارياک مه كرئ، تارياک حرام دي، خو په تارياكوباندې يوڅه پيسې پيداكيږي، زموږ اوستاسي خلګ مسكينان دي، دوی په دغه كښت يوڅه راپورته كيږي اوهلته په كابل كې د شرابو لوی تجارت روان دی، حكومت هغه نه بنده وي، ځكه شراب د كفار خوښ دي، خو تارياک چې زموږ خلک پر پښودروي او كفار بد ځني وړي، نو حكومت يې د بندولو كوښښ كوي، خو زه دافكر كوم چې كوم شی چې كفار بد ځني وړي، موږ بايد هغه خوښ كړو، نو د تارياكوكرل به څنګه وي زموږ د اولس د پاره حرام دي اوكه نه؟ تشكر ستاسو د ځواب په انتظار ...عبدالحق حق فرست

ځواب ـ ستاسو پوښتنه چون يوه فقهي پوښتنه ده اوبايد په اړه يې مفتي صاحبان څه ووايې، نو ځكه زه ستاسو دغه سوال د اسلام پاڼې د افتاء څانګې ته راجع كوم، هغوی به يې شرعي اړخ درته بيان كړي اوبيا به يې تاسو د اسلام پاڼې د افتاء اواستفتاء په برخه كې كتلی شئ او اسلام پاڼه هم د همدې الامارة سايټ په اول مخ پيداكيږي هيله ده ويې لټوئ. مننه ۷/۴/۲۰۱۲م

زه غواړم جهاد ته لاړ شم:

قدرمن مجاهد صيب! زه غواړم چې جهادته لاړ شم، فعلا وظيفه هم لرم او واده مې هم کړی، خو مشکل دادی چې لږ قرضداره يمه، تقريبا يو لک افغانی.

ځواب ــ ورور که مطلب دې داوي چې جهاد ته ولاړ شي، نو څه کومک د رسره وشي او څه پيسې ترلاسه کړې، نو بايد واضحه کړم چې د اسلامي امارت په صفوفو کې د چا لپاره کوم معاش يا څه پيسې نشته، که تاسو اراده لرئ چې جهاد وکړئ، نو ښه داده چې د خپل وس مطابق دومره زمانه جهادکې تيره کړئ، چې خپله اقتصادي وضع اجازه درکوي، بيا خپل کورني مسائل د کومې بلې لارې نه حل کړئ، کله چې بيا د لږ څه وخت لپاره گوزاره وشوه، نو بيا جهاد ته لاړشئ او بله دا چې په جهادي کارونو کې داسې هم ډيرکارونه شته چې ممکن تاسو د دنيا بل کارهم ورسره وکړئ، زموږ اکثره مجاهدين همداسې کوي، خپل ژوند او کار هم کوي او په مناسب وخت کې له مجاهدينو سره په عملياتو کې هم شرکت کوي، نو که تاسو يو ځل د مجاهدينو سره خپل روابط ټينگ کړئ او کار پيل کړئ اميد دی چې د دنيا د کارونو لپاره مو الله تعالی نور اسباب پيداکړي چې مشکل مو پرې حل شي. مننه ۲۰۱۲\۳\۱۶م

مالي جهاد:

گرانه ورور مجاهد صاحب! موږ څو ځله ايميل درته وکړ، خو ځواب مو را نکړو، پوښتنه مې داوه که چيرې يو څوک وغواړي چې د افغانستان اسلامي امارت سره مالي مرسته وکړي د کومې لارې نه او په څه ډول يې کولای شي، هيله ده چې معلومات راکړئ، بايد درته ووايم چې زه هم د اسلامي امارت غړی وم او اوس هم يم، خو اوس په بهرکې اوسم. خالد

ځواب ــ محترم وروره تاسو ته هم سلامونه اونيکې هيلې وړاندې کوم، د افغانستان اسلامي امارت د مالي مرستو د جلب او ټولولو لپاره ځانگړې اداره لري چې

د اقتصادي کمیسیون په چوکاټ کې فعالیت کوي اومسلمان ورونه د هغوی سر ه د توان تر حده مالي مرستې کوي چې اسلامي امارت يې قدرونه کوي، ځکه لکه څنګه چې بدني جهاد پر مسلمانانو د ضرورت په وخت کې فر ض وي، لکه همداوس چې زموږ په هيواد کې د اشغالګرانو په ضد مقدس جهاديوه لويه فريضه او ضرورت دی، همداسې مالي جهاد هم يوه فريضه ده، داچې تاسو په دې بر خه کې حاضر شوي ياست چې مالي جهاد کې بر خه واخلئ، موږ به ستاسو اميل ادرس د اسلامي امارت مالي ادارې ته وسپارو چې هغوی در سره په رابطه کې شي، البته بايد يوه خبره روښانه کړم چې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي کمیسون د ټولو مالي مرسته کونکوبسپنه د جهاد په اصلي ضرورتونو کې مصرفوي، تاسو کولای شئ چې د خپل تليفون شميره هم موږ ته وليږئ، چې پور ته مرجع ته يې وسپارو، اسلامي امارت پر ايميل سربيره له نورو ساده طريقو او تماسونو نه هم د مالي مرستو د ټولولو لارې لري. مننه ۳/۳/۲۰۱۲م

جهاد کې برخه اخيستل:

مجاهد صاحب! ته زموږ په باره کې څه وايې:

موږ پنځه ورونه يو، دريو ودونه کړي دي، يوه کوزده کړې ده او بل مجرد دی، چې ټول په يوه کورکې اوسيږو او زموږ اقتصاد هم ډيرخراب دی، نو مالي جهاد نشو کولای، خو زه پخپله دوه ځله د جهاد ميدان ته تللی يم. فضل الرحمن

ځواب ــــ ستاسوپه ځواب کې دومره ويلای شم چې هر سړی د خپل وس او توان په اندازه مکلف دی، الله جل جلاله مسلمانان د وس او توان په اندازه مکلف کړي دي، خو يوځه چې د ټولو مسلمانانو په وس کې پوره دي هغه دادې چې د خپلو مجاهدينو ورونو سره محبت ولري، که کله يې هم وس ورسيږي لازمه مرسته ورسره وکړي او له ټولونه اسانه داچې د هروخت لمانځه نه وروسته خپلو مجاهدينو ورونو ته د بري او فتحې، بنديانو ته د خلاصون او مشرانو ته د استقامت دُعاوې وکړي، چې دا کار ان شاءالله تاسو هر وخت کولای شئ او که کله مو وس پيدا کړ بيا د جهاد

سنګرونو ته دانګئ، ځکه جهاد کې برخه لرل فرض دي او د هرمسلمان لپاره لوی سعاد ت اونیک بختي ده. ۲۰۱۲\۲\۲۵م

عیسویت ته د افغانانو دعوت:

السلام علیکم! په افغانستان اوسني حالت کې یو څه اندزاه افغانان عیسویت دین ته اوښتي، په دې ډول برنامو کې زیاتره غیر دولتي موسسات یا این جي او ګانې دخیل او شامل دي او د کرزي ادارې تر اوسه پورې کوم اقدام نه دی کړی ستاسو نظر څه دی؟.

ځوابـ وعلیکم السلام! بلې زما دردلې او ځوریدلې ورورە، زموږ دا لس کلنه مبارزه او جهاد هم د همدې هدف لپاره ده چې اسلام او عقیده مو وژغورل شي، موږ پوهیږو کفري هیوادونو چې چیرته هم د ابادۍ په نامه مداخله کړې، نو د خلکو پاکې او سپیڅلې ارادې یې سلب کړې، له ټولو وړاندې یې اسلامي معتقدات له سخت زیان سره مخ کړي، خلک یې د خپل دین اسلام نه منسوخو دینونوته دعوت، هڅولي اوحتی مجبورکړي دي او په اسلامي شعائرو یې ملنډې وهلې دي، یو شمیر تش په نامه مسلمان خلک هم په دغه ډول پرورګرامونو کې استخدام شوي او د مال او متاع په عوض کې د اسلام په ضد دریدلي، د خپلو ارزښتونو په خلاف له کفارو سره ملګري شوي، په خپلو دیني روایاتو او لارښونو باندې یې مسخرې پیل کړي، د اسلام روښانه لارښونې او احکام یې د ټولنې د شاته پاتې کیدو او ارتجاع په نامه نومولي او ډیره هڅه یې کړې چې په خلکو باندې کفري غربي فرهنګ و تپي، خو بایدکلک په دې باور واوسو چې د اسلام لپاره هم داسې سرښندونکي شته چې د کفارو دغه ټولې دسیسې او ګمراه کونکي اقدامات په نطفه کې خنثی کړي، ان شاءالله، حق تل بري مند او باطل محوه کیدونکی دی، له ټولونه اول باید د هغو مجاهدینو وروڼو سره هرراز مرسته او همکاري وشي چې د همدې اسلام او عقیدې د ساتنې په لاره کې خپل هرڅه قرباني، هغه لار چې زموږ او تاسو ټولو مسلمانو سره شریکه ده، نو زما په باور د

خپګان او تشویش پرځای باید زموږ ټول ملت د مسئولیت د احساس ترڅنګ په لوي الله توکل وکړو او په ټولو ممکنه وسیلو د خپلو مجاهدینو ورونو لاس نیوی وکړو، ترڅو مو راتلونکي نسلونه له دغو شومو کفري دسیسو نه په امن کې پاتې شي او هغه بدمرغه او ګمراه څیرې چې د دغو بدو لارو د مدافعینو په بڼه په بیلا بیلو طریقو استخدام شوې لومړی باید له هغو نه د انتقام اخیستلو په فکر کې شو او هغه کسان چې خپل ریښتوني او حق دین یې ترک کړی اوعیسویت یابل کفر یې د ځان لپاره غوره کړی وي، دوي باید پوه شي چې دوی به یا بیرته کلکه توبه باسي اویا به افغانستان نور د دوی لپاره د اوسیدوځای نه وي او هغه ګوډاګۍ او غلامه اداره چې د دغو ټولو بدمرغویو په لاره کې له کفاروسره مرستندویه ده نور باید ښه وپیژندل شي، نور وخت ورنکړل شي چې زموږ په سرنویشت اوعقیده لاهم لوبې وکړې، خلک په تدریج سره په بیلابیلو نومونو له خپل دین او اسلام څخه لرې کړي او د کفر خپریدوته لاره هواره کړي. مننه ۲۰۱۲|۲|۲۷م

د قرآن کریم بې حرمتي:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! محترم ذبیح الله مجاهد صاحب

له ټولو مخکي درته سلامونه او نیکې هیلې وراندې کوم او ستاسو د کامیابۍ او ګران افغانستان او ټولو اسلامي ملکونو د بشپړې ازادۍ او د اسلامي امارت د بشپړ حاکمیت په هیله.

وروه دا څوم وار دی چې د امریکایي او صلیبي درنده کانو او وحشیانو لخوا د قرآن کریم بې حرمتي کیږي او د اسلامي امارت لخوا یوازي په یوه اعلامیه بسنه کیږي، وروه هیله لرم په دې باره کې تاسو جدي اقدام وکړئ.

زه د اسلامي امارت قیام او د امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد قیادت ته کلك په طمع یم او په دې انتظار یم چې کله به فتح راشي چې د تاریخ د دې ځلانده څیرې او وتلي جهادي او مسلم دوست شخصیت سره ملاقي شم او بیعت

ورسره وکړم، الله دې يې ژوندی لري او تاسو ته دې هم الله توفيق درکړي چې د اسلام او مجاهدينو لپاره مزيدخدمتونه ترسره کړئ او الله دې موږ هم د الله د دين د غالبيدو لپاره استخدام کړي او الله دې موږ ته شهادت په نصيب کړي. ستاسو د کاميابۍ په هيله، ورور مو محمد مهاجر

ځوابـــ محترم ورور محمد مهاجر صيب وعليکم السلام ورحمةالله وبرکاته!

ستاسو غوښتنه او هيله د هرمسلمان خصوصا د هربا ضميره افغان غوښتنه او هيله ده، اسلامي امارت به ان شاءالله په خپل ټول توان او تر ممکنه بريده ستاسو غوښتنه په پام کې نيسي او د خپلو نظامي ملګرو او مجاهدينو سره به په مشوره کې يو ه هراړخيزه نظامي ستراتيژې چې زموږ د هيواد پشپړه ازادي او زموږ د مقدساتو د سپکاوي انتقام په کامله معنی پکې مراد او شامل وي عملي کوي، په راتلونکي پسرلي کې به چې زموږ په هيواد کې د بريدونو نوی پلان پکې جوړيږي، ستاساو ټولو مسلمانو هيوادوالو نظر ملحوظ وي، د اسلامي امارت مجاهدينو دا اوس هم د قرآن عظيم الشان د سوځولو په انتقام کې خپل بريدونه پيل کړي چې په نيږدې راتلونکي کې به يې ښه اثرات زموږ ټول ملت مشاهده کړي، زموږ ډيرترکيز به د عمل په ډګر وي، په دې لړ کې داپرون پرون د کابل په داخله وزارت کې دننه ديو تن مجاهد لخوا په بريااليتوب او خورا ښه تأکتيک سره په لوړپوړو امريکايي مشاورينو بريد يې يو ښه پيل و. مننه ٢٠١٢\٢\٢۴م

مارجه کې جهادي وضعيت:

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته! الله تعالی دې د مقدس جهاد اود پاکې لارې مجاهدينو ته بری او کاميابي او صليبي عسکرو او داخلي اجيرانو ته ناکامي او غوڅ شکست په برخه کړي.

وبعد: گرانه وروره که تاسو مورږ ته روښانه کړئ چې په مارجه هلمند کې في الحال زما مجاهدین وروڼه په کوم حالت کې دي او د دوی جهادي پروګرامونه څومره په مخ روان دي. عمر وردګ

ځواب ـ په ټول هیوادکې د ساړه ژمي سره سره جهادي حالت خورا ښه دی او په خاص ډول په ټول هلمند او بیا په مارجه کې مجاهدین ښه فعال دي، د سږ کال د عملیاتو په لړ کې د مارجې د سیستاني په نامه پراخه سیمه په بشپړه توګه د دښمن له حضور څخه پا که شوه، دغه راز یې په مرکزي سیمو کې هم دښمن له ډیرو قرارګاوو نه تیښتې ته اړشو، په ټوله کې هلته جهادي وضعیت بیخي د ډاډ وړ دی او په ورځني شکل بهرنیو عسکروته د سر او مال درانه زیانونه وراوړي چې تاسو یې هره ورځ د الامارة سایټ له لارې تفصیلات کتلای او لوستلای شئ.

قلمي او بدني جهاد او همکاري:

گرانه وروره السلام علیکم! ډیره گرانه او محترمه مورږ د مجاهدینو بریا په هرمیدان کې غواړو او د خپل وس مطابق هرې همکارۍ ته تیار یو، گرانه وروره زه اوس مهال په خپلو لوړو زدکړو کې مصروف یم او له دې سره سره غواړم چې د قلم له لارې د اسلامي امارت سره همکاري وکړم، خو لوی ارمان مې دادی چې د الله د رضا په خاطر له کفارو سره مخامخ جهادوکړم. منیر

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! ستاسو له نیک او اسلامي احساس نه یوه نړۍ مننه کوم، که موفرصت لاره له تحصیل سره سره زمورږ له سایټ سره قلمي همکاري په همدې ادرس پیل کړئ، الله تعالی مو خپل مقدس هدف ته ورسوه، کامیابې او سرلوړې مو غواړم. مننه ۱۸\۲\۲۰۱۲

ستاسو شهادت:

سلامونه او نیکې هیلې مې ومنئ! محترم مجاهدصیب یو وخت رسنیوکې داسې خبرونه نشر شول چې مجاهد صیب شهید شوی، نو که په دې اړه څه معلومات راکړئ! والسلام عبدالرقیب

ځواب ـ هو ماهم همداسې اوازې واوریدې او دښمن تل هڅه کوي چې د ملګرو د شهادت په اړه ناسم او تبلیغاتي راپورونه خپاره کړي، خو زه لله الحمد روغ یم اوتاسوته د خپل صحت او روغیتاپه اړه ډاډ درکوم. محترمه شهادت زموږ د مبارزې ډیره مهمه برخه ده، زموږ ډیر مشران شهیدان شول او همدا کاروان لا روان دی، شهادت زموږ لپاره ویاړ دی، موږ د شهادت دعاء او تمنی کوو. د الله تعالی د لارې مبارزه کې د نیوي ژوند هم خیر دی او شهادت هم لوی انعام دی. مننه ۱۱/۳/۲۰۱۲م

ستاسو لیدل:

ګرانه وروره محترم ذبیح الله مجاهد صاحب السلام و علیکم و رحمة الله و برکاته!

زه نور ستاسو وخت نه نیسم، فقط یوه وعده راسره وکړئ هغه داچې کله چې له خیره سره اسلامي حکومت قایم شو، نو زه غواړم چې تاسو و وینم، زه ستاسو د لیدو په ارمان یم، ستاسو هر ځواب چې مې ستاسوپه سایت کې لیدلی دی، د اسلامي مینې نه ډکه دی او زما دغه ارمان دی چې تاسو یو ځل ووینم نو دا وعده به راسره کوئ زه د مزار شریف اوسیدونکی یم

ځواب ــ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! وروره، کله چې امنتي ستونزې رفع شي، نو ان شأءالله زه له ټولو هیواد والوسره وعده کوم که ژوندی وم، حتما به له تاسو ټولو سره ګورم او په خدمت کې به مویم، خو باید تاسو ټول دُعاء وکړئ چې الله پاک

مو هیواد له یرغله خلاص کړي چې د امن او وروری په فضاکې ټول افغانان یوله بل سره و وینو. مننه ۲۰۱۲\۲\۱۸م

ستاسو شخصي ژوند:

محترم مجاهد صیب السلام علیکم ! که اجازه وي ستاسو د شخصي ژوند په اړه څو پوښتنې کوم که راته ځواب یې کړئ. صفی الله افغانیار یم

۱ - څو کاله عمر لرئ؟

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

متوسط عمر لرم چې د امنیتي مشکلاتو له وجهې یې دقیقا نشم ښودلای.

۲ - مجرد یاست که متاهل؟

ځواب ـ متاهل یم

۳ – د ژوند ترټولو ستره ارمان مو څه دی؟

ځواب ـ د ژوند ترټولو ستر ارمان مې د هیواد بشپړه ازادي او په هیوادکې یو سوچه اسلامي حاکمیت لیدل دي.

۴ – د خوښې وړ خوراک مو کوم دی؟

ځواب ـ مهمه نه ده هرڅه چې وي د الله تعالی نعمتونه دي او شکرپرې باسم.

۵ - که امریکایانو په افغانستان برید نه وای کړی نو ستاسو د خوښې مصروفیت به څه وو؟

ځواب ـ که امریکایانو په افغانستان برید نه وای کړای، نو ان شاءالله ما به د هیواد بچیانو ته په تعلمي برخه کې خدمت کولای.

٦ - زه چې څومره تجربه لرم له خبريالانو سره ستاسو چلند ډير دوستانه او د درنښت په چوکات کې دی.؟

ځواب ـ اګرکه ستاسو پوښتنه بشپړه شوې نه ده خو د پورته ټکو په اړه دومره ویلای شم چې هو زما چلند به له هرچاسره د درنښت په چوکاټ کې وي او غواړم چې له ژورنالستانوسره دوستانه او صمیمانه تعامل ولرم او دا زموږ لپاره اسلامي لارښونې هم دې الله تعالی دې لاهم توفیق راکړي. ۱۷/۲/۲۰۱۲م

ذبیح الله مجاهد ونیول شو:

محترم مجاهد صاحب د اسلام د سپیڅلي دین د حاکمیت لپاره ستاسي سلامتي اوکامراني غواړو، تر لمر روښانه ده چې مجاهدینو د الله جل جلاله په نصرت سره دښمن ته په هرډګرکې ماته ورکړې، د دنیاهغه ظالم اوجابرقوت چې ټوله نړۍ ورته د رکوع په حالت کې ولاړه ده د مجاهدینوصبر، استقامت اوپه یوه الله ج توکل دې ته مجبوره کړې چې په ډیرذلت له دې پاکې خاورې پښې سپکې کړي.

الحمدلله مجاهدینوپه ډیرو کمو اسبابوله دښمن څخه د رسنیوجنګ هم ګټلی، دانوې سلسله چې تاسو د سوال اوځواب په ډول شروع کړې دا ډیره په زړه پورې اود دښمن د ډیرودروغواوچټیاتومخه نیولی شي اوله خپل ولس اوملت سره د رابطې بهترینه ذریعه ده، غواړم چې له تاسوسرهداموضوع شریکه کړم کومه چې څه باندې دوه میاشتې مخکې د پکتیکا والي محب الله صمیم د رسنیوله لارې دا اعلان وکړ چې د پکتیکاولایت د سرحوضې والسوالۍ کې د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهدونیول شو، خوحقیقت دادی چې کوم کس دولت اسیرکړی هغه د سرحوضې ولسوالۍ د موسی خیلو د کلي د مکتب سرمعلم ګلبدین نامی دی، خود پکتیکا والي هغومره له حیا خلاص دی چې خپل دولتي مامور د طالبانود

ویاندپه صفت دنیاته وړاندې کوي، ترڅوپه دې طریقه یوځه ډالـرلاس تـه راوړي، محترم مجاهدصاحب د دې موضوع په ارتبـاط تاسـوڅه نظـر لـرئ، ځکـه چـې د ګلبدین برخلیګ لانه ده څرګند، نور مو په لوی اومتعال خدای جل جلاله سپارم. والسلام محمد د پکتیکاولایت اوسیدونکی

ځوابـ وعلیکم السلام! محترم محمد ورورہ ستاسو له نیک احساس نه یوه نـړۍ مننه، دا چې د پکتیکا په ولایت کې د کابل اداري چارواکو دوه میا شتې وړاندې کومـه خبره زما د نیولو په اړه کړې وه، هغه خو داده سوچه دروغ وه او په عادي خلکو بانـدې د بیلا بیلو شخصي خصومتونو په بنیاد داسې نومونه کیښـودل کیـږي چـې هغـه کـس د یرغلګرو او رژیم کرغیړنو زندانونو ته واچوي، زه هیله لرم چې الله پـاک بـه هغـه کـس چې زما په نامه دوی زندان ته اچولی، ژر راخلاص او له خپلې کورنۍ سره یوځای شي، او زموږ د ملت قسم خوړلي دښمنان او حرفوي غلامان دې الله پاک نور هـم روسـوا او ذلیل لري. مننه ۱۶\۲\۲۰۱۲م

د شهیدانو سپکاوی:

پوښتنه مـې داده هغـه ویـډیو چـې د امریکایـانو لخـوا افغـاني شـهیدانوته سپکاوی پکې شوی و اود شهیدانوپه جسـدونوباندې د دغوځنـاورانو لخوامتیـازې وشوې، داعمل د افغانستان د ولس مشر کرزي لخوا پـه کلکـه وغنـدل شـواوهم د افغانستان پارلمان داعمل وغانده اوهم ټولو افغانـانو داعمـل د نـه بخښـلو وړ عمـل وباله،خو چې کله له تاسونه پوښتنه شـوې وه تاسـوفقط دومـره ویـلي و، چـې داد سولې په روانو خبرومنفي اثرنه کوي، ایاسوله دمره مهمه ده چې د خپلو شـهیدانو قدردانې هـم ونشي ـ اود یرغلګـرو عمـل هـم ونـه غنـدل شي، سـتادې خـبرې پـه ټولوافغانانو کې ډیر منفي اثرکړی اوکه ته وایې چې دامې نه دې ویلي دا له عقلـه لرې خبره ځکه ده چې خبري رسنۍ چـې کومـه خـبره کـوي، یومـدرک حتمـي

لري، ماله ډېروخلکوسره په دې بحث کړی چې داسې نه دي ویل شوي، هغوی قناعت نه دی کړی که لطفا تر ټولو ځوابونو مخکې د دې توضیح وکړئ چې ولې دې داسې وکړل، ولې دې د امارت له اعلامیې مخالفت وکړ چې په هغه اعلامیه کې هم داعمل غندل شوی و اوکه ته ځان ته اوامارت ځان ته دریځ لرئ هغه هم بایدستاسوپه خپل سایټ کې راته واضح کړئ؟ والسلام ـ محمد یاسین

ځوابـ د محترم ورور یاسین په ځواب کې باید ووایم چې لومړی خو زه د افغانستان اسلامي امارت ویاند یم او د یوه مامور په توګه خپله دنده ترهغو چې راته اجازه وي پرمخ وړم او په دې لاره کې خدای مکړه خپل ځانته کوم جلا دریځ نه لرم، دا چې د هغې ویډیو په اړه د اسلامي امارت دریځ څه و او ما رسنیو ته څه ویلي و او بیا یوې رسنۍ چې د ګڼو نورو مغرضو رسنیو لپاره هم مأخذ وګرځیده هغې څه خپاره کړل په لاندې ډول ټول جریان تاسو ته تشریح کوم:

۱ـ د هغې ویډیو په اړه د اسلامي امارت دریځ دا و چې دا عمل په کلکه غندل شوی و، یو غیراخلاقي او غیر انساني عمل بلل شوی و او د اوحشیانه عمل د یرغلګرو د اصلي څیرې د هندارې په توګه نړیوالوته په ګوته شوی و چې هغه اعلامیه تاسو او ټولو لوستونکو لیدلې ده.

۲ـ زما دنده هم دغه وه چې دغه اعلامیه رسنیو ته په واک کې ورکړم او ما هغه ورځ دا کار وکړ.

۳ـ کله چې د رویټرز اژانس لخوا په دې اړه له مانه پوښتنه وشوه نو ما هغه ټکي ورته وویل چې زموږ په اعلامیه کې راغلي وو، هغه دا چې داپیښه په کلکه غندل شوي وه او...... خو د رویټرز د کابل د دفتر د یوه کارکونکي میرویس لخوا متصله پوښتنه وشوه چې دغه پیښه به په قطرکې د سولې په خبرو څه تأثیر ولري؟

ما په ځواب کې ورته وويل چې په قطرکې اسلامي امارت تراوسه له چاسره د سولې په اړه خبرې نه دې پیل کړې چې دا پېښه دې تأثیر پرې ولري، هلته صرف د بندیانو د تبادلې اودفتر د پرانیستو په اړه خبرې شوې دي نه د سولې په اړه، خودوی ناځوانانو خبره داسې تعبیرکړه چې ګویاخبرې روانې دي او دا پېښه به تاثیر وربانديې ونه کړي.

زما له پورته ذکر شوي ځواب نه په لومړي سر کې رویټرز بیا نورو یوشمیر مغرضو رسنیو هغه سرچپه بابولاله جوړه کړه چې تاسو او ګڼ هیوادوال یې متأثره کړي دي، دلته باید یادونه وکړو چې ګڼ شمیر رسنۍ شته چې د بهرنیو استخباراتي کړیو لپاره فعالیت کوي او کوښښ کوي، چې هره خبره داسې تعبیرکړي چې د خپل هیواد یا مربوطه استخباراتي ارګانونو غوښتنې پکې پوره شي، په دې سلسله کې د رویټرز اژانس لخوا دا پنځم ځل و چې داسي غلط اومحرف خبرونه یې زموږ په اړه جوړول او خپرول، موږ د همدې موضوع او نورو موضوعاتو په اړه په رسمي توګه رویټرز اژانس ته دوه ځله اعتراض وکړ چې د دې پیښې په اړه یې بښنه او معذرت وغوښت او په راتلونکي کې یې د داسې نه کولو وعده وکړه.

نو هیله ده چې زموږ ټول هیوادوال په خاص ډول یاسین ورور دې ټکي ته متوجه وي چې له یوې اویا دوورسنیو پرته نورې رسنۍ اوس اجازه نلري چې زموږ غږ واخلي، بي بي سي کله ناکله زموږ غږ په لنډه توګه اخلي چې مهمې خبرې ترې حذف شوې وي، زیاتره رسنۍ زموږ غږ په مستقیم ډول نه اخلي چې زموږ هغه الفاظ چې رسنیو ته یې وایو تاسو هم واورئ، نو په دغه ډول یو طرفه سانسور کې داسې مسائل پیښیږي، ځکه زموږ غږ او دریځ د رسنیو لخوا تعبیریږي، نو په داسې حال کې خو بیا هره نو عه تحریف پکې ممکن دی. هیله ده چې د زړه هغه درد او غم چې له دې ناحې نه ټولو هیوادوالو ته رسیدلی وي بیرته په خوشحالۍ بدل شي او هغه دښمنان مو دې الله خوار لري چې د مسلمانانو د زړونو دردول او غمجن کول غواړي. مننه

ستاسو څخه د پوښتونو په اړه:

مجاهد صاحب کله چې پوښتنې ستاسي په ګټه وي، نو ښه خبره وي، ولې کومې پوښتنې چې واقيعيت لري، د هغه له ځوابولو نه ډډه کوئ، تاسې هر ډول پوښتنو ته بايد ځوابونه ورکړئ که چيرته تاسې ملامت نه ياستئ. صابري

ځواب ــ تاسو داسې کومه بيلګه نه ده ښودلې چې موږ کله او کوم سوال ته ځواب نه دی ويلی، بل بايد داهم روښانه کړم چې هغه سوالونه چې ځوابول يي زموږ د ملي ګټو، يووالي او ارضي تماميت په خلاف معنی ولري حساسيتونه راپاروي، د اختلافونو اورته د لمن وهلوپه معنی وي، يا زموږ د ديني روايـاتو خلاف وي طبعا يي موږ له ځوابولو ډډه کوو او کله خو له هغو سوالونو له ځوابولو هم تيريږو چې مخکې مو دې لړۍ کې ځواب کړي وي. ۲۰۱۲|۳|۲م

د پيښو د مسئوليت په تړاو:

السلام عليکم! له مجاهد صاحب نه دا پوښتنه کوم چې ډير خلک دا ګومان کوي چې ستاسوهمکارانو کار نه وي کړي، تاسو يې مسئوليت اخلئ داځنکه حساب دی. والسلام عيسی محمد له کندهار څخه

ځواب ــ وعليکم السلام! خلک خو به هر قسم ګومانونه کوي خو هغه شی چې اعتبار لري او ارزښت ورکول کيږی هغه واقعيتونه دي، ستاسو د پوښتنې په ځواب کې بايد دومره ووايم چې د افغانستان اسلامي امارت لخوا د فرهنګی چارو د کميسيون په چوکاټ کې د ويندويانو لپاره ځانګړی طرزالعمل موجود دی چې هيڅوک نشي- کولای په غلطه سره ويندوی ته راپور ورکړي او يايې خدای مکړه ويندوی په غير واقعي توګه د رسنيو په واک کې ورکړي، زموږ د طرزالعمل يوه مهمه برخه داده چې موږ د هرې پيښې په اړه د پيښې دقيق ځای، وخت او نوعيت د رسنيو په واک کې

ورکوو، نو که څوک زموږ لخوا د راپورونو په اړه کومه اشتباه ولري کـولای شي ورسـته زموږ له خبر ورکولو نه هغې سیمې ته ولاړ شي، هغه پیښه پخپلـه لـه نیـږدې وګـوري او ځان ډاډه کړي، نو بناء زه ښاغلي عیسی محمـد ورور تـه ډاډ ورکـوم چـې ترهغـه ځایـه چې ترموږ پورې اړه لري هیڅ پیښه به هم چې واقعیت ونـه لـري درسـنیو پـه واک کـې ورنه کړل شي. مننه

و اخردعوانا ان الحمدلله رب العلمین

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویاند

۱۴۴۱/۶/۱۳هـ ق

* * *

دا کتاب کولای شي د راتلونکو مسلمانو نسلونو لپاره د مبارزې درس هم شي، ځکه مبارزه ډیر اړخونه احتوا کوي، تنها د دښمن په وړاندې د ټوپک چلولو موضوع نه ده، بلکې په ځانګړي ډول زموږ په زمانه کې اسلامي مبارزه او د هیواد د ازادی جهاد ډیره پراخه ساحه په بر کې نیسي، سیاسي حالت، ټولنیزې غوښتنې، له خلکو سره د تعامل څرنګوالی، د جګړې د فعلي شکل او نوعیت له امله د ملکي خلکو متضرر کیدل او د هغو مخنیوی، له مشکلاتو ډک جهادي جریان کې له نیږدې او لیرې هیوادونو سره د اړیکو څرنګوالی، د خپل ځان په مقابل کې د دښمنانو د کمولو پالیسي چې هدف ته لاره آسانه شي، د خپل صف وحدت ساتل، مجاهدینو ته انګیزه ورکول او د هغو د اعمالو او چلند څارنه، د مبارزو ځوانانو معلوماتو ته ارتقاء ورکول دا ټول هغه شیان دي چې باید یو اسلامي غورځنګ او جهادي بهیر یې مراعات کړي.

ذبیح الله مجاهد

د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنګي چارو کمېسیون
د تالیف او ترجمې څانګه